د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت

# کابل

## په دې گڼه کې:

- د پښتو متلونو اوسنی اوښتی حالت
- سپین شعر د هنر سرلاری ځېل
- د ادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې
- پښتو سل کاله وړاندې څنګه رسنیزه شوه؟
- د غني خان د شاعری لفظي موسیقی ته لنډه کتنه
- د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د راټولو اړتیا
- او نور...



۳-۴

- میاشتنی
- دریمه دوره
- کال: ۱۳۹۶ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۳۹۶ لمریز کال، ۳-۴ مه گڼه

# KABUL

## Monthly Journal

Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science

Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279- 0796650658

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي**

**معاونیت بخش علوم بشری**

**مرکز زبانها و ادبیات**

**د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت**

# کابل

**څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله**

**د تاسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز**

**ګڼه: ۳-۴**

## یادونه:

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلیفون شمېره او برېښلیک پته وي د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او اخځونو لرونکې وي او په متن کې اخځلیک ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنوال عبدالظاهر شکېب

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**ډیزاین:** سیدي

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان سړک

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۹۶٦٦۵۰٦۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه: ۸۰ افغانۍ

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ

| شمېره سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|


۱- د پښتو متلونو اوسنی اوښتی.............پوهنمل محمد داوود وفا...............۱

۲- د غني خان د شاعری لفظي.............څېړنوال عبدالظاهر شکېب..........۱۷

۳- پښتون مجله د پښتنو د ویښتا...........ډاکټر عزیزالله جبارخېل...............۳۴

۴- د پښتو ژبې د ستر شاعر اشرف.........پوهنیار مریم مهان.....................۴۷

۵- پښتو سل کاله وړاندې څنگه..........داود جنبش.............................۵۹

٦- د مثنوي معنوي تحلیل او تجزیه..........ژ/ احمد سلیم رنگ....................۷۰

۷- د نثر د پوخوالي لارې چارې.............پوهنیار فهیم بهیر......................۸٦

۸- د ادب او ژورنالیزم ترمنځ..............پوهنیارشفیق الله رحماني.........۱۰۲

۹- د فولکلور او شفاهي ادبیاتو..............څېړندویه خاطره شینوارې.........۱۱۴

۱۰- د څېړنې او پنځونې د لوړتیا..............پوهنیارسید اصغر هاشمي.........۱۲۲

۱۱- سپین شعر د هنر سرلاری...............پوهاند ډاکتر م.ا.زیار..............۱۳۳

۱۲- مناقب غوث الاعظم او التحقة..........څېړنوال م.آصف احمدزی..........۱۴۹

پوهنمل محمد داود وفا

# دپښتو متلونو اوسنی اوښتی حالت

**لنډیز:**

په دې مقاله کې هغه پښتو متلونه څېړل شوي او په نښه شوي، چې اوس یې تعبیرونه سرچپه دي. زموږ پخوانیو ګڼ پښتو متلونه ویلي، چې ځینې یې اوس د پېښو پروخت په سرچپه یا اوښتې بڼه تعبیرېدی شي. دغه ډول متلونه ښوول شوي، چې ولې یې تعبیرونه سرچپه دي؟ دا د پښتو متلونو په اړه نوې څېړنه ده، پخوا پر دې موضوع کار نه دی شوی.

متلونه د پښتو ژبې د شفاهي ادب( فوکلور) یو مهم باب دی، چې ټول خواره واره پښتانه یې د خبرو په وخت کاروي او پېژني یې.

**سریزه:**

متلونه دپښتو ژبې سوچه عبارتونه ، کلیمې او جملې دي، چې هرکله دخبرو داستناد په ډول کارېږي. متلونه دجرګو – مرکو، خبرو، پېښو، ویناوو او په بېلابېلو نورو وختونو کې پښتانه کاروي، چې طبعا هرکله دوینا پروخت وي.

متلونه ددې لپاره دي، چې یوه پېښه تربحث لاندې وي اودهغې دښې تشرېح او راسپړنې لپاره وینا کوونکی دزبات او اثبات په دود یو متل، یا متلونه په کې وايي. دمتل ویونکي هدف داوي، چې خپل اورېدونکی یا اورېدونکي ښه پوه کړای

شي. داسې ډېرې کيسې او مسئلې شته ، چې دوينا وال لـه خـوا يـوازې ديـوه متل په کارونې مقابل لورى په پوره توگه پوهوي او کله خو لا بيا په کې دنورو اضافي خبرو اړتيا هم نه وي.

متل دپښتو فوکلور ديوه جز په توگه دمطالعې وړ دی. فوکلور دخلکـو پـوهې او احساساتو ته وايي او افغان ټولنه چې اکثريت يې بې سواده ولسي۔ خلـک جـوړوي، دفوکلور په توليد او پراختيا کې لويه ونډه لري. که څه هم عام ولسي۔ خلـک پـه دې نه دي پوه ، چې فوکلور څه ارزښت لري او دساتنې لپاره يې بايد کومې چارې ترسره شي، دوی يوازې پـه خـبرو کـې او دپيښـو پروخـت فوکلـور توليـدوي، خـو دا فوکلـور څېړونکـي دي، چـې ددوی وينـاوې چوکـاټ بنـدي کـوي ، ارزښـتونه يـې راښـيي او دساتنې لپاره يې لارې چارې وړانديزوي.

**د څېړنې ارزښت او اړتيا:**

په پښتو متلونو کې گڼ داسې په مخـه راځـي، چـې پـه اوښـتي ( سرچپـه) بڼـه تعبيرېدی شي. تراوسه پردې موضوع څېړنه نه ده شوې، ځکه نو د ژبو او ادبيـاتو زده کوونکو او ځوانو څېړونکو ته د متلونو ددې برخې راسپړل او څرگندول يـوه اړتيـا بلـل کېدی شي.

متلونه د پښتو فوکلور يوه مهمـه برخـه ده، چـې زمـوږ د مشرـانو او لويـانو افکـار څرگندوي، په دې توگه دا ارزښتمنه مسله ده چې څېړنه پرې وشي. نه يوازې پر دې موضوع؛ بلکې متلونه بېلابېل نور مثبت اړخونه هم لري، چـې هرکلـه بايـد د څېړنـې لپاره وټاکل شي.

**دڅېړنې هدفونه:**

متلونه د پښتو ولسي ادب د جز په توگه د مطالعې وړ دي، ولسي۔ ادب پـه ژبـو او ادبياتو پوهنځيو کې لوستل کيـږي، د متلونـو هـر اړخيـزه څېړنـه د پوهنتونونـو او اکاډميکو مرکزونو په دندو کې گڼـل کيـږي. پښـتو متلونـه د تطبيـق لـه پلـوه څېـړل شوي او راټول شوي، خو د نه تطبيق له پلوه بيا نه دي راټـول شـوي، ځکـه نـو دا پـه پښتو متلونو کې د يوه بل اړخ څېړل دي، چې بايد ترسره شوي وای. پـه دې سره بـه د ژبـو او ادبيـاتو پوهنځيـو محصـلينو او اسـتادانو تـه نـوي مـواد پـه لاس ورشي او د څېړنې لپاره به يې هم پام ډېر شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱.متلونه څه دي او ارزښت يې څه دی؟

۲.پښتو متلونه په سرچپه يا اوښتې بڼه هم تعبيريدی شي؟

۳.ولې په اوښتې بڼه پښتو متلونه څېړو او بحث پرې کوو؟

۴.د متلونو د راټولولو او ساتلو لپاره څه بايد وکړو؟

**د څېړنې روش:**

په دې مقاله کې راټول شوي متلونه له ځينو کتابونو او عامو ولسيـ خلکو له خولې راټول شوي. ددې ليکنې بڼه او کړنلاره ۳۰ فيصده کتابتوني او ۷۰ فيصده ساحوي ده. په سيمو کې له بېلابېلو خلکو سره د مرکو له لارې متلونه ترلاسه شوي او هم له ځايي خلکو سره مرکې شوي، چې دوی دا ډول متلونه څنګه انګيري او په تطبيق کې يې څه وايي؟

## د پښتو متلونو اوسنی بڼې او اوښتي حالتونه

متلونه ، په منظومه او منثوره بڼه شته ، چې دلته به په دغه موضوع کې دواړه ډوله بيلګې په نښه شي.

دمتلونو دپيل وخت څرګند نه دی ، داځکه ، چې پښتون ولس پينځه زره کلن معلوم او پنځوس زره کلن ورک تاريخ لري او دغه ډول ژبني نوښتونه طبعا ددوی له پيدايښته ورسره مله دي او څوک نه شي کولی ووايي، دمتلونو دکارونې دپيل دقيق وخت کوم دی ؟ نه يوازې متلونه بلکې دپښتو فوکلور ګڼ نور ژانرونه هم دپيل دقيق وخت نه لري، نو ځکه دا ويلی شو، چې له کله نه دارياڼا په تاريخي ځمکه پښتانه هست شوي، متلونه ورسره سم ايجاد شوي دي.

متلونه يوازې په پښتو نه بلکې په دري ، عربي ، انګليسي او نورو ژبو کې هم شته. دهرې ژبې خپل خپل چاپېريال وي ، دويونکو يې خپل خپل دودونه او رواجونه وي، په دې وجه ځينې متلونه يوازې دهماغه ژبې په ويونکو پورې تړاو لري او مانا يې هم په هماغه ژبه کې ښه او پوره څرګندېدای شي، خو دځينو ژبو متلونه نورو ژبو ته هم ورغلي ، پښتو ژبه هم له نږدې او ليرو ژبو سره بېلابېل ډوله اړيکي موندلي او وخت په وخت ورته دځينو نورو ژبو متلونه هم راننوتي او يا ژباړل شوي. که څه هم چې ځينې وخت ژباړلي توکي دزيږې ژبې له املـه څرګندېدی شي، خو

ځینې بیا دپښتو ژبې په عبارتونو او ترکیبونـو کـې داسـې سره ګډ شـوي، چـې دچا خبره هډو پته یې نه لګي، چې داژباړه ده او کنه ؟ نو موږ په دې توګه ویلی شو، چې په پښتو ژبه کې ځینې متلونه دنورو ژبو دي او په اړه یې باید څېړنې وشي.

یوه خبره چې باید پام ورته وکړو ، هغه داده ، چې پښتو ژبه غني فوکلـور لـري ، داځکه ، چې دپښتنو تقریبـا څلویښـت میلـوني ټولنـه ، چـې څـه بانـدې ۱۲۰ کالـه وړاندې د انګلیسي استعمار په مخامخ لاسوهنه او غوښتنه دډیورنډ کرښې په وسـیله بېله کړای شوې ، تر پرونه پورې دسواد له نعمته محرومه وه، یا محرومه ساتل شـوې، او فوکلور په هغو ټولنو کې ډېره وده مومي، چې سواد او مدنیت په کې عام شوی نـه وي. له دې امله ده ، چې دپښتو په شان غني فوکلور چې متلونه یې هم دیوه جز پـه توګه دمطالعې ځای لري ـ په نورو ګاونډیو یا خویندو او یا هم سیمه ییزو ژبو کـې نـه دی لیدل شوی. دا که څه هم له یوه پلوه دپښتو ژبې او پښتنو نا مـدنیتوب راښـیي، نو له بلې خوا ددغه ژبې دا غني فوکلور د ویاړ وړ هم دی ، ځکه ، چې زمـوږ دژبـې ، قام ، سیمې او وطن په باب بېلابېلې تاریخي، روزنیزې او بوختوونکې پېښـې راښـیي او پرموږ لازمه ده ، چې دخپل فوکلور دژغورنې په کار کې باید په پوره ډول دلچسپي واخلو.

اوس – اوس په پښتو متلونو کې داسې هم شته، چې ویل او لیکل یـې معمـول دي اما په ژوندنیو چارو کې نه تطبیقیږي، لکه دا چې موږ یـو متـل کـوو: « دغلـه پـه ږیره خس وي » مانا دا چې غل له ورایـه څرګندېـدی شي، لـه خـبرو ، لـه عمـل ، لـه څېرې له کاره معلـومیږي، چـې غـل څـوک دی ، دا متـل کـه څـه هـم ربښـتیا دی او هرکله یې موږ کـاروو، خـو لـه بلـې خـوا ډېـر خلـک دامتـل پېـژني، پـه مانـا یـې هـم پوهیږي، خو په ټولنه کې تطبیق شوی نه دی. په دې لنډه لیکنه کې به زیاتره دغـه موضوع تربحث لاندې راشي.

## متلونه او دکارونې تطبیقي برخه یې:

متلونه موږ هرکله کاروو، دخبرو پروخت ، دجرګو مرکـو او پېښـو پروخـت. اکـثره متلونه یوه پخوانۍ کیسه لري، چې له امله یې متل ایجاد شوی وي. دځینو پـه بـاب لا ویلی شو، چې دقیقه او کره کیسه یې دچا په یاد نه ده. که وي هم نـو وروسـته بـه

ورته په فرضي توګه جوړې شوې وي. البته دا نظر دټولو متلونو په باب نـه دی ، یوازې ځینې یې دا ور ګڼلی شو.

که څه هم په خبرو کې داستناد او زبات لپاره متلونه کارول یو ضرورت ، عـادت او دود دی ، خو ځینې متلونه بیا داسې هم شته ، چې متـل معقـول وي، کیسـه یـې هم په زړه پورې وي  او دکارونې ځای یې هم سم وي، خو په ټولنـه کـې دتطبیـق وړ نه وي.

په دې توګه ، چې دټولنې په خلکو کې دژوند او چاپیریال له پلوه تطبیقـي اړخ نه لري ، یا یې خلک په عمل کې نه مني ، یوازې په خبرو کې یې وایي.

ځینې دا متلونه به ښایي، د اوسـني وخـت د شرایطـو زېږنـده وي. دبیلګـې پـه توګه ، زموږ پښـتني ټولنـه ، چـې لـه ۳۵کلونـو راهیسـې جګړوځپلـې ، خپـل اصـیل ارزښتونه یې له منځه تللي ، رښتینولي ، صداقت ، مینه ، تګ و راتګ په کې عـام و ، منافقت پخوا دومره باب نه و، لکه اوس، په دغو کې مدني پرمختګونه هـم رول لـري. ټیلفون، سړک ، انټرنیټ ، فیسبوک ، ایمیل ، انټرنیټي سایټونه ، ازادې رسنۍ ، موټر او نور د اوسني مادي ژوند وسـایل، چـې زمـوږ هېـواد تـه تـر بـل هـر هېـواد وروسـته راغلي، بیا هم دجګړو له امله په ناسمه توګه کارول کېږي.

یعنې جګړه ده ، چې موږ یې له امله خپل افغاني  ارزښتونه ترپښو لاندې کـړي او یوازې دپیسو ګټلو کار ته مو پام ډېر کړی، دې ته نه ګورو ، چې پیسـې پـه حلالـو لارو ترلاسه کوو، که په حرامو؟ په معقولو لارو ، که په نامعقولو لارو؟

نو دلته ده ، چې کله موږ متلونه په ناسمه توګه هم کاروو او ځینې دا متلونه پـه ناسمه توګه اوښتي. دلته به دویم مثـال هـم ورکـړو. مـثلا وایـو، (سـل دې ومـره خـو دسلو سر نه). دلته مانا داده ، چې دهغه مشر په مړه کېدو یـا وژل کېـدو لـه سـتونزو سره مخ کېږو، چې واقعا ملي مشر وي، ملت او ولس ورته ارزښـت لـري، دوطـن مـلي مسایل ورته تر بل هرڅه ګران وي او ورتـه ګڼـې نـوري خـبرې. خـو اوس زمـوږ ټولنـه داسې نه ده ، ځکه ، چې ډېر کله مو مشران وژل شوي، خو موږ یې پروا نه ده کړې ، دسلو سر مو له منځه تللی ، دمتل په مصداق ، زیان مو هم لیدلی ، خـو پـروا مـو نـه ده کړې، یعنې په ژوند کې مو دې خبرې ته ارزښت نه دی ورکړی، چې دسـلو سرمـو دې نه مري ، ولو که سل کسه ځوانان مو له منځه لاړشي. زموږ ټولنه اوس عمـلا دې

ته چمتو نه ده ، چې دوی دې نه وي، خو دسلو سر دې وي. یوه ستونزه بله هم ده ، هغه داده ، چې ایا موږ په رښتیا هم همداسې یو دسلو سر لرو؟ دا به هغه خبرې وي، چې دټولنې عام خلک به پرموږ نیوکه کوي، چې گیله مو پرځای ده ، خو کومه دی ، دغه ډول یو مشر ، چې موږ ته دې یې دومره څه کړي، وي، چې موږ یې دسلو دسر په توگه ولمانځو!؟

دا ډول اندېښنې هم پرځای دي او باید ځواب یې ومومو.

## منظوم متلونه او تطبیقي اړخونه یې:

متلونه په لوی سر کې په دوو بېو وېشل شوي. منظوم او منثور. سره له دې چې زما له انده په پښتو کې داسې متلونه هم شته ، چې نه منظوم دي او نه منثور ، بلکې ددغو دواړو یو گډوله بڼه رانښيي، خو پردغې مسلې څېړنه زموږ له موضوع نه بهر ده ، زه باید دلته یوازې تطبیقي برخه یاده کړم.

منظوم متلونه هم دمنثورو په شان په پښتو ژبه کې دود دي. ولسي۔ خلک یې دمنثورو هغو غوندې کاروي. دلته به یوازې ځینې هغه متلونه یاد کړو، چې زموږ له موضوع سره اړخ لگوي:

## ۱.انسان تابع داحسان دی:

دامتل به ډېرو ځایونو کې خپل ارزښت ولري، خو اوس زموږ په ټولنه کې داسې هم کیږي، چې کله یو کس له بل کس سره نیکي وکړي، بیا یې هم احسان نه مني او دچا خبره احسان فراموشه وي. (۱)

موږ په خپله ټولنه کې گڼ داسې موارد لرو او زه خو وایم، چې هر انسان به په خپل عمر کې یو ځل ضرور داسې نیکي کړې وي، چې بیا به یې په وړاندې منفي غبرگون لیدلی وي. زموږ په ټولنه کې داسې ډېرې پېښې شته او شوي، چې یو چا له چاسره نیکي کړې ، خو بیرته پرې پښېمانه شوی او ددې دلیل دادی ، چې اړوند شخص بیا ددغه نیکۍ مسله له یاده باسلې. یو بل متل دی ، وایي: له پلاني سره نیکي وکړه او سین ته یې واچوه! ددې مطلب دادی ، چې له پلاني کس سره نیکي کول مناسب نه دي. نوپه ځینو ځایونو کې دا متل اکثره وخت سرچپه راوځي.

## ۲.اوګره چې سړېږي بلا پرې لګېږي!

دامتـل هـم پـه اکـثره ځـایونو کـې داسـتعمال مـورد لـري، خـو پـه ځینـو ځـایونو کـې بیـا سرچپـه هـم راځـي. مـثلا کـه دامتـل څـوک دافغانسـتان پـه اوسـني سـیاسي بهیـر کـې وکـاروي، نـو بایـد ووایـي، چـې دهېـواد د ودې او پرمختـګ مسـله ، دقـانون دتطبیـق مسـله ، خلکـو تـه دعـدالت دتـامین او لاسرسي مسـله بایـد ناوختـه نـه شي، خـو مـوږ وینـو، چـې اوس اوس داټـولې مسـلې ناوختـه شـوي، خـو نـه پـه اړونـده سـیاسي خـواوو څـه وشـول او نـه پـه خلکـو. نـو معلومـه شـوه ، چـې دامتـل هـم پـه ځینـو ځـایونو کې پـه سرچپـه ډول تعبیرېدی شي.

## ۳.اول ځان - پسې جهان:

دامتـل چـې (اول ځـان پسـې جهـان) اکـثرا هغـه وخـت کـارول کیـږي، چـې دیـوې سـتونزمنې ، یابـدې پېښـې پـر وخـت یـو څـوک ووایـي، چـې پلانـی کـار ، چـې مهـم دی ، هغـه وخـت ممکـن دی ، چـې زمـا دسر حیـات ، یـا بلـه مسـله... پـه دې توګـه تـامین شي، خـو مـوږ اوس دافغانسـتان سـیاسي حـالات او پـه تېـره دوسـله والـو مخـالفینو تحریـک ګـورو ، چـې دوی ځـانمرګي بریدونـه کـوي ، پـه ځـان پـورې واسـکټ تـړي ، مګـر دا ورتـه مطـرح نـه ده ، چـې اول ځـان پسـې جهـان. ځـانمرګي د نـورو خلکـو ژونـد ژغـوري (؟) خـو پـه خپلـه هیڅکلـه دا نـه وایي، چې اول ځان پسې جهان.

## ۴.په ژرنده کې دې شپه شه ، له زوم کره دې مه شه !

دا متـل خـو اصـلا دزوم دنـاوړې وضـعې پـه اړه دی. کېـدی شي، چـې چیرتـه کومـه خواښـې یـا خسرـ لـه کـوم زوم کـره ورغلـی وي او قـدر بـه یـې ورتـه نـه وي کـړی ، نـو خواښـې یـا خسرـ دزړه لـه سوزه دا متـل کـړی. (۲) داخـبره بـه کلـه سـمه وي، چـې د زوم لـه شـپې نـه د ژرنـدې شـپه ښـه ده.خـو دا متـل سرچپـه کېـدی هـم شي او هغـه پـه دې توګـه چـې ډېـر زومـان پېژنـو، چـې دخواښـې او خسرـ او پـه مجمـوع کـې دټـولې خسرـګنۍ ډېـر احـترام سـاتي.ددې مانـا دا کېدی شي، چې دامتل هرکله دمنلو وړ نه شي کېدی.

## ۵.ځوک مه وهه په ګوته ـ تا به نه ولي په ګټه (۳)

دا متل عموما هغه وخت ویل کیږي، چې کله چاته دنصیحت په بڼه بل ته د ضرر نه رسولو خبره کیږي، خو دافغانستان اوسني شرایط که په نظر کې ونیسو، نو دا متل سم نه دی. مثلا افغانانو چاته ضرر نه دی رسولی، خو دوی ته رسول کیږي، لکه دا چې هم دګاونډیو هېوادو له خوا او هم د نړۍ دځینو هېوادونو له خوا دوی له پرله پسې ګواښ ، تهدید او سیاسي ستونزو سره مخ دي. که څه هم په عامه توګه په پښتني سیمو کې دغه متل سمه مانا لري او حتی کټ مټ اسلامي ارشادات وړاندې کوي، چې بل ته باید ضرر ونه رسول شي او که ورسول شي، نو بیا باید خامخا دیوه لوی ګوزار (دتیرې دګوزار ) په تمه اوسي. دا متل د نیکو کارونو دهڅونې لپاره بهترین مثال دی ، خو په لویه کې دافغانستان له حالاتو سره برابر نه دی. دا ډول منظوم ګڼ نور متلونه هم شته ، چې کېدی شي، مانا یې سمه نه راخیژي، خودا متلونه په هرځای کې ناسم هم نه دي، په ځینو ځایونو کې بیا پوره مانا رسولی شي، خو په ځینو ځایونو کې نه. اصلا متل دکارونې په چاپیریال پورې اړه لري، کله به یوه پېښه وي، خو یو متل به ورسره نه جوړېږي، نو کول یې بیا په کار نه وي.

## منثور متلونه:

په منثورو متلونو کې هم داسې ډېرپیدا کیږي، چې له اوسني وخت سره سمون نه لري. او مانا یې سرچپه تعبیرېدی شي.

دامتلونه به په لاندې توګه رالنډ کړو:

## ۱.له کلي وځه ، له نرخه مه وځه:

دا متل داسې وخت کارول کیږي، چې دکومې پېښې پروخت یو ځوک لوړ نرخ ټاکي، یا دسود سودا اخیستو یا خرڅولو پروخت یا په عامو ژوندنیو پېښو کې. هغه وخت کله چې ځوک دیوه شي لپاره ناروا نرخ ټاکي، نو بیا ورته وایي: « له کلي وځه ـ له نرخه مه وځه»(۴)

اوس چې موږ وینو، ډېری داسې خلک شته ، چې له کلي نه هم نه وځي او له نرخ نه هم. که په ټولیزه توګه دراکړو ورکړو مسلو ته وګورو، ډېری خلک په تجارت

کې ناروا ګټه کوي، دپېښو پروخت ناحقه پرېکړه کولی شي. رشوت ، اداري فساد او جنایتونو کلیو او ولسونو ته هم مخه کړې، حتی په ځینو سیموکې قومي مشران ناروا پرېکړو ته رایه ورکوي، خامخا به په کې شخصي ګټې لټوي. حق نا حق کوي. دوی نه له کلي وځي، نه له نرخه. کولی شو، ووایو، اوس دا متل په ګڼو ځایونو کې په سرچپه ډول تعبیرېدی شي.

## ۲.کار مې دبل خوښ دی، خوراک مې خپل:

دا متل هم که ووینو، اوس په یوه اوښتي حالت کې دی. پخوانیو فکر کاوه، چې بل ته باید بې غرضه ښېګڼه ورورسولی شي. حتی تردې پورې چې کار دبل لپاره وکړي او خوراک خپل وکړي، خو اوس ، چې وینو ، خلک دې ته ډېر ارزښت ورکوي، چې کار خپل وکړي او خوراک دبل.

ښایي دابه پخوانی دود و، ځکه نن سبا په پښتني ټولنه کې وینو، چې اکثره خلک دغه ډول یو طرز تفکر سمبالوي، له نورو نه په ګټه ، شکونه او په هره روا او ناروا چې وي، د ګټو په فکر کې دي. دا متل که څه هم لفظا د خوراک په اړه دی ، خو په ټول ژوند هم تعبیرېدی شي، چې ووایو، په هر کار کې خلک خپله ګټه سنجوي. بیا هم کېدی شي، ځینې وخت داسې خلک هم ومومو، چې په رښتینې توګه کار او ښېګڼه بل ته رسول غواړي او داچې تاوان یې پرې پېرزو نه وي، نو خواړه خپل خوري، خو داسې خلک به ډېر کم وي، که په عمومي توګه مو ر ددغه متل مفهوم په نظر کې نیسو ، نورو ته دښېګڼو رسولو کار اوس په دغه لېول کې نه دی.

## ۳.کار چې په سلا شي، بې بلا شي(۵)

دامتل هم په ګڼو ځایونو کې دکارونې ځای لري او مانا یې ښکلې ، کره او په تول پوره ده. خو ددغه متل اوسنۍ مانا دپښتنو په عام ژوندانه کې هومره معقوله نه ښکاري.

دامتل به ښايي، په کومه داسې موقع د مشرانو له خواویل شوی وي، چې چاته به یې د سلا مشورې دخیال ساتنې لارښوونه کوله. خو که اوس دپښتنو عام ژوند وګورو، ډېری خلک دا متل په پام کې نه نیسي. که سیاستوال واخلو ، هغوی هم ظاهرا دسلا مشورې ارزښتونه راښیي، خو عمل پرې نه کوي، دغسې دکورنیو

ځوانان، دښوونځیو زده کوونکي، محصلین او مامورین او مسوولین ، ددغو ټولو په اړه تل دا شکایت موجود وي، چې دوی دمشرانو نه اوري، سلا مشورې ته غوږ نه ږدي. پخوا به چرته داسې و، چې په سلو کې به یو تن ته دداسې متل ویل اړتیا وه، خو اوس هرچاته دا ډول اړتیا محسوسیږي او دا ډول متل په پراخه کچه کاریږي، خو ستونزه داده ، چې ددغه متل اصل مفهوم دخلکو په ذهن کې هغومره اثر نه لري، لکه چې پخوا یې درلود. په دې توګه ویلی شو، چې دا متل هم اوس په سرچپه بڼه دی. یعنې ددې پرځای ، چې خلک ځوانان ، د چارو مسوولین دمتل اصلي مانا او کیفیت ته پام وکړي، په عملي ډګر کې یې ډېره هڅه داوي، چې څرنګه دنورو له خبرتیا او مشورې پرته یو کار په خپل سر انجام کړای شي؟

## ۴.دخطا یا ناغه وي یا توبه:

دا متل هم هغه وخت ویل شوی، چې یو څوک په یوه مهمه مسله کې سهوه شي یا په عامه اصطلاح خطا شي، نو دا متل یې په اړه ویل شوی، چې یا باید د اینده لپاره توبه وباسي او یا ناغه پرې کړي. که څه هم دا متل شته او په ځینو ځایونو کې دتطبیق ځای لري، خو اوس موږ په خپله ټولنه او سیاسي ژوند کې ډېر داسې خلک کتی شو، چې خطا کوي، خو نه نا غه ورکوي او نه توبه وباسي. ښه بیلګه یې اوسني سیاستوال او ټوپکمار دي، ټول یې وینې، چې ناقانونه کارونه ترسره کوي، خو نه یې دې ولس ته ناغه ورکړه ، او نه یې توبه واېسته.

## ۵.راستي زوال نه لري(٦)

دامتل دربنتیا ویلو لپاره کارول کیږي. یعنې که کومه مسله راپېښه وی، یو لوری بل لوري ته ددغه متل په کارونه ورپه یادوي، چې رښتیا ووایي، اخلاص وکړي ، نو اینده به یې ښه وي. خو زموږ نننۍ ټولنه له بده مرغه نن سبا ددغه متل دمفهوم په سرچپه بڼه ګام اخلي، هغه داسې ، چې ټول پوهیږي، چې رښتیاویل یو غوره کار دی ، خو بیا هم اکثره خلک دروغ وایي. که سیاستوال دي، که دینپوهان دي، که مامورین دي ، که ځوانان دي، که دکورنو او اولادونو خاوندان دي. ټول یو ډول په دروغو کې راښکېل دي، دچا خبره که دروغ پیدا شي، رښتیا نه وایي. دا په عمومي توګه اوس وخت دافغاني او په تېره دپښتني ټولنې یوه ناروغي ګرځېدلې.

بده يې داده ، چې زموږ دټولنې اکثريت بيا په دې ډېر ښه پوهيږي، چې ربښتيا ويل زښته ډېره ګټه لري. يا په بله ژبه دايمي ګټه ده او موقتي تاوان ، خو دوی موقتي يا لنډمهالې ګټه په پام کې نيسي، اوږده مهال ته ارزښت نه ورکوي.

## ځينې نور متلونه:

داسې متلونه ، چې مانا مفهوم او دتطبيق عملي ساحه يې زموږ په ټولنه کې نه شته ، نور هم موندی شو. چې دټولو تشريح به دلته ښايي زموږ موضوع ډېره اوږده کړي. نو له تشريحاتو يې تېرېږو او مخامخ همدا متلونه دلته ليکو. دا متلونه به په منظومه او منثوره دواړه توګه دلته راواخلو:

١.راست اوسه په لويه لاره ناست وسه.

٢.رنګ يې مه ګوره خوند يې ګوره.

٣.امير چې ظلم کار وي – اور، بل په ټول ديار وي.

۴.انسان تابع داحسان دی.

۵.اوبه په ډانګ نه بېليږي.(٧)

٦.اور او اوبه نه سره يوځای کيږي.

٧.وسپنه چې څومره ټکيږي – هومره پخيږي.

٨.اوښ په بډه نه وهل کيږي.

٩.اول حق دګاونډي دی.

١٠.بد تربور په بده ورځ په کاريږي. (٨)

١١.بې علمه سړی ړوند دی.

١٢.باغ دباغوان دی ژرنده د ژرنده ګړي.

١٣.بد به يم ، نه له ورور سره.

١۴.بې ډوله مه ګډېږه.

١۵.بې زحمته راحت نه شته.

١٦.بې سته څوک جنت ته نه ځي.

١٧.بې ګودره مه ګډېږه.

١٨.پاړو ګر دمار دلاسه مري. (٩)

۱۹.پردي خواږه يا پور دي يا پيغور.

۲۰.پرښو تلوار پر بدو تامل.

۲۱.په جنګ کې اسونه نه تيارېږي

۲۲.پنځه ګوتې په خوله مه منډه

۲۳.په پردي ملک خاني نه کيږي(۱۰)

۲۴.په دوو بېړيو پښې مه ږده.

۲۵.په يوه ځنګله کې ددوو زمريانو شپې نه سباکيږي.

۲٦.ترکاڼي دبيزو کار نه دی.

۲۷.تربېکاری بې ګاري ښه ده.

۲۸.تورليمځي په سابون نه سپينيږي.

۲۹.ټک له دواړو لاسو خيژي.

۳۰.جزا دعمل حقه ده.

۳۱.څه چې کرې هغه به رېبې.

۳۲.څومره خرګی – هومره بارګی.

۳۳.څوک چې له قامه ليرې اوسي، باد به يې يوسي.

۳۴.څه خوره ، څه پرېږده.

۳۵.سملاستل خو هلته و ، چې پلار دې ژوندی و، اوس خو هسې سر لګول دي.

۳٦.ځای ته ګوره بيا نو خوره.

۳۷.حصه په جوسه.(۱۱)

۳۸.حرام چې دچا په کور ننوتلي وي ، حلال يې هم ورسره تلي وي.

۳۹.حق اخر حقدار ته رسي.

۴۰.چې بد ګرځې – بد به پرزي.

۴۱.چته چې ځوان ويني – صورت حيران ويني.

۴۲.چې کابل نه خورې – بدپرې مه وايه.

۴۳.چې بد کوي – بد به مومي.

۴۴.چې اوښان ساتې دروازې به لوړې ږدې.

۴۵.چې تېرشول ، هغه هېرشول.

۴٦.چې خير دې نه رسيږي – بد مه رسوه. (۱۲)

۴۷.چې سرو مال ترې جار کړې ، نو هرسړی به يار کړې.

۴۸.چې شرم نه لري ، ايمان نه لري.

۴۹.چې غل نه يې – باچا نه مه وېرېږه.

۵۰.خپل عمل دلارې مل دی!(۱۳)

پورته متلونه اکثره داسې دي، چې زموږ په افغاني ټولنه کې يې مانا په اوښتې بڼه کتی شو.په پښتو ژبه کې د يادې موضوع په باب ګڼ نور متلونه هم مونـدی شـو. خو مايې په وروستۍ برخه کې يوازې د «۵۰»متلونو په ښودانه بسنه وکړه. هيلـه ده ، په دې برخه کې اوږدې څېړنې دوام وومومي او متلونه زموږ له عام ژونـد سره مطابقـت پيدا کړي.

## نتيجه:

زموږ پښتو ادبيات ، چې زرګونـه کالـه لرغـونی تـاريخ لـري، ګڼـی ادب يـې تـر ليکنـي ( تحريري) ادب وړاندې مطالعه کيږي. متلونه دګړني يـا شـفاهي ادب مهمـه برخه جوړوي ، چې په منظومه او منثوره دواړو بڼو يې وينو.

متلونه دبېلابېلو پېښو پر وخت دعامو ولسي خلکو له خوا ويل شوي، چې پخې ، په تول پوره او دکار خـبرې يـې ګڼلـی شـو. هـر متـل ځانتـه يـوه کيسـه لـري، کلـه داکيسې رښتينې وي اوکله فرضي. کېدای شي، دهر متل دمبدا يا دپيل کيسه پـوره رښتيا وي، خو نورو سيمو ته په خورېدو او ورسره دوخت په تېرېدو په ځينو کيسو کې بدلونونه راغلي. دسيمو او چاپيريال له مخې هم ځينې متلونـه او کيسـې يـې بـدلې شوي دي.

په سيمه ييزو مسلو کې يـوه د لهجـې ده. مـثلا يـو متـل په يـوه موضـوع ويـل شوی، خو بلې سيمې ته چې تللی، الفاظ يې دلهجوي بدلونونو له کبله بدل شـوي. ځينو دا يې خپله مانا ساتلې او په ځينو کې لا ان ماناوې هـم بـدلې شـوي. زمـا پـه اند په دې برخه کې پراخه څېړنې به زموږ دشفاهي ادب لـه پرمختـګ سره نـوره هـم مرسته وکړای شي.

زما دیادي موضوع لنډیز دادی، چې ځینې پښتو متلونه ، که څه هم پخوا رښتیا وو او مانا ګانې یې هم زموږ په ټولنه کې په پوره توګه دمنلو او تطبیق وړ وې، خو اوس په ځانخبري او یا ناځانخبري توګه سره بدلې شوي. یا خلک او ولس دژوندانه یوه نوي مدني پړاو ته ننوتی او یا دا چې دعصري ژوند دنښو په راډېرېدو ، دولسي ژوند طرز تفکر ( اندود) خپل ځای ، چل ، دوکې ، فرېب او ځان غولونې ته پرېښی، په دې توګه ځینې متلونه اوس زموږ په عام ژوند کې له ځینو استثناتو پرته نور دتطبیق وړ نه دي. چې په پورته لیکنه کې په نسبي تفصیل ښودل شوي.

ما هڅه کړې، داوښتو یا دمانا له پلوه دسرچپه شویومتلونو داصلي کیسو پرځای اوسنی حالت وښیم، په دې توګه ، چې دمتل دوینګ او پېښېدو اصلي کیسه چې هرڅه وه ، وه به ، خو څرنګه ، چې زموږ په اوسني عام ژوندانه کې متل دیوې مهمې ګړنۍ برخې په توګه مطرح دی ، نو داستعمال او د مانا له پلوه یې اوسني تطبیقي ساحه ډېره مهمه راته ښکاره شوه. ځکه نو په اوسني ټولنیز ژوند کې دمتلونو د تطبیق په ساحه زیاتره بحث وشو. زما له خوا یاد شوي متلونه سل په سلو کې دغه ډول یوه مانا نه شي ښودلی، په ټولنیز ژوندانه کې دارزښتونو بدلون طبعاً دمتلونو بڼو ته هم بدلون ورکړی، ځکه خو ځوان افغان څېړونکي باید دژواندانه له بدلانه سره سم پښتو ګړنی ادب هم ترکتنې او کره کتنې لاندې ونیسي.

دلیکنې په وروستۍ برخه کې ۵۰ هغه متلونه ، چې په اوسني ژوند کې مو په سرچپه یا اوښتي بڼه مخته راځي، ورسره راوړي. دا هر متل ځانله کیسه لري او که له اوسني وخت سره یې پرتلیز سمون غواړو، ښایي کتابونه خبرې پرې وکړای شو. زه دپښتو متلونو په باب خپلې داخبرې دلته رانغاړم او په یو څو وړاندیزونو یې پای ته رسوم.

## وړاندیزونه:

۱ .دافغانستان دپوهنتونونو دادبیاتو پوهنځیو په پښتو څانګو کې دې ، پښتو ګړني متلونه دکورنیو دندو په توګه محصلینو ته وسپارل شي، چې له خپلو سیمو یې راټول کړای شي او بیایې وڅېړي هم.

۲.دپوهنتونونو زده کوونکو ته باید په سیمه ییزه توگه دمتلونـو دکیسـو راټولولـو دندې هم ورکړای شي.

۳.دافغانستان دعلومو اکاډمي، پوهنتونونه او نور ادبي او علمي موسسات بایـد دپښتو فوکلور دژغورنې په کار کې رغنده ونډه واخلي او هڅه وکړي، چې ولسي ادب وژغوري.

۴.دپښـتو متلونـو پـه بـاب بایـد زمـوږ اسـتادان او باتجربـه څېړونکـي هـم نـوي مسایل راوښیي او اثار ولیکي، چاپ او خپاره یې کړي او افغان ځوانان دخپلـې ژبـې فوکلوریکي غنا مندۍ ته وهڅوي.

۵. هېواد پوهنتونونه باید  فعالې چـاپخونې(مطبعې) ایجـاد کـړي، دمحصـلینو کورنۍ دندې، مونوگرافونه ، دماسټرۍ تیزسونه ، داسـتادانو علمـي مقـالې او رتبـوي څېړنیز کتابونه چاپ او خپاره کړي، اکثره دا ډول ترسره شوې څېړنې ، اوسني ځـوان کول ته نه دي رسېدلي او د رسونې بله کومه مرجع یې هم نه شته.

## مأخذونه:


۱ . بېنوا،عبـدالروف: پښـتو متلونـه (لـه دري او انگلیسـي- ژبـاړې سره)،دپښـتو څېړنو نړۍ وال مرکز، کابل، ۱۳۵۸ل، ۲۰م مخ

۲.ځلاند، ابوالخیر: دمتلونو قیصې، خپرنـدوی پخپلـه لیکـوال، کوټـه،۱۹۷۵م، ۱۲۲م مخ

۳.ژواک ، محمددین: پښتو متلونه ، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۴۴ل ۵۰م مخ

۴.شـــینواری ، محمـــد موســـی خـــان: دمتلونـــو قیصـــې ، خپرنـــدوی پخپلـــه لیکوال،پېښور، ۱۹۹۹میلادي، ۱٦م مخ

۵.طایر، پروفیسور محمد نواز: روهي ادب ، بېلابېل ټوکونه ، پېښور پوهنتـون – پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۹۹۲،۱۹۸۹،۱۹۸۸م کلونه، ۵۸م مخ

٦.غربییـار، سـیداگل: ولسي- مرغلـرې، خپرنـدوی پخپلـه لیکـوال، پېښـور، ۱۳۸۵ل، ۲۳م مخ

۷.کـاکړ، دیـدار: متلونـه- متلونـه، پښـتو ادبي ټولنـه قلعـه سـیف الله ، کوټـه، ۱۹۹۹م، ۱۲م مخ.

۸.کریمي، شېر محمد ( ژباړن)- تـاریخ لیکـوال: پښـتو متلونـه ، پښـتو ټولنـه، کابل،۱۳٦۰ل، ۳۳، ۳۴ مخونه

۹. وفا، محمد داود: د فوکلـور پېژنـدنې لارښـود، ختـیځ اکـاډمي، جـلال ابـاد، ۱۳۹۳ل ۷۸یم مخ

۱۰. ولي، ولي محمـد: دمتلونـو قیصـې، خپرنـدوی پخپلـه لیکـوال، کوټـه، ۱۹۸٦م، ۱۳م مخ

۱۱.هېوادمل، سرمحقق زلمی: پښتو ولسي ادبیات، د ساپي د موقوفـاتو اداره، پېښور ۱۳۷٦ل، بېلابېل مخونه

۱۲. سـیدعمر پهلـوان: د ننګرهـار ولایـت د بهسـودو ولسـوالۍ د قلعـه ملـخ اوسېدونکی، ٦۲ کلن سپین ږیري سره مخامخ مرکه.

۱۳. حضرـت ولي مامـا: د ننګرهـار ولایـت د کـامې ولسـوالۍ د شـنې کـلا اوسېدونکی ۷۴کلن سپین ږیري سره مرکه.

څېړنوال عبدالظاهر شکیب

# د غني خان د شاعرۍ لفظي موسیقي ته لنډه کتنه

## لنډیز:

په دې مقاله کې د پښتو ژبې د معاصر پېر د فلسفي شاعر غني خان د شاعرۍ د لفظي اړخ پر موسیقي باندې خبرې شوې دي او د ده د اشعارو د لفظي موسیقي بېلابېلې بېلگې راوړل شوي او دا خبره روښانه شوې ده ، چې غني خان په کلمو یو مسلط شاعر و، چې د شعر موسیقي ته یې هم ځانگړی پام اړولی و او په دې پوهېده چې شعر د لفظونو سندریزه وینا ده، د شعر ښکلا په الفاظو کې نغښتې وي، شعر د خبرو هنر دی، په رنگینو الفاظو کې د مضمون او معنا وړاندې کول دي او بالاخره شعر د فکر و خیال عاطفي ترون دی. په الفاظو کې معنا نغښتې او موسیقیت یې د غړونو یو گډ اهنگین امتزاج دی.

## سریزه:

غني خان زموږ په معاصره پښتو شاعرۍ کې هغه نوم دی چې خپل سبک ، خپل انداز ، خپل کلمات او خپل فکر لري ، د خپل زړه خبرې په خپله خوله کوي ، چې دغه ځانگړنه یې د ښه شعر مقام ټاکي. د ښه معنابیز شعر تر څنگ یې د کلام موسیقي ته هم پام کړی دی او د شعر ناوې یې د موسیقي په زړه راښکونکي گاڼه ښکلې کړې ده.

په دې لیکنه کې کوښښ شوی چې د غني خان د شاعرۍ موسیقیت وڅېړو او دا جوته کړو ، چې د غني خان شاعري د داخلي موسیقي له کبله ډېره غښتلې ده،

همدا رنگه هڅه شوې چې په دې ليکنه کې د غني خان د شاعرۍ ډېرې بېلګې راوړو او د څېړنې د تشريحي ميتود په رڼا کې پرې بحث او څېړنه وکړو.

**د څېړنې ارزښت او مبرميت:**

د شعر موسيقي د شعري هنر هغه اړخ دی چې د شعر په ښکلاييزه برخه کې تر ټولو مهم رول لري ، خو په دې برخه کې په پښتو ژبه کې څېړنې د نشت برابر دي او تر اوسه خو د غني خان د شاعرۍ په موسيقيت ما هيڅ څېړنه او ليکنه نه ده ليدلې ، نو ددې مقالې په مرسته به د غني خان د شاعرۍ د داخلي موسيقي يو اړخ جوت شي او په راتلونکي کې به په دې برخه کې د څېړنو لپاره د يوې دروازې حيثيت ولري او څېړونکي به د غني خان د شاعرۍ په دې اړخ نورې څېړنې هم وکړي.

**موخه:**

په دې څېړنه کې تر ډېره کوښښ شوی دی ، چې د غني خان د شاعرۍ د لفظي موسيقي اړخ روښانه کړل شي او د غني خان د شاعرۍ دغه اړخ چې تر اوسه پرې زما له پوهې او معلوماتو سره سم کومه ليکنه نه وه ، ترسره شوې ، نو دا ليکنه به د غني خان د شاعرۍ چې په پښتو ژبه کې د ځانګړي سبک او ځانګړي انداز شاعري ده ، دغه اړخ ته به يې هم د ليکوالو پام ورواوړي او تر څنګ به د غني خان د شاعرۍ په داخلي لفظي او معنوي موسيقي هم څېړونکي او ليکوال خپلې سپړنې او څرګندونې ترسره کړي.

**د څېړنې مهمې پوښتنې:**

لفظي موسيقي څه ته وايي ؟

ايا غني خان د خپلې شاعرۍ لفظي موسيقي په سمه توګه ترسره کړې ؟

د لفظي موسيقۍ اهميت څه دی ؟

د غني خان د شاعرۍ د لفظي موسيقۍ اهميت او ارزښت په څه کې دی ؟

**د څېړنې روش:**

په دې څېړنه کې له علمي تشريحي او تحليلي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی.

**اصله موضوع:**

د غنی خان اشعار بېلابېل اړخونه لري او له هر اړخه پرې پراخه خبرې کېدای شي ، هغه د خپل شعر هره کلمه په ډېر مناسب او سم ځای کې کارولې ، د کلمو په کارونه کې یې هم تل ښکلاییز اړخ ته پوره پوره پاملرنه کړې ده ، له ځینو غیر شعري کلماتو یې هم ښکلي شعري کلمات پنځولي او جوړ کړي دي او دا ځکه چې غني خان په کلمو یو مسلط شاعر و .

د غني خان په باب په یوه اثر کې مې ولوستل چې: « غنـي خـان شاعر دی ، د خپل زړه خبرې په بېباکانه ډول کوي ، که چېرې د ده د شعرونو په جولیز (شکلي ) جوړښت باندې نظر وکړو ، ده په خپله شاعري کې د بحر ، ریتم ، تشبیه ، استعارې ، قافیې ، ردیف ، لفظي او معنوي، صنعتونو نه ډېره استفاده نه ده کړې ، د ده شعرونه باید د یادو توکو په تله ونه تلل شي ، هغه د فکر شاعر دی ، د هغه په شاعرۍ کې له وزن او بحر نه پرېوتې مسرې هم شته او داسې مسرې یې په شعرونو کې شته ، چې قافیې او ردیف په کې نه دي مراعات شوي ، خو ده خپل فکر او نظر په بهتر ډول ټولنې ته وړاندې کړی دی او لیکوال او محقق باید د ده شعر له معناییزې زاویې وګوري ، نه د فزیکي جوړښت له مخې.»(۱)

د لیکوال دغه خبرې که سمې دي ، نو اختلاف هم ورسره کېدای شي او هغه دا ؛ چېرته چې معنا وي، نو نظم به هم وي او چې نظم وي، نو صنعتونه به هم وي او موسیقي به هم وي ، شرنګ او ترنګ به هم وي او دا خبرې د غني خان په شاعرۍ کې ډېرې شته ، دلته پرې د اوږدو خبرو ګنجایش نشته ، ما پرې څو لنډې خبرې کړي او دا ځکه چې غني خان باید د شاعرۍ له دې اړخه هم ژور وڅېړل شي او د هغه د شاعرۍ لفظي او معنوي ښکلاوې په معاصرو کاڼو وتلل شي.

څرنګه چې موسیقي د شعري هنر یو په زړه پورې اړخ دی، نو غنـي خـان هم د خپل کلام موسیقیت او آهنګینې برخې ته خاصه پاملرنه کړې ده.

د شعر موسیقي د شعري هنر یو مهم اړخ دی ، چې په بېلابېلو ډولونو ترسره کېږي ، چې د متجانسو کلمو یا د یو ډول او قریب المخرجه اوازونو له محسوسېدونکي منظم یا غیر منظم تکرار څخه رامنځ ته کېږي ، موسیقي د شعر

ظاهري بڼې ته ځانګړی آهنګ ورکوي او د شعر لوستونکي د يو ډول او پرله پسې تلفظ کېدونکو کلمو له ويلو او اورېدلو خوند اخلي.

يا ځينې وخت توري او کلمې د يو بل په څنګ کې سره داسې واقع کېږي ، چې موږ يې ترنګ او شرنګ له ليرې احساسوو او دا د شعري هنر لوړ مقام دی ، چې شعري کلمې د معنا تر څنګ ښکلی او زړه راښکونکی اواز هم ولري ، د کلمو او تورو دغه شرنګا په شعر کې کله کله د بديعي لفظي صنايعو ، لکه تجنيس ، تکرار، سجعې او نورو په جامه کې وي او کله کله د اهنګ ، رديف او قافيې په جامه کې وي ، چې د تورو او کلمو فريکونسي- د دې سبب ګرځي ، چې په کلام کې موزيکال غږونه و پنځوي. بې موسيقي شعر د بدرنګه ناوې غونډې وي او بې شعره موسيقي د بې ګاڼې ناوې په څېر.

د شعر موسيقي ډېر ډولونه لري. محمد رضا شفيعي کدکني په خپل اثر (موسيقي شعر )کې د شعر موسيقي په څلورو برخو وېشي-: «بيروني ، کناري ، داخلي او معنوي موسيقي » (۲). لفظي موسيقي د داخلي موسيقي يوه برخه ده ، په شاعرۍ کې داخلي موسيقي د تورو او کلمو په تړون ، اهنګين ترکيب او جوړښت پورې اړه لري ،دا نو د شاعر کمال دی چې د خپل شعر کلمات او ترکيبونه څه ډول انتخاب او کاروي ، تر څو د لوستونکو او اورېدونکو توجه جلب کړي او د اورېدونکي او ويونکي د ښکلا حس راوپاروي او ښکلاييز اغېز يې راژوندی کړي ، چې د شعر دغه برخه تر ډېره په داخلي موسيقي پورې اړه لري او دغه موسيقي د لفظي هنرونو او جوړښتونو تر اغېز لاندې وي ، خو شرط په کې دادی چې د لفظي صنايعو او جوړښتونو کارونه طبيعي رنګ او خوند ولري او له تصنع او تکلفه خالي وي او که چېرته يې مصنوعي جوړښت ښکاره شي. بيا يې اهميت او ارزښت نه وي او هغومره ښکلا نه شي زېږولای. همدا شان دغه موسيقي او لفظي ارزښتونه تل په ژباړه کې له منځه ځي او د شعر ژباړن په ادبي حلقو کې په همدې وجه خاين ياد شوی ، ځکه چې د لفظونو د موسيقي ژباړه بلې ژبې ته تقريباً ناممکن کار دی.

موږ يې دلته د شعري موسيقۍ په تيوري ډېرې خبرې نه کوو ، يوازې د غني خان د شاعرۍ د داخلي لفظي موسيقۍ څو نمونې راوړو:

د غني خان د کلیاتو په لومړي سر کې دعا لولو ، چې وایي:

سترګو د جانان کې زما ښکلي جهانونه دي
وادې خله دنیا زه وړی ستا د دنیا نه یمه
ګوره د فقیر کچکول کې تاج د سکندر دی پروت
زه یم د **سخیانو** د **شومانو** ګدا نه یمه
زه یې په غرور درنه د مینې په نوم غواړم
زه ملنګ بې نیازه ستا د ویر واویلا نه یمه
یو د سپوږمۍ څاڅکی درنه ټیک له د یار غواړمه
زه یم د **خوبونو** د **لالونو** ګدا نه یمه
هغه مستي غواړم چې یې مرګ نه شي وژلی
زه دې د غمونو د **بېګا** او **سبا** نه یمه
او تشه دنیا ګۍ که دې بخښې نو ای امیره !
ستا شوه ستا دنیا زه وړی ستا د دنیا نه یم(۳)

که موږ دغه نظم ته د زړه په غوږو ځیر شو ، د متضادو ، هم قافیه او هم سجعو کلمو راوړلو او د یو ډول کلمو تکرار په نظم کې د ښکلا تر څنګ موسیقي هم پنځولې ده ، لکه (سخیانو، شومانو )، (خوبونو، لالونو)، (بېګا، سبا ) چې په خپلو منځونو کې هم سجعه کلمې دي ، د دنیا او ستا د کلمو تکرار او د (ن) او (ر) تورو تکراري شتون د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده. د غني خان دا نظم هم لولو چې وایي:

مستانه ساقي راشه یو جام جام راوړه
مُسکۍ شه په خندا شه، یو جام جام راوړه
پیاله کېږده شېرینه ، ځواني د ځوانۍ وینه
رنګ رنګ مستي رنګینه ، حسینه نازنینه
مجنون یمه لیلی شه، یو جام جام راوړه
یو ګل یم رژېدلی، یو باغ یم سوځېدلی
یو ساز د ژړا یم ، یو آه د بلبلې
ژوندون شه، زما ساه شه ، یو جام جام راوړه

گلفامـــه ســـاقي راشـــه، يـــو جـــام جـــام راوړه
يـــو راګ يمـــه خاموشـــه ، نغمـــه يـــم فراموشـــه
ځـواني مـې پـه غمـه بېلـه ، مسـتي راوړه بـې هوشـه
د درد دارو زمـــا شـــه ، يـــو جـــام جـــام راوړه
مسـکۍ شـه پـه خنـدا شـه يـو جـام جـام راوړه
مست مست راکړه خوبونه ، چې پټ کړم پرې غمونـه
شروع کـړه د ژونـد تـال تـه ، نـازک د ښـېست سُرونـه
دلـــبر شـــه دلربـــا شـــه يـــو جـــام جـــام راوړه
مســـتانه ســـاقي راشـــه ، يـــو جـــام جـــام راوړه (۴)

په پورته نظم کې غني خان د خپل شعر د کلمو په جادوګرۍ ، تکـرار ، د متجانسـو کيفيتونو په راوړلو ، د سجعو او قافيو په پرلـه پسـې زيـرو بـم حالـت ، پـه شـعر کـې مستو مستو خوبونو د ژوند تـال او سُرونـه ګـرم سـاتلي او يـوه ژونـدۍ موسـيقي يـې زېږولې ده،چې موږ د غني خان د پورته شعر د کلماتو او لفظونو لـه تلفظ او اورېدو څخه يو ځانګړی ښکلاييز کيفيت ، حلاوت او لذت حس کولای شـو . د غنـي خـان دا څو نور بيتونه هم لولو:

**تـور** او **ســپين** زمـا د سـترګو، کلـه **تـول** کلـه **تلـل** دي
**شـــپه** او **ورځ** زمـــا نظـــر دی **ورکـــول** دي او **مونتـــل** دي
کـــه **خنـــدا** ده کـــه **ژړا** ده دا ځيګـــر **مشـــغولول** دي
که **وصال** دی که **فراق** دی خپـل سرور تـه **ګډېـدل** دي(۵)

په پورته بيتونو کې تول او تَلل اشتقاقي تجنيس دی. ( تـور ، سـپين ) ، ( شـپه ، ورځ) او (وصال ، فراق) متضادې کلمې دی. تَلل ، مونتـل، مشـغولول او ګډېـدل د قافيې کلمې دي او که (خندا او ژړا) سره له يوې خوا متضـادې کلمـې دي ، نـو لـه بلې خوا د يوې سجعې کلمې هم دي ، همدا ډول پـه زيـاتو کلمـو کـې د (ل) تـوري تکرار د شـعر موسـيقۍ تـه پياوړتيـا او قـوت بخښـلی دی ،چـې دې ډول د لفظونـو، کلمو او د متضادو کيفيتونو يو ځای کېدلو د غني خان په دې شعر کې يـو ځـانګړی موزيکال کيفيت رامنځ ته کړی دی.

هغه شعرونه چې داخلي لفظي موسيقي يې پياوړې وي، د موسيقي له آلو سره هم خپله موسيقي په ښه شان څرګندوي. د غني خان ډېره شاعري د دې خبرې جوت ثبوت دی ، چې د پښتو ژبې پياوړي هنرمند سردار علي ټکر يې دغه داخلي موسيقي د موسيقي د فزيکي آلو له آوازونو سره غاړه غړۍ کړې او ټول پښتانه يې په شوق او مينه سره اوري ؛ آن له ما څخه يوې بهرنۍ مېرمن چې په پښتو ژبه نه پوهېده ، خو د غني خان له شعرونو سره يې مينه درلوده ، غوښتنه وکړه چې د غني خان هغه شعرونه چې د سردار علي ټکر په آواز کې دي، ورته پيدا کړم.

په لاندې بيتونو کې (رنګين ، رنګ ، شرنګ ) او ( ناز ، نياز) د زايد تجنيس د کلمو په راوړلو سره شعر موزيکال خاصيت خپل کړی دی:

ړوند به څه قيصه ددې **رنګين جهان** د **رنګ** وکړي
دا **نيمې مړې ګوتې** به څه ستا د طبعې **شرنګ** وکړي
**وچې سپېرې شونډې** به په څه **ناز** او **نياز** وکړي
دا **غمګينې سترګې** به په کومه نشه **رنګ** وکړي(٦)

يا هم دا لاندې څو بيتونه:

بس بنده دی که مجنون دی که **مدهوش** دی
**خرڅوونکی اخيستونکی** دده **هوش** دی
که جومات کې بس الله الله دی
ميخانه کې يو اواز د نوش بنوش دی(٧)

په پورته بيتونو کې (مدهوش ، هوش او نوش ، بنوش ) د زايد تجنيس کلمې دي ، همدا شان (اخيستونکی ، خرڅوونکی ) د يوې سجعې څلور څپيزې کلمې دي ، د الله الله تکرار هم ځانګړی ځای نيولی دی ، همدارنګه په ميخانه کې د نوش بنوش او په جومات کې د الله الله غږونه د تقابل صنعت جوړوي. (نيمې مړې ګوتې ) او (وچې سپېرې شونډې) د يوې سجعې کلمې دي ، چې دې ټولو د شعر پايه خوځنده کړې ده. يا هم دا څو بيتونه لولو:

چې دې وس د بدو نه وي ، څه به ته څه به دې ښه وي
تو به هله د شرابو چې شراب درته پراته وي
چې بوډا شې خوله کړشپه ، بيا توبه توبه د څه کې؟

هغه ښه د بدو بد وي، د ناکامه چې ته ښه کې (۸)

په پورته بیت کې د ( ب ، ت ، د ) کانسونینټ غږونو د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده. د غني خان د (شاعري) تر سرلیک لاندې دغه څو بیتونه ګورو چې موزیکال کیفیت یې رامنځ ته کړی دی:

لړ **خیال** کړه ، لړ **تال** کړه ، لړ **شان** د **جانان**
لړ **رنګ** کړه ، **غورځنګ** کړه ، یو آه د **ارمان**
لړ **نور** کړه ، لړ **نار** کړه ، لړ **سوز** کړه لړ **ساز**
لړ یار د **سپوږمۍ** شه د **ستورو همراز**
لړ ګوټ د کعبې کې لړ ګل د **شیراز**
لړ **باغ** لړ **باغیچه** شه لړ تور **بیابان**
لړ **خیال** کړه، لړ **تال** کړه، لړه **شان** د **جانان**(۹)

په پورته بیتونو کې (خیال ، تال) ، (شان، جانان)، (رنګ ، غورځنګ) ،( نور ، نار)، ( سوز ،ساز) متجانسې او مسجعې کلمې دي او د ځینو کانسونانټ غږونو تکرار د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده او هم سړی په اسانۍ سره د دغو کلماتو خوځند حالت محسوسولای شي ، بل ځای غني وایي:

نه منم نه منم یاره مرګ انجام د هستۍ نه دی
خلاصېدل شراب په جام کې اختتام د مستۍ نه دی
چې ماښام د کومې شپې وي نو د هغې سبا هم وي
چې رڼا وي تیاره هم وي ، چې تیاره وي رڼا هم وي
چې یو نه وي بل هم نه وي او که وي نو وي به دواړه
دې دریاب له چرته شته دی لرې بله یوه غاړه
زر سحره د بهار دي یو ماښام کې د خزان
شل ځمونه ډک د عطرو یو دانه کې د ریحان (۱۰)

دې بیتونو ته هم متوجه کېږو:

خوښ مې دي ګلونه ، هم ښکارونه او هم آسونه
خوښ مې نر پښتون دی زه راوړی پښتنې یم
زه وم په وطن مین خو تن جلا وطن کړم

زه د سر گل نه شوم هسې زه ترې سپېلنی یم (۱۱)

تسمیط چې ځینو پوهانو د مسجع شعر نوم ورکړی ، هم کله کله د کلام په موسیقي کې رغنده رول لري ، اوس به د غني خان یو مسجع شعر ولولو او وبه گورو چې د ده د شعر موسیقي یې څه ډول پیاوړې کړې ده ، غني وایي:

یو سرک د گلستان ، بله لاره د زندان
مینځ کې زه ولاړ حیران ، چې په دې ځم که په دې
یو خوا عیش عشرت سیلونه، بل خوا کندې کندې غرونه
دې خوا ساز اخوا وېرونه، اوس په دې ځم که په دې
دلته ښکلې موسکی شونډې، هلته غم فریاد د کونډې
دا ځای خوب هغه ځای منډې ، اوس په دې ځم که په دې
یو دی ډنډ پټ په شین رنگ ، بل دی سیند وهي غورځنگ
دې خوا قبر اخوا جنگ ، اوس په دې ځم که په دې
یو خوا سوی مخ د سکور ، بلخوا خاندي سوځي اور
اخوا تاج دی خو سرتور ، اوس په دې ځم که په دې
دېخوا ځښې د زړگي وینې ، اخوا سره شراب د مینې
دلته ړوند یې هلته وینې ، اوس په دې ځم که په دې(۱۲)

په پورته تسمیط یا مسجع شعر کې ددې ترڅنگ چې هر بیت یې د سجعې خپلې کلمې (گلستان ، زندان ، حیران - سیلونه ، غرونه ، وېرونه - شونډې کونډې ، منډې - رنگ ، غورځنگ ، جنگ - سکور ، اور ، سرتور - وینې ، مینې ، وینې ) لري، که وگورو یو زیروبم آواز هم زېږوي ، دغه زیروبم آواز خپله د موسیقي خوځنده ساز دی. همدا شان په پورته شعر کې بې قافیې ردیف هم راغلی دی.

په پخوانیو شعرونو کې تل کوښښ کېده چې قافیه له ردیف مخکې هرومرو راشي، اما په معاصر شعر کې کله کله ردیف د قافیې ځای نیسي- او په ځانگړي ډول د شعر د موسیقی دنده پر غاړه اخلي ، چې د غني خان پورته شعر یې ښه بېلگه ده او که په بله وینا یې ووایو: قافیه هم د مترنمو لفظونو لپاره یو پیکر دی، چې د غني خان د نظم رخت و زیور یې تشکیل کړی،قافیه د نظم په لفظي موسیقي کې مرسته کوي او هغه جوړوي. قافیه دتورو په اهنگین اوډون رامنځته

کېږي، دغه اوډون یوه ځانګړې موسیقي رامنځ ته کوي. نو ځکه خو نیما یو شیج (( بې قافیې شعر بې هډوکو سړی بولي))(۱۳). همدا شان قافیه پر خپل ځانګړي رېتیم یا موسیقۍ د شاعر تخییل راټولوي او په لفظونو کې یې رانغاړي،د تودور دو بانویل(Banville Theodorde)په وینا: (( قافیه هغه زرین مېخ دی چې د شاعرانو تخیلات تثبیتوي)). (۱۴)

له قافیې سره سره تکرار صنعت چې په شعر کې د موسیقیت په رامنځ ته کولو کې مهمه ونډه اخلي او په بېلابېلو ډولونو تر سره کېږي، لکه: جناس ، تشابه الاطراف ، ردالصدر علی العجز ، ردالعجز علی الصدر ، التزام یا اعنات او داسې نور ډولونه چې په ټوله کې یې په تکرار سره یادولی شو، د شعر په داخلي موسیقۍ کې کارنده ونډه اخلي. د غني خان لاندې بیت ته متوجه کېږو ، چې دغه ادبي جوړښتونه یې په کې غاړه غړۍ کړي دي:

مینه حُسن جوړ کړي بیا پرې شي مئینه مینه
مینه لېونی ده، لېونی ده مینه مینه (۱۵)

په پورته شعر کې چې د (مینې) تر سرلیک لاندې لیکل شوی ، ردالعجز علی الصدر ، تجنیس او تکرار غبرګ راغلي، چې د مینې د کلمې ډېر تکرار او بیا د شعر په صدر او عجز کې ځانګړې موسیقي زېږولې ، چې د شعري موسیقي یوه ښه بېلګه یې بللی شو او دغه ادبي صنعتونه هله ښکلی او حَسین وي چې د موسیقي او ښکلا په پنځونه کې مرسته وکړي.

په لاندې بیتونو کې هم سجعو او متجانسو کلمو یو ډول موزیکال خاصیت رامنځ ته کړی:

امان چې لاړ امان لاړه ، د امان له ملکه
روک شو چې روکول یې دښمنان له ملکه
زړه یې خوږېږي نه صبرېږي نه صبرېږي خلقه
په شا شا ګوري ځي امان په ډېر ارمان له ملکه (۱٦)

اوس هم د ردالعجز علی الصدر یو بل بیت لولو چې د شعر په موسیقي کې یې ونډه اخیستې او هغه د (خومره) کلمه ده چې د بیت په صدر، عجز او رکن کې تکرار شوی دی.

ځـــومره مینـــه مســـتي درکـــړم ادب ځـــومره ؟
ځـومره تـا دلـدار جانـان کړمـه ، رب ځـومره ؟ (۱۷)

په دې لاندې بیتونو کې هم د تکرار صنعت په یو بل ډول گورو:

زلفـــــــــې دې کـــــــــــړې ول ول ول
ټیـــک دې کـــړو پـــرې وربـــل وربـــل
زه دې کړمـــه جـــل بـــل جـــل بـــل
زلفـــــــــې دې کـــــــــــړې ول ول ول (۱۸)

تکرار د هنر په ښکلا پېژندنه کې یو له بنسټیزو مسایلو څخه دی. د ستورو سترگکونه او د مرغانو د وزرونو حرکات د تکرار او تناوب په برکت ښکلي دي ، نا موزون او نا موسیقایي آوازونه چې د تکرار خواږه نه لري، د روح د تکلیف سبب کېږي ، حال دا چې د باران پرلپسې تکرارېدونکي څاڅکي روح ته آرام وربخښي ، تکرار په نوي او زاړه شعر کې مهمه ونډه لرلې او اصولاً باید د شعر په سبکي ځانگړنو کې وشمېرل شي. (۱۹)

په لاندې بیت کې هم د تکرار ادبي هنري صنعت گورو:

حسـن حسـن لټومـه ، کـه پـه غـر وي کـه پـه سـمه
زه په مینه مینه پـا یـم ، بـې د مینـې مرمـه مرمـه (۲۰)

په شعر کې د یوې سجعې کلمې هم د موسیقي په پیاوړتیا کې مرسته کوي ، لکه د غني خان په لاندې بیت کې د جانان ، جهان ، قربان او غلمان کلمو چې دغه کیفیت رامنځ ته کړی دی:

هغــه جانـــان چـــې کـــل جهـــان تـــرې قربـــان
چـې هـر جنـت حـورې غلـمان تـرې قربـان(۲۱)

یا په لاندې بیتونو کې گورو چې د یوې سجعې کلمو یې په شعر کې څه ډول موسیقي زېږولې ده:

هـــر زلمـــی یوســـف و او همـــه جهـــان کنعـــان و
لاس کـې مـې نیـولی د بادشـاه د لاس فرمـان و(۲۲)
گـل یـې د ایـران دلـبره، سـیب کـه د شـېراز یـې ؟
ســـترگې مهربـــانې وړې شـــونډې دلنـــوازې (۲۳)

په پورته لومړي بيت کې (جهان ، کنعان ، فرمان ) او په دوهم بيت کې (سترګې ، مهرباني ، ورې ، شونډې ، دلنوازې ) پرله پسې راغلو کلمو ځانګړی موزيکال کيفيت رامنځ ته کړی دی.

لاندې شعرونه هم لولو:

هــم د وتــرو ګــوټ کــې خــو مهينــه چــادرۍ کـــې
فـــرق دې ونـــه کـــه دلـــدارۍ او نـــوکرۍ کـــې
خـــدای ګـــو چـــې بيلـــئ يـــې د مينـــو کچـــرۍ کـــې
نـــوی نـــوی جـــال پـــه دې جنجـــال د مشرـۍ کـــې(۲۴)

په پورته بيتونو کې (چادرۍ ، دلدارۍ ، نوکرۍ ، کچرۍ ، مشرۍ ) او (جال ، جنجال )د يوې سجعې کلمې دي. په لاندې بيت کې پـه ډېرو کلمـو کـې د( س) د توري موجوديت يو ځانګړی موزيکال حالت رامنځ ته کړی دی ، غني خان وايي:

چـې يـې عمـر پـه صـحرا وي د خـزان نـه ګيلـه نـه کـا
دومره وسومه غمونو چې اوس سوی مې سينه نه کـا(۲۵)

يا دا بيت چې وايي:

دا چـــې ســـتا ســـترګو تصـــوير د مســـتۍ واغوســـت
نـو زه جـام شـومه خيـام شـوم مسـت نسـکور شـوم (۲٦)

يا هم په دې لاندې بيتونو کې د (ن) د توري ډېر تکرار دغه کيفيت رامنځ ته کړی دی:

بنـــده نـــوي رنـــګ محـــل کـــې نـــوی نـــوی جانـــان غـــواړي
بيابـــان کـــې سره ګلونـــه ، تـــوره شـــپه چراغـــان غـــواړي
تـــل تيـــاره کـــې دی روکېـــږي ، تـــل رڼـــا کـــې هـــم ړنـــدېږي
دی بچی د تغيير دی ، يـو حالـت کـې نـه ټينګېـږي(۲۷)

ترصيع هم د بديعي صنايعو په ډله کې راځي او د سجعې يو ډول يې بولي ، چې د شعر په موسيقي کې ونډه اخلي ، د غني خان لاندې بيتونو ته متوجه کېږو:

ای د ګلابونـــــــو د ګلونـــــــو د خنـــــــدا ربـــــــه
ای د امېـــــــدونو د خوبونـــــــو د رڼـــــــا ربـــــــه
ای د ماښـــــــامونو د جـــــــامونو د سرور ربـــــــه

پـېـښ اشـنا مـین جانـان او نـور ، او نـور او نـور ربـه (۲۸)

په لاندې بيت کې هم د ترصيع ادبي صنعت گورو:

نـــن انســـان شـــو د انســـان د وينـــو تـــږی
نـــن مجنـــون شـــو د جانـــان د وينـــو تـــږی (۲۹)

رديف هم کله کله د شعرد موسيقي په پنځولو کې ځانګړی رول لـري ، خـو دغـه رول هلته په سمه توګه تر سره کولای شي ، چې رديـف خوځنـده وي ، دلتـه د غنـي خان د يو بيت رديف ته متوجه کېږو:

د مســـتې جينـــۍ نښـــه ده بنګـــړي ډېـــر مـــاتوي
چـې لـږه نـوره مسـته شي زړګـي ډېـر مـاتوي (۳۰)

په دغه بيت کې (ډېر ماتوي) د شعر رديف دی او (بنګړي ، زړګي) يې د قـافيې کلمې دي او د(مستې ، مسته) اشتقاقي کلمو راوړلو هم خپل ځای نيـولی دی او د دغه شعر موسيقي يې پیاوړې کړې ده. په لانـدې بيـت کـې هـم د اشـتقاق صـنعت ګورو:

پـروا يـې غنـي نـه کـړي کـه يـې سـپک تـلي کـه درونـد
تف! څه به دا جهان وي او څه تـول د دې جهـان (۳۱)

په پورته بيت کې (تلي او تول) اشتقاقي کلمې دي ، چې پـه شـعر کـې يـې لـه ناشعري کلمې (تف !) څخه هـم شـعري کلمـه جـوړه کـړې ده او ځـانګړې ښـکلا او موسيقي يې رامنځ ته کړې ده.

يا په دې بيت کې د اشتقاق صنعت ګورو:

پـه خنـدا کـې مـې ژړا ده پـه خفـه سـترګو خنـدېږم
وايـــه وايـــه لېونيـــه ! ولـــې ژاړې چـــې ژړېـــږم(۳۲)

پـه پورتـه بيـت کـې (ژړا ، ژاړې ، ژړېـږم) د اشـتقاق کلمـې دي ، چـې پـه شـعر کـې يـې يـو ډول موسـيقيت پيـدا کـړی دی. همـدا ډول (پـه خفـه سـترګو خنـدل) يـې يـو بـل متضـاد کيفيـت هـم رامـنځ تـه کـړی او د شـعر ښـکلاييز اړخ يې تقويه کړی دی.

پـه لانـدې بيتونـو کـې د هـم سجعو او هـم وزنـو کلمـو او د ځينـو کلمـو تکـرار شعر ته ځانګړې موسيقي ورکړې چې لولو يې:

چې مستي وی او ځواني وی او جانان وی او ډک جام
ډېر گلونه لږ یاران او غمگین غونډې ماښام
عشق څه اور وي او څه نور وي زړه لمبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ورځای کړم جنتونه ستا تمام(۳۳)

یا دا بیتونه چې غني وایي:

زه یم زه یم رنگ سرور او شرنگار زه یم
د جانان سترگو کې مړاوی خمار زه یم (۳۴)

په پورته بیت کې د تکرار او ردالعجز علی الصدر د صنعتونو تر څنگ د (ر) د توري ډېر تکرار موسیقي زېږولې ده . د غني خان یو بل نظم چې د متجانسو او هم سجعو کلمو راوړل او د (گ) کانسونانټ غږ په کې د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده، لولو:

د هشنغر مغرور ملنگ
په نوم غني په جیب لپنگ
سترگې د پیش خړ یې رنگ
مدام لیکی اړنگ دوړنگ
د خپل جهانه ، ځانه تنگ
تل اوسي د ځان سره په جنگ
د هشنغر مغرور ملنگ (۳۵)

په دې بیتونو کې د یوې سجعې کلمې راغلي د ي:

او فطرت حیران خفه شو چې د دې خاورې مجبور یې
ځان جوړوونکی ، ورانوونکی ، ځان لیدونکی سر پیدا شو (۳٦)

په لاندې نظم کې تکرار ، سجعې ، تجنیس د شعر لفظي موسیقي پیاوړې کړې ده:

بس دی بس که لېونیه ، دا د ولې ولې باب
جام که ډک سترگې که پټې ، ټنگوه دې خوږ رباب
ورنزدې شه ورنزدې شه ، چې د یار شونډې شکرې
رَو په مینه مینه وکړي ، دوه خوږې خوږې خبرې

تــورې ســـترګې يـــې بلېـــړې لکـــه شـــمعې د معـــراج
دغــه سرو ســـترګو کـــې اور دی ، اور دی هـــم د اور عـــلاج
پــه سرو ګوتــو کــې جنــت دی کــه دوزخ دی کــه بقــا ده
ويــې ســوځه ســوځه خانــده خانــده ، ژاړه ژاړه دا دنيــا ده (۳۷)

**پايله:**

کلاسيکو شعر پېژنـدونکو شـعر او نظـم لـه وزن او آهنـګ سره تـړلی و او مـوزون کلام به يې باله ، خو اوسنيو شعر پېژندونکو د شعر د آهنګ او موسيقي بحث پـراخ کړی دی او تر ظاهري وزن او آهنګ ور هاخوا يې په کـې کنـاري موسـيقي ،بهرنـۍ موسيقي ، داخلي موسيقي او معنوي موسيقي هم شـامله کـړې ده. پـه دې ليکنـه کې د غني خان د شعر په داخلي موسيقي خـبرې شـوي او دا مـو څېړلـې ده چـې غني خان د خپل شعر لفظي داخلي موسيقي ته څومره متوجه و چـې پـه پايلـه کـې دا ويلای شو چې د پښتو ژبې د معاصر شعري بهير دغه ځلانده ستوري، چـې د ښـه شعر په روح پوهېده ، په دې هـم پوهېـده چـې ښـه شـاعري څنګـه وي ، د شـعر د ښکلا او زړه راښکون نخښې کومې دي او خپـل شـعر څنګـه د هـنر لـوړې پـوړۍ تـه ورسوي. د غني خان لټون (کليات) پـه سـلګونو داسـې بېلګـې لـري چـې د شـعر د هنري اړخ ښه ترجماني کولای شي ، د غني د شعر نور هنري اړخونه هـم ډېـر زيـات دي چې دلته يې په تولو خبرې نه دي شوي ، يوازې د هغه د شـاعرۍ پـه داخلـي لفظي موسيقي لنډ بحث شوی دی.

## ماخذونه:


۱- محمد اکبر کرګر ، غني د شګو په محل کې ، د سيد اصغر هاشمي سريزه، دويم چاپ ، هاشمي خپرندويه ټولنه ، جلال اباد ، ۱۳۹۵ ل کال ، ٦ مخ.

۲- شفيعي کدکني، محمدرضا ، موسيقی شعر، چاپ چهارم، تهران، آګـاه ۱۳۷۳ ، ۳۹۱ – ۳۹۳ مخونه.

۳- غني خـان ، لټـون (کليـات) ، د محمـد زبـير حسرـت پـه زيـار ، يونيورسـټي بـک ايجنسي ، خيبر بازار ،جندون پرنټينګ پريس ، پېښور ، ۲۰۰۵ م کال ،۲ مخ.

۴- غني خان ، لټون، ۷۰۳ – ۷۰٤ مخونه.

٥- غني خان ، لټون، ٣٦٦ مخ.
٦- غني خان ، لټون، ٧٩ مخ.
٧- غني خان ، لټون، ٥٠٩ مخ.
٨- غني خان ، لټون، ٧٢٣ مخ.
٩- غني خان ، لټون، ٥٧٤ مخ.
١٠- غني خان ، لټون، ٧٠٠ مخ.
١١- غني خان ، لټون، ٢٤٦ مخ.
١٢- غني خان ، لټون، ٥٧٥ مخ.
١٣- شفيعی کدکنی، محمدرضا . موسيقی شعر، ٨٢ مخ.
١۴- پورتنی اثر ، ٣٠٠ مخ.
١٥- غني خان ، لټون، ٦٤٥ مخ.
١٦- غني خان ، لټون، ٢٩ مخ.
١٧ غني خان ، لټون، ٥١٥ مخ.
١٨- غني خان ، لټون، ٢٦ مخ.
١٩- داکتر سيروس شميسا ، نگاهی تازه به بديع ، ويرايش دوم ، چاپ چهارم ، انتشارات فردوس ، تهران ، ١٣٨١ ش کال ، ٨٩ مخ.
٢٠- غني خان ، لټون،٣٢٤ مخ.
٢١- غني خان ، لټون، ٧ مخ.
٢٢- غني خان ، لټون، ١٧ مخ.
٢٣- غني خان ، لټون، ١٩ مخ.
٢۴- غني خان ، لټون،٦٩ مخ.
٢٥- غني خان ، لټون،١٣ مخ.
٢٦- غني خان ، لټون،٣٢ مخ.
٢٧- غني خان ، لټون، ٢٢٠ مخ.
٢٨- غني خان ، لټون،٧٨ مخ.
٢٩- غني خان ، لټون،٥٣١ مخ.
٣٠- غني خان ، لټون،٨٣ مخ.

۳۱- غني خان ، لټون،۸٦ مخ.
۳۲- غني خان ، لټون،٤۹۷ مخ.
۳۳- غني خان ، لټون، ۲۱۹ مخ.
۳۴- غني خان ، لټون،۲٤۳ مخ.
۳۵- غني خان ، لټون،۲۷۹ مخ.
۳٦- غني خان ، لټون،۳۲۸ مخ.
۳۷- غني خان ، لټون،۵۰۳- ۵۰٤ مخونه.

پوهنمل ډاکټرعزیزالله جبارخیل

# «پښتون » مجله د پښتنو د ویښتیا پر لور یو گام

**لنډیز:**

په دې لیکنه کې مو د(پښتون) رسالې (مجلې) او په هغې کې دخپرو شویو مطالبو په اړه دمستندو ماخذونو له مخې بحث کړی دی، دخپلواکۍ او ملي تبلیغ اړخ،دیني تبلیغ، دبربنډونې او افشا کولو، دمجلې دشعارونو، طبقاتي څېړني، د مظلومو ولسونو اړخونه په کې څېړل شوي. د ښځو برخه هم له پامه نه ده غورځېدلې، همدارنگه هغو پېښو ته هم په کې گوته نیول شوې چې دافغانستان په اړه (پښتون) رساله کې پرې بحثونه شوي دي.

**سریزه:**

کله چې په کوزه پښتونخوا کې انجمن اصلاح الافاغنه بنیاد کېښودل شو،دلیکوالو یوه ډله رامنځته شوه چې دهېواد پالنې، خپلواکۍ، قوموليې او دټولنې داصلاح لپاره یې اشعار ویل او لیکنې یې کولي،دهمدې انجمن د زیار په نتیجه کې د (پښتون) په نوم رساله خپره شوه. د دغې تاریخي مجلې په اړه په دې لیکنه کې په زړه پورې بحثونه شوي دي او د دې مجلې دتاسیس نه نیولې په تاریخي سیر او ادبی فعالیتونو باندې خبرې شوي دي.پښتو ژبې او ادب ته د دې مجلې په پیرزوینو رڼا اچول شوي او په هغې کې دخپروشویو موضوعاتو په اړه څېړنیز،هراړخیز بحثونه شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

داچې (پښتون ) مجله په لره پښتونخوا کې یوه با اهمیته تـاریخې، ادبي مجلـه و چې په خپله غېږ کې یې پاخه لیکوالان وروزل، د دې لیکنې اهمیـت پـه دې کـې دی چې له دغو ادبي فعالیتونو دادب دزده کړیـال خـبر شي او پـه دې اړه معلومـات ترلاسه کړی او هم ترې په خپلو لیکنو او څېړنیزو مقالو کې دیـو ماخـذ پـه توګـه ګټـه واخلي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنـې او لیکنـې مهـم مقصـد او موخـه داده چـې پښـتانه لیکـوالان او محصلان د(پښتون) مجلې دادبي فعالیت په باب معلومات ترلاسه کړي خصوصاً پـه افغانستان کې ددې با اهمیته مجلې (پښتون) او په هغې کې دخپـرو شـویو مطـالبو په اړه لیکوالان کافي معلومات نه لري، نو دوی به ددې څېړنې له لارې پـه زړه پـورې معلومات ترلاسه کړي.

## دڅېړنې پوښتنې:

- (پښتون) (رساله) (مجله) دکوم انجمن له خوا څه وخت تاسیس شوه؟
- (پښتون) رساله کې څه ډول مطالب خپرېدل؟
- دپښتو ژبې او ادب په بډاینه کې (پښتون) څه ډول رول لوبولی دی؟
- (پښتون) په خپله غیږه کې څه ډول لیکوالان روزلي دي؟

## دڅېړنې روش:

په دې څېړنېزه مقاله کې تشریحي ـ تحلیلی روش نه کار اخستل شوی دی.

## متن:

((پښتون)) دپښتون ادب په بڼ کې لومړنی تا ند نیالګی دی چـې د پښـتون مالیار په لاس کېنولی شو. پښتانه چې زیاتره بې تعلیمه وو،نوپښتوژبې تـه چـا زیاتـه پاملرنه اوتوجه نه کوله.لراوبر په فار سی اوانګریزۍ ژبه لیـک لوسـت کیـده انګریـزي سر کاري ژبه وه،تعلیم یافته کسان هم له انګریزۍ او فارسي نه اغېزمن وو.پـه ټولنـه کې کله کله داسـي شخصـیتونه او نهضـتونه راپیـداشي چـې دویښ او بیـدار ضـمیر پالونکي او د ټولنې نیمګړتیـاوې ورتـه ښـکاره او پـه بشـپړولو پسـې بـډې راووهي.پـه پښتني معاشره کې یوله دغو شخصیتونونه عبد الغفارخان (باچاخان) اوتحریکونه

انجمن اصلاح الا فاغنه او خدايي خدمتگار تحريک دی.دوی د نورو سياسي،اجتماعي،اقتصادي هلوځلو ترڅنګ پښتو ژبې ته هم توجه راواړوله،د نثراونظم لمن يې پراخه کړه او مقصدي شاعري يې پيل کړه په دې لړکې ښاغلی مخفي صاحب په قومي اواصلاحي موضوعاتوشعرونه وليکل،چې اغيزې يې په نوروپښتنوهم وشوې چې پام يې قومي اصلاحي کارونوته راوګرځېد.په دوی کې پاچاخان،عبدالاکبرخان اکبرديادونې وړدي چې دانجمن اصلاح الافاغنه بنياد يې کېښود.د دې انجمن له رامنځ ته کيدوسره دليکوالويوه ډله راپيداشوه.چې دهيواد پالنې،خپلواکۍ او قومولۍ اودتپولنې اصلاح په روحيه يې شعرونه ويل اوليکنې يې کولې دهمدې انجمن دزياراوکوښښ په پايله کې د ((پښتون)) په نوم رساله (مجله) د۱۹۲۸ع کال په می کې د عبدالغفارخان (فخرافغان) په مديريت خپره شوه، چې کشرمدير يې اروابناد محمداکبرخادم و.

دا رساله چې د مليونونو پښتنود ازادۍ غوښتونکو اوپه وطن مينوتينګ سنګرو، نوځکه دانګريزي حکومت د سترګو اغزی وه اوخوځوځلي يې بنده کړې او چلوونکي يې زندان ته اچولي وو، ((پښتنون)) مجله د ۱۹۲۸غ کال په می کې تاسيس، له دووکالو خپريدووروسته د۱۹۳۰ع کال اپريل کې بنده شوه.

«دسول نافرمانۍ» له شروع کيدو سره باچاخان اوددوی ډېرملګري بنديان شول، نو«پښتون » مجله هم له خپريدوپاتې شوه،چې دادمجلې لومړۍ دوره وه. د«پښتون» مجلې دوهمه دوره د۱۹۳۱ع کال په می کې پيل شوه په جيل کې دخادم صاحب دصحت دخرابۍ په وجه دمجلې دوهم مدير عبدالخالق خليق وټا کل شو.داوخت باچاخان له زندانه راخلاص شوی و.د۱۹۳۲ع کال دجنوري ميا شتې ګڼه کتابت نه خلاصه اوچاپ ته ليږل کيدله چې يوځل بيا باچاخان اوملګري يې دانګريز حکومت له خوا ونيول شول اومجله بنده شوه. له څوکاله بنديدووروسته د۱۹۳۸ع کال په می کې بيا شروع شوه. داځل يې هم کشر- مدير ښاغلی عبدالخالق خليق و او په مياشت کې به درې ځلې خپريدله. په دې دورکې ګورنرراج و. د دې دور«پښتون» کې د ماسټرعبدالکريم يوخاص مضمون د«ننني دنيا» تر سر ليک لاندې چاپ کيده، چې دجنګ په حالاتويې ډېره ازاده تبصره کوله اوازادخيالوخلکو به ډېره خوښوله. ګورنرته يې د «ننني دنيا» ترجمه وروړه، هغه

غوصه شو، ماستر عبدالکریم يې بندی کړ او له خلیق صاحب نـه يـې زرروپـۍ په ضمانت کې وغوښتې،هغه له ضمانت نه انکار وکړ اومجلـه د دریـم ځـل لپـاره پـه ۱۹۴۰ع کال دسمبرکې بنده شوه د«پښتون» مجلې څلورمـه دوره پـه ۱۹۴۵ع کـال کې پیل شوه داځل مجله په ډېر قوت اوقدرت دیوې اوونـۍ جریـدې پـه توګـه چـاپ کیدله چې درې کاله يې پرله پسې خپرونې وکړې، اود۱۹۴۷ع کال پـه اګسـت کـې چـې پاکسـتان جوړشو.نوپښـتون مجلـې هـم د دې میاشـتې پـه لـومړۍ نیټـه خپلـه وروستۍ ګڼه خپره.

کړه او نوره بنده شوه کله چې په۱۹۷۲ع کال دنشـنل عـوامي پـارټۍ حکومـت جوړشو، نودې حکومت یوځل بیـا د مجلـې لـه چـاپ کولـو پابنـدي اوچتـه کـړه، خـو مخکې له دې چې د مجلې کومه ګڼه خپره شي، دنشنل پـارټۍ حکومـت ړنـګ شـو اوپښتتون مجله له چاپ پاتې شوه.

تردې راوروسته يې په تاریخي پس منظر له رڼااچولوډېه شوه،په پښتوادب کې يې په اهمیت بحث اوخبرې شوې دي.

پـه «پښـتون» رسـاله (مجلـه) کـې رنګارنـګ موضـوعات خپـاره شـوي دي چـې هریوې دلته په لنډ ډول بیانیږي :

## دخپلواکۍ اوملي تبلیغ اړخ:

د«پښتون» مجلې ترټولو لوی هدف ملي تبلیغ اودازادۍ بیان دی، چې په هـره لیکنه کې يې د ملي تبلیـغ خیـال سـاتلی دی. «پښـتون» غـواړي پښـتون ازادۍ تـه وهڅوي او دهغې په قدریې پوه کړي په دې برخه کې يې په نظم اونثر ډېـرې زیـاتې لیکنې کړي، مشاعرې يې کړې. ښوشعرونو ته يې انعامونه اونښانو نه ورکـړي دي.«د ازاادۍ سندره،دازادۍ سره یو دوه خبرې» د که دې خیال دازادۍ دخپل وطن وي، (مشاعره) یواځې څوهغه سرلیکو نه دي چې د پښتون دلومړي کـال پـه دریمـه ګڼـه کې يې ځای ونیو.

## د دیني تبلیغ اړخ:

د اسلامي ارشاداتواوهدایاتو پـه رڼـا کـې پـه سـاده روانـه پښـتوله ټولوپښـتنونه غوښته شوې چې دبې اتفاقۍ، نارو او تربګنـۍ، خپـل منځـي جګـړو، وژنـو نـه ځـان

وژغوري. په یوه خوله یو لاس دیوه هدف لپاره په یـوه لارروان شي، علماوپـوهې ته مخه کړي اوله جهل اوناپوهۍ نه ځان وساتي.

## د بربنډونې او افشاکولو اړخ:

«پښـتون» مجلـې دخپرونوبلـه برخـه دانګریـزي حکومـت دنـاروا اوتېریـو ظلمونواوغیرانساني سلوک بربنډول اوښکاره کول وو په دې بـاب یـې مسـتندمطالب وړاندې کړي، تر څوخلک دانګریز په وړاندې قیام تـه هڅـوي اورا پـاڅوي.ددې ډول لیکنو یوه مهمه سلسه د باچاخان دجېل خاطرې دي چـې «دشـلمې پیـړۍ تهـذیب اوجیلخانې زه په جیلخانه کې»ترعنـوان لانـدې دپښـتون دلـومړي کـال لـه څلـورمې ګڼې نه راپیل او پرله پسې خپرې شوې دي په دغه برخه کې بـل مضـمون داروابـاد ماسټرعبدالکریم دی چـې د«ننـنۍ دنیـا» پـه سلسـله کـې دنـړۍ د روانـو سـیاسي پېښوپه رڼاکې دانګریزانو لـه ظلمونـو او وحشـتونو نـه پـرده پورتـه کیدلـه تـردې چـې دهمدې مضمون په خپریدو سره دمجلـې دریمـه نشـراتې دوره ختمـه اولیکـوال یـې جېل ته واچول شول.

د مجلې دشعارونو برخه: «پښتون» مجله له خپل لومړي پیل نه په خپل لـومړي مخ کې ملي او ویښوونکي منظوم شعارونه لري. دلومړي کال په ګڼـوکې د«پښـتون» دنا مه په سر دملی شاعر محمد اکبرخادم دابیت خپورشوی:

نه کلونه دغلام په غلامۍ کې
نه ساعت د ازادۍ که څنکدن وي

**۲-** دپښتون تر نامه لاندې دفضل احمد افغان دا لاندې ټوټه راتله:

نورقومونه چې څنګ دي په ترقۍ کې
علم وفن زده کړه که داسې کیده غواړې
ته په خپله دځان قدر وکه پاڅه
که دنیا کې په عزت اوسېده غواړې
ځان میده په ګټه کړه لکه نکریزې
په تلې کـه د اشنا لګېده غواړې
سر اره کړه درمنځ په شان سـل ځایه
تورې زلفـې دصنم که لیده غواړې

وار خطا دي خطرې دلرې نه کړې
کـه منزل ته دمقصود رسیده غواړي

**۳-** پـه دریمـه دوره کـې بیـا دمجلـې پـه لـومړي مـخ دغنـي خـان داشـعر خپرېده:

چې خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړوم راځـــئ توکړئ پرې لاړې
چې په خپلو وینو نه یم لمبیدلی
په مامه پلیتوئ دجومات غاړي
چې قطرې قطرې مې فوځ دانګریز نه کړی
مورې ماپسې په کوم مخ به ته ژاړې
یا به دابې ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوځې ویجاړې

**۴-** د مجلــې پــه څلورمـه دوره کـې دپښـتـې پـه لـومړي مـخ بیـا دپـورتني شعریوازې ړومبی اوورستی بیتو نه خپریدل.

## طبقاتي څېړنې برخه:

د«پښــتون» مجلــې بلـه مهمـه برخـه داجـتماع د بېلـو بېلـو طبقوپـه بـاب څېړنــې او معلومـات دي خصوصـاً د خپـل هیـواد دبزګرانـو پـه بـاب یـې ډېـرې لیکنــې کـړې دي د دوي وضـع یـې څېړلـې او پـه دوی یـې دحکومـت دظلمونـو نـه پـرده پورتـه کـړې ده پـه دې برخـه کـې « سـړي لـه څـومره ځمکـه بـس ده» او«دهندوسـتان بدنصـیب زمینـدار» تـر سر لیکونـو لانـدې مضـمونونه او نـور یـا دولای شو.

## د تاریخي مطالبو اړخ:

مجلــې د تــاریخ پــه بــاب پــوره ونــډه اخیســتې ده، خصوصـاً د پښــتنو د تــاریخ پــه بــاب د ښـاغلي قـاضي عطـاءالله خـان مهـم اثـر «دپښــتنو تــاریخ» دهمــدې مجلــې پــه پــاڼوکې پیـل شـوی او د۱۹۳۸ع کـال پـه ګڼـوکې یـې خپرېـدل پیـل شـول. نومـوړی تـاریخ چـې د معتبروکتـا بونوپـه اسـاس اواسـتناد څېـړل شـوی اوبیـا وروسـته پـه څلـورو ټوکونـوکې خپورشـو.خودلومړي ځـل

خپريـدو ويـاړيي دپښـتون مجلـې پـه برخـه دي.پـه دې سربيـره نـورې تاريخي ليکنې، لکه دبغداد تاريخ، هم په کې خپرې شوې دي.

**د مظلومو اولسونو اړخ:**

دمظلومو اولسونو په باب هم په «پښتون» کې ډېر مطالب خپاره شوي او هغوی يې د ښکېلاکگررو په مقابل کې قيام او پا څون ته درولي اوهڅولي دي يوې خوا تـه يې د اسـتعمار تـر واک لانـدې پښـتانه ژړل، ورسره پـه څنـگ کـې يـې دهندوسـتان دمظلـوم اومحکـوم اولـس پـه حـال اوښـکې تويـولې او د دې پـه څنـگ کـې يـې د فلسطين مظلوم اولس ته پام اړولی چې «حال زارفلسطين» او«دفلسـطين حـال زار» يې ديادولودي.دمظلوم حمايت اودهغوی په باب اواز اوچتول دا ښـيي چـې پښـتون مجلې نه يواځې دخپل اولس لپاره ازادي غوښته، بلکـې دنـړۍ دټولـو مظلومـو وگـړو لپاره يې دازادۍ اوازاوچت کړی او له هغـوی سره يـې دزړه نـه همـدردي ښـودلې ده اود انگريـزي اسـتعمار ددامونـود غوڅولـو لپـاره يـې ټـول ښـکيل شـوي او مسـتعمره اولسونه راولاړول غوښتل او دايې په ډېره ميړانه په خپلومنثورو او منظومو ليکنـو کـې په ډاگه ښودلې او څرگنده کړې ده.

**د ښځو برخه:**

«پښتون» مجلې دښځود ټو لنيزژوند، دهغوی دذهن دروښانولو اودژوند په نـورو بر خوکې خپل مثبت رول اداکړی او دښځو په برخو کې يې مضامين او اشعار نشرته سپارلي دي په دې برخه کې سيدې بشری بـيگم (س،ب،ب)پـه نـوم او الـف جـانې خټکې په پر له پسـې ډول خپلـې ليکنـې مجلـې تـه ليـږلي اونشرشـوي دي او نـورو خويندوهم په دې کار کې برخه اخيستې ده. د مثال په ډول داقبال پروين يوسفزۍ «د ښـځوتعليم» يوښـه مضـمون دی، د الـف جـاني خټکـې«قـومي ترقـي» نظـم اود(خورارمان وگټه) نظم ديادونې وړدي. له دې نظم نه يوڅوبيتونه د نمونې په توگـه دلته راوړل کيږي:

دوره دپلارنيکه بايلی هندوستان اوگټه
تللی عزت دسيک، هندو اومسلمان اوگټه
دپاکـستان په خيالي خبرو مه غوليږه
فيرنگی اوباسه رښتينی پاکـستان اوگټه

ته يې پښتون اوپښتانه په پښتوښه ښکاريږي
ټينګه پښتوکړه دزړو پښـــتنوشان اوګټه
دالف جان دزړه ارمان دی مکمل ازادي
رورمي شی څه!دخپلی خوردزړه ارمان اوګټه

**تبصرې، خبرونه اواعلانونه:**

«پښتون» مجلې په ملي او بين المللي موضوعګانو تبصرې کړي چې معمولاً بـه له ملي نهضتونوسره تړلې وي په دې وسيله به يې پښتون اولس ته په ډېره ساده ژبـه سـياسي مسـائل څېـړل اوورانـدې کـول ترڅودهغـوی سـياسي تـنـده پـرې ماتـه شي همدارنګه مجلې دملي مسائلوپه باب خبرونه خپرول اوپښتون ملت بـه يـې پـه مـلي غورځنګونو او ملي هڅوخبراوه. دغونډو،ملي مشاعرواوملي حرکتونوپه باب خبرونه بـه يې په بېلو بېلو ګڼوکې وړاندې کولې. دغه رنګه مجلې اعلانونـه هـم خپرول.پـه دغـو اعلانونوکې رنګارنګ اعلانونه شامل وو،ځينې يـې دخـدايي خـدمتګارۍ پـه بـاب او بعضې يې دځينوتاجرانواو دکاندارانو اعلانونه وو چې وخت پـه وخـت «پښـتون» کـې خپاره شوي دي، البتـه ځينـې اعلانونـه يـې دمـالي بنسـټ دپياوړتيـا پـه خـاطرهم نشرول.کله کله دچاپ شوو کتابونو اعلانونه هم خپرېـدل چـې دمدرسـو لپـاره چـاپ شـوي وو...همدارنګـه وخـت پـه وخـت د«پښـتون» داداري لـه خـوا خبرتيـاوې هـم خپرېدې، چې دهغو له جملې څخـه يـې يـو«مضـمون نګـاران صـاحبان دې توجـه اوکړي!» ترسر ليک لاندې وو، چې دوی يې د پښتواملاء اورسم الخط ته متوجه کړي دي،چې دپښتون مجلې دپښتو رسم الخط مطابق مضامين اواشعار ورتـه راولېـږي او بله خبرتيا اوغوښتنه يې له درنولوستونکونه کړې چې هرڅوک چې «پښتون » رسـاله لولي، له لوستنې وروسته دې نوروپښتنوته ورکوي، چې هغوی يې هم ولـولي، ترڅـو د «پښتون» لوستونکي ډېرشي اوهرچاته يې فايده ورسېږي.

**«پښتون» اوافغانستان:**

«پښتون»مجلې تل دافغانستان له واقعـاتو څـان بـاخبر سـاتلی دی اولـه پښـتو سره يې خاصه مينه او دلچسپي لرلې ده. کله چې په ۱۹۲۸ع کال کې غـازي امـان الله خان،ملکـــه ثريـــا اوددې نـــورملګري داروپاپـــه ســـفرروانېږي اوبيـــا بېرتـــه راستنېږي،«پښتون» په دې سفر ښه تبصره کوي اودافغانسـتان پـه ټولولاسـته راوړنـو

دخوښۍ اظهارکوي. اماکله چې په ۱۹۲۹ع کال په افغانستان کې کورني اړودوړ اواغتشاش پېښېږي، نوبيا «پښتون»دامان الله خان ترځنګ ودرېږي اوملاتړ يې کوي په اغتشاش کې دانګرېزله پټ لاس نه پرده اوچتوي اوپه اوچت اواز نړۍ ته اعلان کوي چې داشورش دافغانستان دزاړه دښمن دسيسه اوتوطيه ده انجمن اصلاح الافاغنه چې «پښتون» يې نشراتي ارګان و، د«جلال احمد افغاني» په نوم موسسه جوړوي او د افغانستان دنجات لپاره مرسته کوي. «پښتون» دا وخت پښتنوته په لوړآواز غږکوي چې يوشئ، ويښ شئ،کنه ورک به شئ، زوړ دښمن به موورک کړي !ای پښتونه !دمال، ځان اووينې کفاره ورکړه، که دې ته تيارشوئ، اميد دی چې څه به ترې جوړشي.

«پښتون» په تبصرو اوخبرو کې داپه ګوته کوي چې په دې بغاوت کې د انګريز لاس دی په يوه خبره کې وايي :«جرمني اوفرانسيس اخبارات وايي چې دافغانستان په موجوده بغاوت کې دفرنګيانو لاس معلومېږي »«پښتون » مجله ديورپ، امريکې او استراليا ترځنګ افغانستان ته هم رسيده، د دې په ورتګ سره په امان الله خان کې هغه خوځښت راغی، چې دپښتون غږ په نوم رساله يې راوباسله پښتو ژبه يې په تعليمي نصاب کې شامله کړه. څه وخت چې باچاخان کابل کې له امان الله خان سره ليده کاته کړي وو، نو دامان الله خان پښتوزده نه وه، ولې کله چې هغه افغانستان پريښی او بمبۍ ته رسيدلی وو،هلته ورسره بيا باچا خان ليدل کړي وو، چې يې بيا ورسره امان الله خان په پښتو ژبه خبرې کولې، چې دانېغ په نېغه دپښتون مجلې اغېز اواثرو چې په اعليحضرت امان الله خان يې کړی و ښايي د ده په خواکې د‌ېرو دري ژبو افغانانو هم پښتو زده کړې وه.

«پښتون» د پښتنو د پښتون زړه، پښتون اواز په پښتني مينه پښتنو ته رسول غوښتل، چې په دغه لاره کې يي ډېرې سرې تودې بنديدل اوخلا صېدل ليدلي دي، خو هدف ته د رسيدولاريې پريښې نه ده. له «پښتون» مجلې سره په سياسي، مذهبي، تاريخي، معاشي، تنظيمي او اخلاقي لحاظ د ليکوالو يو غټه ډله ملګرې شوه له هغو سره لوستونکي هم پيداشول په شعر کې د ګل او بلبل، وصل اوهجران ځای د هيوادپالنې او خپلواکۍ، يووالي او وروروليی موضوعاتو ونيو. روايتي شاعرانه اصطلاحاتو ته نوې معنا او مفهوم ورکړل شول، نثرد روايا‌تي کيسو نه د مقصد

اوژوندي ضرورتونو په لور راوستی شو.په فکري لحاظ ادب دعربي او فارسي لـه اثر نه خلاص کړی شو.ژبه ساده سوچه روانه پښتوکړای شوه روزمره محـاورې پـه کـې ځـــای شـــوې، پښـــتوژبې او ادب سره دخلکـــو مینـــه پیداشـــوه دپښـــتوادب لیکوالواولوستونکو شمېراومعیار په خپل خپل رنګ کـې پـر مـخ تلـو. نجونـو بـه سرې جامې په غاړه پښتو ترانې ویلې! او پښتون اخباربـه یـې لوسـت، د ازاد ښـوونځي پـه مشاعره کې د شاعرانواشعارو طوفان جـوړکړ. د ماسـټرعبدالکریم «ځـولۍ ځلونـه» او دغني خان «ګډې وډې» د پښتو نظم اونـثر ښـکلې اونماینـده نمـونې دي پښـتوژبې اوادب دنوې زمانې دمنزل په لور دتلـو لاره ومونـده دپښـتون رسـالې د مضـامین پـه سبب پښتو ژبې اوادب سره دپښتون ولس مینه اومحبـت پیداشـو(۸) د خـدایي خـد متګار تحریک موسس د پښتون مجلې په باب لیکي، په جیل خـانو کـې مـا د خپـل قوم په حا لاتو باندې په ښه شان سره غـورکړی و.زه پـه دې نتیجـه ورسـیدم چـې پـه دنیا کې هیڅ قوم بغیر دخپلې ژبـې نـه ترقـي کـولی نـه شي اوپـه هغـوی کـې علـوم اوفنون پیداکیدی نه شي، مادااراده کړې وه چې ضرور به یوه رساله پـه پښـتوکې د خپل قوم د پوهولو، د دنیا د حالاتونه د خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مایل کولـو لپاره جاري کوم (۹) او بیا لیکي: د اجازت نـامې لپـاره مـې حکومـت تـه درخواسـت ورکړو، اجازت نامه مې حاصله کړه او په ۱۹۲۸ع کال کې مې د«پښتون» په نوم یـوه رساله دپښتوپه ژبه کـې داتمانزونـه جـاري کـړه. (۱۰) او بیـا د دې مجلـې د اولسي-اوبین المللي اثرپه باره کې لیکي: دې رسـالې د پښـتوپه ښـځواو نـرو کـې یـوه نـوې زندګي پیدا کړه اودا رساله په پښتوکې ډېره هردلعزیزه شـوه. دا خپـل ملـک خـوپریږ ده پښتانه په یورپ او امریکه او استرالیا کې د دې نه خبرشو، نو هغوی به غوښـته او امـداد بـه یـې هـم ورسره کـوو. د پښـتنو یـې پښـتو طـرف تـه شـوق پیـدا کـړو اوپـه افغانستان کې هم لوستل کیده. (۱۱)

د «پښتون» مجلې په غیر کې ډېرو لیکوالو وده کړې ده، څه په کې پاخه او څه یې نو آموزه وو، عبدالاکبرخان اکبر د یولوی سـیاسي رهبراواصـلاحي شخصـیت سره سره یوستر پښتون لیکوال هم و، ده هم په پښتون رسـاله کـې پـه وطنـي، اصـلاحي اواقتصادي موضوعاتو لیکنې کـړې دي. بایـد وویـل شي چـې د باچاخـان تقریرونـو، دقاضي عطاءالله خان، محمداکبرخادم، عبدالخالق، ماسټرعبدالکریم، عبـدالمالک

فـدا، غنـي خـان، طوفـان سرحـدی، سـيده بشری بـيگم، الـف جـان خټـک، محمـد نوازخټـک اوځينونـورو نثرونـو اونظمونـو«پښـتون»مجلـې تـه لـوړ مقـام ورکـړی او پيغـام يـې نړيوالوتـه رسـولی دی. د مجلـې پـه غيږکـې دروزل شـوو يـو شـمېر ليکوالـو اوشـاعرانونومونه پـه لانـدې ډول يـادولی شـو:گل محمـدخان، محمـد اشرف خـان مفتـون،غمگين غـم ابـا دی، شررصـاحب، عمرگـل، فضـل منان،عبـدالحنان، وحيـدالله، اقبـال پـروين يوسـفزی، مولانامحمود،صـبح صـادق خـان،حکيم دلبرخان،کرامـت شاه،ميرحسـن خان،عبـدالولي خـان، سيدمحمد،ظهورالحق،شـبنم، مولانامحمداسـلام ديوبنـدی، حکـيم محمداسـماعيل، ابـوالامراد، ملـک شـيرعلي خـان، شـيرين خـان، شـيرمحمدمينوش، عبـدالغفران، امـين صـاحب افغـانی، بـابو غـلام رسـول، محمد عارف نسيم، سعادت خان جلبل او نور.

۱۲د«پښـتون»مجلـې نـه دنمـونې پـه ډول ديوڅـو شـعرونو پـه راوړلـو ليکنـې ته دپای ټکی ږدم.

نوی باب نوی رباب دی نوی کړنگ دی
نوی ساز نوی شهباز دی نوی ترنگ دی
نوې زغره نوې تـوره نوی ډال دی
نوی بم دی نوی توپ نوی تفنـگ دی
پښـتون نوی قانون نوی مجنون نوی
ياد شاه خان په نوي نوي فـخر رنـگ دی
د شين وطن گازره اوړه، پيازبادرنگ اوګټه
د خوږ چمن سيب آلوچه، ناکه بټنگ اوگـټه
ړومبی ښکاره کړه خپله پنجه کې ترخځ دفرهاد
طوفان بيا دشيرينۍ دگونگروشرنگ اوګټه

«پښـتون» ديـو خيـال رسـاله ده اوهغـه خيـال دادی چـې پښـتون قـام اوچـت کړي،بـدل يـې کـړي،انقلاب پـه کـې راولي، زلمـوکې يـې مضـبوطه اوکلکـه اراده پيـداکړي نوځکـه پښـتون شـاعر وايـي: (لکـه دغرهسـې ولاړ پـه سمندرکې يمه).

**پایله:**

(پښتون) رساله (مجله) داصلاح الافاغنه دانجمن له خوا په ۱۹۲۸ع کال په می میاشت کې دخان عبدالغفار خان په چلونه خپره شوه.

دا رساله دملیونونو پښتنو دازادۍ غوښتونکو او په هېواد مینو ټینګ سنګر و، چې په خپله غیږ کې یې پاخه لیکوالان وروزل او هغو بیا په خپل وار له ځانه داسې قیمتي اثار پښتو ژبې او ادب ته ډالۍ کړل چې تر ننه پرې دابې زرغون او ویاړمن دی.(پښتون) کې دماستر عبدالکریم یو خاص مضمون د (نننۍ دنیا) تر سرلیک لاندې چاپ کیده، چې دجنګ په حالاتو یې ازاده تبصره کوله. دپاکستان له جوړېدو سره سم یې یوه ګڼه خپره او بیا بنده شوه، وروسته بیا کله خلاصه او کله بنده خپل تاریخي سیر واهه، اوس هم خپرېږی او دپښتو ادب بڼ په سمسورتیا کې خپل رول ادا کوي.

(پښتون)دپښتنو دپښتون زړه پښتون اواز په پښتني مینه پښتنو ته رسول غوښتل، چې په دغه لاره کې یې ډېرې سرې تودې بندیدل او خلاصیدل لیدلی دي،خو هدف ته درسیدو لار یې پرینښې نه ده.

**مأخذونه:**

۱ـ عبدالخالق خلیق، دازادۍ جنګ، اداره اشاعت سرحد، پښور.

۲ـ حبیب الله رفیع، پښتو خپرونې (لومړی ټوک)، د پښتود پرمختیا اوپیا وړتیا امریت، دولتي مطبعه کابل ۱۳۵٦هـ.

۳ـ همدا اثر.

۴ـ همدا اثر.

۵ـ الف جان خټکه، د خور ارمان وګټه (نظم)، پښتون رساله (مجله)، ۱۹۴٦ کال، د اپریل لومړی.

٦ـ «پښتون» رساله ۲۴ مارچ ۱۹۴٦ع کال.

۷ـ حبیب الله رفیع، پښتو خپرونې، دولتي مطبعه، ۱۳۵٦هـ کال چاپ.

۸ـ ډاکتر عبدالو حید خان، خدایي خد متګار تحریک او پښتو ادب، پېښوریونیورستې، ۹۳-۱۹۹۲ع کال.

۹ـ عبدالغفار خان (باچاخان)، زما ژوند اوجد جهد، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، پېښور، ۲۰۰۸ع کال.

۱۰- همدا اثر.

۱۱- همدا اثر.

۱۲ـ خان عبدالولي خان، باچاخان او خدايي خدمتګاري، لومړی ټوک، کوهاټ روډ، پېښور۱۹۹۳ع مارچ.

۱۳- پښتون رساله، ۲۴ مې ۱۹۴٦ع کال.

۱۴- پښتون رساله، ۱۹۴٦زېږديز کال، د مې لومړۍ نېټه.

۱۵- پښتون رساله، ۱۹۴٦ع کال، د مارچ ۹ مه.

پوهنیار مریم مهان

# د پښتو ژبې د ستر شاعر اشرف خان هجري شاعري

## لنډیز:

په دې مقاله کې د اشرف  خان هجري لنډ ژوند لیک ته اشاره شوې ده چې  د خوشحال خان خټک مشر زوی دی او په پښتو ژبه کې یو ښکلی دیوان لـري اشـعار یې پاخه دي زیاتره یې غزلونه دي.

اشرف خان هجري درې زامن درلودل چې افضـل خـان خټـک (تـاریخ مرصـع مولف)مشر زوی دی او نامدار خان او شمشیرخان یې دوه نور زامن دي.

اشرف خان هم د خپل پلار په څېر قید تېر کړی او دمغلو مخالیفتونه یې کـړي دي.په قید کې غلی نه دی ناست، بلکې شعرونه یې ویلي چې هـر بیـت یـې دهجـر درد او غم نارې وهي.

هجري په خپلو شعرونو کې له خپلـو زامنـو خوښـې څرګنـده کـړه همـداراز یـې خپل پلار خوشحال خان خټک ډېر ستایلی او خپل ځان یـې د هغـه د ادبي مکتـب شاګرد ګڼلی دی. سره له دې چې خوشحال خټک ترې ناراض برېښېده، خـو ده بیـا هم د پلار ستاینه ځان ته لوی ویاړ ګڼلی دی.

هجري په خپلـو شـعرونو کـې د مغلـو نـاکردې هـم بیـان کـړي دي او لـه خپلـو پښتنو یې پلوي کړې ده. په شعر کې یې د ژوند هر اړخ ځلولی دی.

نوموړي د پلار د ژوند په ډېرو اړخونو خبرې کړي، خو پـه ټولـه کـې یـې د پـلار ټولنیز  او سـیاسي اړخونـه ښـه روښـانه کـړي او چـې کلـه سـړی د ده د پـلار د ژونـد

حالاتو ته ځیر کېږي، نو په ورته وخت کې د نوموړي وړتیا او استعداد هم ښه معلومېږي. د دې ترڅنګ د نوموړي په شاعرۍ کې د بېلابېلو فنونو کارول هغه نادره ده چې د ده اشعارو ته یې لا ښکلا او رنګیني ورکړې ده.

## سریزه:

که چېرې موږ دادب تاریخ ته نظر واچوو نو دا به راته جوته شي چې دادب او ادبیاتو تاریخ د ډېر لوړ مقام درلودونکی دی، چې ددغه ادب په وسیله زموږ هیلې، خوشحالي او جذبات انعکاس مومي، ادب ادب پوهان او لیکوال هغه خلک دي چې خپل احساسات، جذبات، هیلې او هغه څه چې په جامعه کې ویني ټول په داسې ژبه نور لوستونکو ته وړاندې کوي چې لوستونکي کټ مټ په کې ځان دخیل وبولي او کله ناکله یې د احساس مراندې هم را کاږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې ارزښت دا دی چې د اشرف خان هجري د شاعرۍ هغه اړخونه رابرسېره کوي چې تر اوسه پوري یا دقیق نه دي را برسېره شوي او یا هم ورته د څېړونکو پام نه دی ور اوښتی، ځکه په ټوله کې نه یوازې د اشرف خان هجري، بلکې د اکثرو پښتنو شاعرانو د شعر ځانګړنې او ښېګنې په ګوته شوي، خو ځینې لکه څنګه چې لازمي دي هغسې نه دي څرګند شوي او یا یې د شعر ارزښتمنې برخې نه دي په ډاګه شوي، نو ځکه په دې بحث کې د اشرف خان د معرفۍ ترڅنګ د نوموړي د شعر لطافتونه او ظرافتونه هم تر بحث لاندې نیول کېږي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې ولې اشرف خان هجري د بابا تر نورو زامنو غوره دی او یا د ده شاعرۍ ولې تر نورو حساسه، ظریفه او په زړه پوري ده، یعنې دا څېړنه زباتوي چې هغه کوم لاملونه و چې بابا او کورنۍ ته یې تر نورو شاعرانو او لیکوالو د هجري شاعري غوره کړې وه، ایا د مشرۍ خبره وه او که نه په شعر او نثر کې څه خاص داسې څه و چې اشرف خان ته یې تر نورو غوره او اوچته مقام ورکړی و.

**د څېړنې پوښتنې:**

دا څېړنه لاندې پوښتنې ځوابوي:

- ✓ اشرف خان هجري څوک و؟
- ✓ د اشرف خان هجري شاعري څه ډول شاعري ده؟
- ✓ ايا اشرف خان د خوشحال د کورنۍ او خپل عصر له شاعرانو غوره و؟
- ✓ اشرف خان کلاسيکه شاعري کړې او که معاصره؟
- ✓ اشرف خان د چا د سبک پير و؟
- ✓ ايا شاعري او ليکوالۍ ورته له چا په ميراث پاتې وه؟

او دې ته ورته ځينې نورې کوچنۍ پوښتنې يې په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې ميتود يا روش:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحليلي، تشريحي او کره کتنيز ميتود څخه استفاده شوې ده.

**اصلي متن:**

په پښتو ژبه کې زموږ پياوړي ادب پوهان او ادب ليکونکي د خپې ژبې دپياوړتيا لپاره تر حده هڅه او هاند کړی او په ادبي زيور سمبال اثار يې هيوادوالو ته وړاندې کړي دي، لکه پياوړی او غيرتي شخصيت خوشحال خان بابا، صوفي شاعر عبدالرحمن بابا، نازک خيال شاعر عبدالحميد مومند او داسې نور پاخه شاعران او ليکوال چې په دغه ډله شاعرانو کې چې د ادب په برخه کې يې واقعي خدمت کړي او خورا ښايسته ادبي اثار يې په ميراث را پريښي يو هم نامتو خوږ ژبی او پر پښتو مين شاعر اشرف خان هجري دی چې د نثر او نظم په برخه کې يې رنځونه، ناهيلۍ او کړاوونه ګاللي او خپل د قدر وړ اثار يې همدغې ټولنې ته وړاندې کړي چې د لوستونکو ادبي تنده پرې ماتيږي، نو ځکه يې دا حق کېږي چې يو ځل يې بيا د ژوند پاڼې را واړو او ويې څېرو چې ده خپلې ژبې او ولس ته کوم خدمات کړي او پر موږ يې حق څه دی؟

## د اشرف خان هجري ژوند:

اشرف خان د خوشحال خان مشر زوی دی چې په ۱۰۴۲ هجري قمري کال کې زیږیدلی دی.ده په خپلو اشعارو کې خپل تخلص کله روهي کله خټک او زیات وخت هجري راوړی. دی یو زړور او با استعداده پښتون و، کله چې خوشحال خان د مغلو په زندان کې ولوید د قوم مشر شو او دکورنۍ لانجو ته یې ملا وتړله. کله چې خوشحال خان د هندي مغلو په جال گیر کې شو اشرف خان د ختکو قومونه د خپل پلار لپاره د میرخان خواتي مقابلې ته راپورته کړل، خو دی هم دمغلو له لاسه په ۱۰۹۲ هجري قمري دامیر خان صوبه دار له خوا په چل سره په پیښور کې د سید بهلول په کور کې د خپل ورور بهرام په مرسته ونیول شو او (۱۴) کاله دهند په بیجاپور کې او همداراز گوالیار په بندي خانه بندي شو او د بند د سختو کړاوونو له امله یې په ۱۱۰٦ هجري کال کې په بندي خانه کې له نړۍ څخه سترگې پټې کړې روح دې ښاد وي. (۱)

خوشحال خان کله نا کله له اشرف خان هجري څخه نا رازه ښکاري، ځکه خو کله چې له خپلو اولادونو څخه سر ټکوي نو داسې وایي:

چې پلار سره یې غلیم وي
هم هغه یې زړه او ځان
چې په واړه کې ارشد دی
نن یادیږي اشرف خان
د مور او پلار نیکه ته نه دی
دا نا کس دی لا بل شان (۲)

آزاد خان چې دافضل خان تره او داشرف خان ورور دی، د ده مړینه دشعر په ژبه داسې بیانوي.

دهـــجـــــــــرت ۱۱۰٦ وو
اشرف خان چې شو وفات یاره
غـــم انـــــــدوه وه د ده تاریخ دی
کـه حـــساب کړي وي شماره

همداراز هجري بده ورځ هغه وخت ژړلي ده، کله چې دی په اټک بانـدې تېریده:

ما هله ماتم دځان وکړ په وینو
چې اټکو ته مې شا کړه په ژړا شوم(۳)

دا چې ده د خپل پلار په شان د ژوندانه ډېره برخه د خپلو خلکو د خپلواکۍ او له دښمنه سره په مبارزه کې تېر کړې وه، خو د دې ترڅنګ یې قلم هم پورته کړی او دیوان لري چې د بیتونو شمېر یې ۴۵۰۰ بېتونو ته رسېږي.

همدارنګه اشرف خان هجري په خپل دیـوان کـې یـو شـمیر پښـتنو شـاعرانو یادونه هم کړې ده. لکه چې وایي:

ارزانــــي دخپـــل دور بـلبــــل وو
نن یې وللي زمانې د شعر فر دی(۴)

او هم یې د خپل کـورنۍ پـه شـاعرانو کـې سـکندر خـان، قـادر خـان د هـنر او پوهې خاوند و او د شعر پېشوایان رحمن بابا او خوشحال خان ګڼي:

قــــادر خان که بحر بولــــم دروغ نـه دي
چــــې یــې فـکر داصلي در و مصدر دی
دســـکندر دشعر له څه سره مـخی کـــړم
طــــبیعـت یــــې ډېـر تر در و مـنـور دی
صدر خان عجیب سخن ګوهر شناس دی
رحــــمن لا په دا هنــر دتــور و غــر دی (۵)

که چېرې د هجري دیوان سر تر پایه وکتـل شي وبـه لیـدل شي چـې د ده پـه اشعارو کې هم لکه دخپل پلار په شان د تصوفي اشعارو ډېرښت نه لیدل کیږي.

دا چې د ده ډېـر وخـت پـه قبیلـوي جګـړو کـې تېـر شـو او هـم یـې د ژونـد وروستۍ ورځې د فیوډالي مغلو په جیلونو کې تیرې کړې دي. په دیوان کـې یـې د ژوند دغه برخه په پښتو ادب کې له درده ډک باب دی.

دده په دیوان کې چې کوم شعر ډېر زیات په نظر راځـي هغـه دده لـه خپلـو خلکو او هیواد سره پوره مینه ده. لنډه دا چې دده په دیوان کـې دخوښـۍ ورمـې، د خفګـان څپـې د جګـړو ترخـې، داوړد بنـد کړاوونـه، د خپلـو خپلوانـو نـاخوالي او د

فیوډالي مغلو نا کردي نه دي پټې، بلکې دخپل پلار په شان یې په ډاګه مسایل څېړلي دي چې دبل چا په حال تیری او تجاوز ناروا ګڼي او داسې اخلاقي درس ټولنې ته ورکوي چې:

مال په سل ستمه واخلي له یتیمه
مهیا ځینې پلـو په غړو تر کړي (٦)

دا منو چې هجري د خپل عصر وتلی شاعر و، خو له دې سره سره د خپل پلار درناوی کوي، ځان د هغه د مکتب پیرو ګڼي او خپل ځان نسبت پلار ته کم ګڼي لکه چې وایي:

طبیعـت مـې ازمېیه همسري نه ده
دا غـزل دشا ګـردۍ پـدر استاد دی (۷)

**د اشرف خان خټک اولاده:**

په (ساهو ادب) کې همېش خلیل د اشرف خان هجري درې زامن ښودلي چې نومونه یې دادي: افضل خان، نامدار خان او شمشېر خان.

اشرف خان هجري داسې یاد کړي دي:

نا اصلاح که افضل کا زه به یې ورمه
که په رګ د ازاد ګل ولې سر دار دی
هـغـه یـاد کـا کـشش چـار مـې نشته
پـه ستم یـې شګـفته یم چې نامدار دی
د شـمشېر مخ مې لیدلی و په سترګـو
زبـېښنـده د زېړو ګـلو تـر بـهار وه (۸)

محمد افضل خان د اشرف خان هجري مشر زوی دی په کال ۱۰۷۵ هجري کال کې پیدا شوی دی، د پلار له قید نه پس د سردارۍ د ترلاسه کولو لپاره د بهرام خان او افضل خان ترمنځه د ډېر مقابلو او په ۱۰۲۴ هجري کال کې د بهرام خان له مرګ نه پس که څه هم د خپل تره عبدالقادر خان خټک او ورور نامدار خان مخالفت ور پر غاړه و، خو بیا هم تر ډېره بریده د قبیلې په سردارۍ کې بې غمه و، نامدار د اشرف خان دوهم زوی دی. له افضل خان سره د ده د مخالفت ذکرتاریخ مرصع کې ځای پر ځای راغلی دی. (تاریخ مرصع)

## د اشرف خان هجري شاعري:

اشرف خان هجري د خپلې قبيلې سرداراو د خپل دور منلی شاعر دی، د هغه شاعرانه عظمت لوی دليل دا دی چې نوموړي په خپلې شاعرۍ کې اخلاقي، اجتماعي او عشقي مضامين او وطني رنگ او شوخي، درد او حسرت په ښکاره بيان کړي او دا يې د شعر ځانگړنې هم دي.

شاعر ورپيښ حالات د هغه ژوند يوه نه هېريدونکي الميه گڼلې او دغې الميې هغه يو داسې مقام ته رسولی چې انفراديت هم لري او يوازېتوب هم او دا احساس په خپله شاعر ته هم شوی و چې ويل به يې:

دا محال دی چې شاعر به په پښتو کې

بل هجري غوندې په فن دشعر فرد وي(۹)

ژوند او درد وغم دواړه سره لازم او ملزوم دي اخر د زړه هغه کومه کلي چې د ارمانونو او حسرتونو له لاسه نه وي مروړلي شوي، کوم زړه دی او کوم ځيگر دی چې د ارمان اور ورباندې نه دی بل شوی.

د هجري د ژوند الميې هغه واقيعت دی چې دده شاعرۍ ته درغبت وجوهات جوړ شوی دی او که دا وويل شي، نو بې ځايه به نه وي چې دهجري شاعري يو خوا که د حسن او عشق او اجتماعي ژوند د ډېرو موضوعاتو ترجماني کوي، نو يو خوا هم دغه شاعرۍ کې د يو زخمي زړه په اواز لکه د مات رباب ساز هم محسوسيږي اود يو قفسي بلبل فرياد هم.

د حيات رمق مې شته ځکه بيخو ده

لکه پروت زخمي هوسۍ لتې وهمه

** ** **

شپه د هجر طولاني ده بې حسابه

څو به ورځ د وصال گورم زه خرابه

** ** **

هر نفس په ما عاشور په يزيدانو

گويا زه حسين دوخت په کربلا يم (۱۰)

دوطنيت او قوميت له نظره هم داشعارکلام کې داسې اثرات ليده شي چې د ده مينې خوا ږه په کې محسوسيږي. د ملک اوملت دا مينه فطري ده او بيا په داسې حالاتو کې چې څوک يې د څه جرم نه له وطنه ډيرلرې د حالاتو په زندان کې په ژوند تيرولو مجبورشي نوبيا د مينې دا اور لکه د شمعې ورو ورو ورسيږي. دځيګروينې يې دوصال په ارمانونو د غمنو خوراک شي او کله کله د مايوسۍ په حالت کې مجبور شي چې ووايي:

د ځيګر وينې مې وڅښلې غمونو
مرګه جګې جګې راشه اوس رضايم (۱۱)

لکه وړاندې چې ورته اشاره وشوه چې عشق هم د شاعر شاعري يوه اهمه موضوع ده. د فن په دغه موضوع د بحث په موقع په لنډو الفاظو دا ويل کېدلای شي چې مينې د هجري عشق ته تمکين، جذباتو رفعت، خيالاتوته ترفيع او ژبې ته سنجيده ګۍ ورکړې. د هجري د غم او عشق روايتي خاصيتونو هره جذبه ديووقار،خلوص اوسنجيدګۍ په خوش رنګيو روښانه او تابانه ده، ځکه نو موږ ورته د مينې او محبت جذباتو ترجمان او حسن و جمال د رنګينو مصور هم ويلی شو. په ذکر شوي موضوع دشاعر د فکري بلندۍ يو څو نمونې:

دا جنون د محبت چې ماته پيښ دی
کښلي نه دي دهيڅ دور په اوراق

** **

دعشق درد تردوا مالره بهتر دی
هرګز مه شه دهجري له زړه جدا درد

** ** **

لا د عشق لمبې وماته جنت شوې
يا ما هېوته بهشت وينم درياب (۱۲)

## هجري په بند کې:

د اشرف خان هجري په باره د ځينو خلکوګومان دی چې دبيجاپور(جنوبي هند)په زندان کې هغه قيد نه دی، بلکې هلته آزاد و، نو دا خبره سمه ځکه نه وه چې په بيجاپور کې د نوموړي له ليکلوشعرونوڅخه دا حقيقت په ډاګه کېږي چې

نوموړی هلته هم ترآخره وخته په زندان کې و او د مرګ تر وخته یې په قید کې د ساتلې و چې شاید د اورنګزیب په زړه کې لکه دخوشحال خان له قید نه پس د هجري نه هم بغاوت او حکومت لپاره د مشکلاتو راولاړولو ګواښ موجود و.

په هرحال! هرڅه چې و خو داحقیقت په خپل ځای دی چې اشرف خان د مرګ ترخونې د بیجاپورپه زندان کې و اودڅوارلسوکلونو له بند نه وروسته په جېل کې وفات شو، لکه چې پورته یې ذکر وشو، داشرف خان هجري داشعرونه پرله پسې په زندان کې دا تصدیقوي چې نوموړی د یو سیاسي بندي په توګه په زندان کې ساتل کېده:

نــن آغــازدلســم کــال دی بــاور وکــړه
چــې پــه بـندکــې یې زهیرېږم بې ګناه
✓ ✓ ✓
ده ســـال چـندمــاه شده کـزعتـاب شـــاه
مـحبوس ګــشته ایـم درایــن دارعـاصیان
✓ ✓ ✓
هجري تش صورت نصیب په دکن بندکړو
پــه خــدمت یـې دیارزړه دایم حضور وي
د ماهــي پـه نـس کې پـروت لکه یونس یـم
مګرخـلاص یې پـه کـرم حــق تـعالــی کـا
دانـایــان دې یـــې دامــن دامــن وبـاسي
دهــجــري لــه فیــضه درهــمه زنـدان شــه

د ذکرشوو شعرونونه علاوه داشرف خان هجري په فارسي دیوان کې د دوه ویشتو اشعارو دیوې ډېرې اهمې قصیدې اکثرشعرونه هم په حیثیت دیو قیدي د هجري په په ژوند رڼا اچوي. داسې برېښي چې له اورنګزیب سره دیو ملاقات په زیري شاعر د خپلې آزادۍ خوب ویني، نو له ملاقات نه پس هره وجه چې وه د شاعرپه امید هغه وخت یخي اوبوتویې شوې څه وخت چې بادشاه دوباره زندان ته د هغه د لیږلوحکم وکړ.

دغه وخت زندان کې د هغه نهه کلونه تیرشوي ووا و د لسم کال آغاز و. د قصیدې څوشعرونه دا دي:

عرضکی هست دهی رابه شهنشاه غفور
سایـه عـدل بـه فریـاد غـریبی انداز
تسع بگذشت که درنارعتاب هستم
سال هاعاشرشده برعمرعـذابم آغاز
پس ازان کش قلم عفوه بوزدم راندی
بعـدایـام کـثیروپـس ازاعـماردراز
مـازشادی و خوشی پابه فلک بنهادیم
تارک فخریم ازچرخ برین گشت فراز
عـازم بادگهت گـشته بـرامـیدتـمام
تاشوم ازده لـطف بـه امـایـل مـمـتـاز
بعـدتـاریـخ رسـیدم بـه حـضـورپـرنـور
بـرخـلاف روش عـفوروان شـدایـعاز
گـشته تفویض همه‌اندم به کـلاغی چند
اخـتیاربنگـه داشـتـن ومـحـبس بـاز
گرچه اصدارچنین حکم پس ازعفوه گناه
دوربـود ازکـرم شـاه بـصدتـیرانـداز
چـاره جـزصبرنـدیـدم که چنان امیرخطیر
شده ظاهـرزلسـان شهی صاحب اعـجاز(۱۳)

اشرف خان هجري دگواليا او وروسته دبيجاپورپه زندان کې لـه څوارلسـوکلونو بند څخه وروسته په ۱۱۰٦هجري کال کې وفـات شـو اوهـم هلتـه خاوروتـه وسـپارل شو. د هجري يوورور آزادخان د هغه د وفات تـاريخ پـه يـوه قطعـه کـې داشـان بيـان کړی دی:

د هـجــرت زرسـل شــپږوو
اشرف خان چې فوت شویاره
غـــم انـــدوه د ده تـاریخ دی
که حساب کـړې ویې شماره (۱۴)

د اشرف خان هجري دپښتواوفارسي ديوانونودپورته ذکرشووشعرونو له داخلي شهادت نه معلوميږي چې نوموړی په زندان کې د خپل قيدپه دوران وفات شوی دی،حيات الله افغاني تاريخ خورشيد جهان،تاريخ پشاور، درې واړه خو د ډېرې مايوسۍ په وجه د هجري مرگ د هغه خپله خودکشي- بيان کړې ده، دوست محمدخان کامل مومندپه خپل اردوتاليف (خوشحال خان خټک)کې ليکي:

وطن ته وايي: ته د هجري نصيب نه شوې او نوموړی له څوارلسوکلونو قيد څخه وروسته چې گواليار او بيجاپور په زندانونو کې يې تيرکړ په همدغه زندانونو کې وفات شو او دغه شان وطن ته د واپس کيدلوپه اړه د اشرف خان هجري داپيش گويي ټکي په ټکي سمه ثابته شوه:

هجري ته خوتل هوس د ولايت کړې
ولې ستاورتله محال مگرنصيب وي (١٥)

**پايله:**

د خوشحال دورچې مهم ادبي دور دی واقعاً يو زرين دور يې گڼلی شو. ده دپښتوژبې اوادب لپاره خورا ډېر خدمتونه کړي دي. زامن او لور يې اشعار او نثرونه لري. اشرف خان هجري چې د خوشحال خان خټک زوی دی هم يې ډېر ښکلی ديوان پښتو ادب ته وربخښلی دی چې شعرونه يې له درد، غم، هجر او سوز گداز څخه ډک دي. ده زندان هم تېرکړی او د زندان شعرونه يې هم د زندان څرگندونې کوي او د هغه ځای تکليف او مشقت منعکسوي.

په هرحال! د اشرف هجري ژوندله درد سره ديوهدف پرلوري روان و، سره له دې چې پلارترې کله ناکله ناراض ښکاري خو بيا هم دی د خپل پلارپه ستاينې کې شعروايي همدارنگه چې خوشحال خټک مړکيږي دی ورته مرثيه ليکی. اشرف خان په خپله ټولنه کې او د خلکوپه منځ کې په معنوي لحاظ ډېر پاتې شوي، خو په فزيکي او جسمي لحاظ ځکه ورته ډېر پاتې شوی نه شو ويلی چې د ژوند د فکري تصميم نيونې په وخت کې يې په زندان کې شپې او ورځې سبا کولې، خو له دې ټولو خبرو سره سره بيا يې هم په شاعرۍ کې سوز، گداز، مينه، خوند او زړه راښکون موجود دی.

**اخځونه**:


۱- شیرزاد، پښتون آقا، خوشحال پېژندنه، ختیځ خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۱۲۹ مخ.

۲- خټک،افضل خان، تاریخ مرصع،پېښور بک ایجنسي-(جدون پریس)، ٦۰۴ مخ.

۳- هجري، اشرف خان، دیوان، مرتب همېش خلیل، شاهین برقي پریس، پېښور، ۲۰۰۱ زېږدیز کال، ۱۳٦ مخ.

۴- دیوان اشرف خان هجري، ۳۵۲ مخ.

۵- دیوان اشرف خان هجري، ۳۵۱ مخ.

٦- دیوان اشرف خان هجري، ۳٦۰ مخ.

۷- دیوان اشرف خان هجري، ۲۰۱ مخ.

۸- خلیل، همېش، ساهو ادب، جدون پرنټېگ پریس، پېښور، ۲۰۰۳ زېږدیز کال، ۴۹ مخ.

۹- دیوان اشرف خان هجري، ۲۰٦ مخ.

۱۰- دیوان اشرف خان هجري، ۲۸ مخ.

۱۱- دیوان اشرف خان هجري، ۲۰٦ مخ.

۱۲- یاد اثر، ۳۰ مخ.

۱۳- (همیش خلیل-۱۹۵۸-۵۸۵-۵۸۴)

۱۴- خټک،افضل خان، تاریخ مرصع،پېښور بک ایجنسي-(جدون پریس)، ۴۸۷ مخ.

۱۵- خټک، خوشحال خان، کلیات، د دوست محمد خان کامل اهتمام او سریزه، دوهم چاپ، جدون پرنټینګ پریس، پېښور.

داود جنبش

# پښتو سل کاله وړاندې څنګه رسنیزه شوه؟

## لنډیز:

پښتو هغه ژبه ده چې چاپي مطبوعاتو ته یې د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي په دوهمه لسیزه کې لار موندلې ده او دغه کار د سراج الاخبار له لارې شوی دی.د دې اخبار د شپږم کال (۱۹۱۷م) په شلمه ګڼه کې د "ملي ادبیات" سرلیک په خپربدو سره، د پښتو څرک را ښکاره شو او د همدې ګڼې په ۷-۸ مخونو کې د مولوي صالح محمد د (پشتو مکتوب) په نوم په پښتو ژبه مقاله چاپ شوې ده، چې همدا په افغانستان کې د پښتو مقالو د چاپ پیل ګڼل کېږي.

## سریزه:

که د نړۍ متمدنې ژبې په نظر کې ونیسو په سلو کې اتیا یې هله مشهورې، عامې او نړیوالې شوي چې کله یې رسنۍ ته لار موندلې ده او ژبه هله رسنیزه کېږي، چې معیارونه یې اوچت او پراخ شي. پر همدې اساس په دغه مقاله کې په دې بحث کېږي چې پښتو کله رسنیو ته لار پیدا کړه، څنګه یې لار پیدا کړه او چا دغه ځایه ته را ورسوله.

همدا راز ایا له هغه وخته تر اوسه پورې پښتو ژبې او په ټوله کې پښتو ژبې او ادب ته خپله ونډه ورکول شوې او که نه؟ که ورکول شوې څومره ده او که نه ده ورکول شوې لاملونه یې څه دي، ولس، خلکو، حکومت او په ټوله کې دولت ته څه کول په کار دي او څنګه کولای شو چې د ټولو ژبو په ځانګړې توګه د رسمي ژبو حق ادا او خپل ټولنیز موقف ته یې ورسولای شو.

## مبرمیت او اهمیت:

د پښتو ژبې په اړه له مهمو موضوعاتو څخه یوه دا ده، چې د لومړي ځل لپاره کله او چېرته په پښتو ژبه لیکنه خپره شوې ده.په همدې اړه څرګندونو په دې مقاله کې انعکاس موندلی دی.

## د څېړنې موخه:

موږ باید جوته کړو چې لومړی پښتو لیکنه کله چاپ شوې ده، چې په همدې هدف دغه څېړنه شوې ده.

## د څېړنې میتود:

په دې مقاله له تشریحي – تحلیل میتود څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې:

پښتو ژبه کله چاپي مطبوعاتو ته لار مونده؟

لومړی پښتو مقاله په چاپي مطبوعاتو کې د چا وه؟

## اصلي متن:

ټیک یوه پېړۍ وړاندې سراج الاخبار د خپل ژوندانه پر شپږم کال د پښتو منثور متن په خپرولو، په افغانستان کې د پښتو چاپي مقالو بهیر راپیل کړ.

د سراج الاخبار لپاره شپږ کاله او د معاصر افغان دولت لپاره نږدې دوې پېړۍ ولګېدې چې پر پښتو، لومړنی نثر چاپ کړي.خو تر افغانستان د مخه، د پښتو چاپي آثارو بهیر د انګریز تر واکمنۍ لاندې سیمو کې پیل شوی و.په دوی کې مخکښه ونډه د پېښور "افغان" ورځپاڼې درلوده چې په اوونۍ کې یو ځل په پښتو او اردو خپرېده.

ددغې ورځپاڼې د یوې پښتو مقالې خبر په خپله سراج الاخبار ورکړی دی.دا د افغان ټولواک حبیب الله خان د هغې وینا متن و چې پر لېبیا د ایټالیا له پوځي یرغل وروسته یې خپل ولس ته د هغه ځای له مسلمانانو سره د مرستې لپاره په دري چاپ او وېشلې وه.

سراج الاخبار د ۱۹۱۲ کال د فبرورۍ پر ۴ (لومړی کال، ۹ ګڼه، ۹ مخ) د دغې مقالې د راوتلو خبر په دې ټکو خپور کړ :

"زمونږ ملګرې (افغان ورځپاڼې) چې په پېښور کې خپرېږي، دغه وينا زمونږ ملي او قامي ژبې پښتو ته ژباړلې چې په رښتيا سره يې له لوستلو پر مونږ خوشحالي راغله".

افغان ورځپاڼې ادعا درلوده چې په برتانيا، روسيه، ايران، منځني ختيځ او افريقايي هېوادو کې ګډونوال لري او ټولو دغو سيمو ته منظمه استول کېږي او رسېږي. (۱)

خو د سراج الاخبار له پاڼو يې تر دې هاخوا پر نورې ځانګړتيا او نشراتي محتوا نه پوهېږو، ځکه چې د دواړو ملګرتيا ډېره ژر په غليمي اوښتې ده.

ددغې غليمۍ لامل سم جوت نه دی، خو سراج الاخبار د څلورم کال لومړۍ ګڼه کې (د ۱۹۱۴ کال د سپټمبر ٦) په عمومي ټکو کې ليکلي چې هغې "په اسلامي نړۍ کې بېلتون راوست، مسلمانان يې د هندوانو خلاف لمسول او سرحدي (د اوسنۍ پښتونخوا) پښتانه يې د افغانستان له حکومته لرې کول". (۲)

تر دې ډېر وړاندې، د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې روسانو او په دوهمه نيمايي کې انګرېزانو د پښتو په اړه او پر پښتو ځينې آثار، لکه پښتو ګرامر، د انجيل پښتو ژباړه او نور چاپ کړي او وېشلي دي.

پر انګرېز او روسي سيمو سربېره، له عثماني تُرکيې نه هم تر افغانستان وړاندې د پښتو خپرونو ځرک رالګېدلی دی.دا مسئله هم مونږ ته د سراج الاخبار د ۲ کال له ۲۱ ګڼې روښانېږي.په دغه ګڼه کې په تُرکيه کې په پښتو ژبه د يوه مذهبي کتاب د خپرېدو خبر په دې ډول راغلی دی:

"هغه څه چې نوي، او حيرانوونکي دي، دادي چې دا رساله زمونږ پر ملي او قامي ژبه (پښتو) په استانبول کې چاپ او خپره شوې ده.که څه هم د ليکوال او مؤلف نوم په رساله کې روښانه شوی نه دی او د لاسليک پر ځای يې يواځې (ژباړونکی) کښل شوی، خو څرنګه چې په ډېره رڼه پښتو ژبه ليکل کوي او د کتاب په سريزه کې يې هم خپل پښتونوالی روښانه کړی، شک نه شته چې افغان دی". (۳)

تر کومه چې د افغانستان په خپلو رسمي چارو کې د پښتو ژبې د کارولو موضوع ده، دا کار د امير شېرعليخان له مهاله (د نولسمې پېړۍ ٦۰ او ۷۰ کلونه)

د پوځي اصطلاحاتو لـه پښـتو کولـو او د پـوځي لارښـودونو پـه ژبـاړلو سره پيـل شوی دی.

خو دا يو محدود نوښت و او څرنګـه چـې د پښـتو ليکونکـو او لوسـتونکو شـمېر بېخي د ګوتو په شمار و، نورو دولتي ادارو ته و نه غځېد. محمود طرزي پـه خپلـه پـه حسرت او تر څه ځايه په پېغور دغه حالت داسې انځوروي:

"دېرئ پښتانه وګړي پر عسکري چارو او د ښارونو او سيمو په نيولـو او جګـړو او ټکولو اخته وو، ميرزايي کارونو او د حکومتي چارو کتابت ته يـې وخـت او فرصـت نـه درلود، آن دا ډول چارې يې ځانته شرم بللـې او پـه دې ډول سـپکوونکو ټکـو بـه يـې چې "ميرزاګی دی" او "مُلا ګی دی" د ليک خاوندانو ته سپکاوی هم کاوه) ".(۴)

طرزي د هېواد په اداري سيستم کې د پښتو د ګډولو پر ارزښت ټينګار کـاوه او د دې لپاره يې غوښتل چې په حاکم ذهنيت کـې د پښـتو پـه اړه جـوړ شـوی انځـور چې ګنې دا يوه "وروسته پاتې ژبه ده"، له منځه يوسي.د همـدغې مـوخې لپـاره يـې "پښتو د ټولو ژبو انا ده" په سرليک يوه اوږده مقاله خپره کړه.

په دې مقاله کې، د سيمې د بېلابېلو ژبو د تـاريخ او اوسـني ځـای ځـايګي تـر ښودلو وروسته، د پښتو پر لرغونتوب او نړه توب خبرې شوې دي.

طرزي پوهېده چې له درباريانو نيولې، تر بازاريانو به يې د دريغ او نظـر خـلاف درېدا پيلېږي او دی به متعصب بلل کېږي.

له همدې امله، د مقـالې پـه پـای کـې ګـواکې بيـاځلي د خپلـې طرحـه کـړې نظريې ارزونې ته ستنېږي او خپلو نيوکګرو ته په خطاب کې ليکي:

"موږ غوښ حُکم نه کوو چې پښتو ژبه د ژبو انا او پښتون ټبر د ټولو آريان ټبرونـو نيکه دی.هغوی به چې زموږ دا خبره قومي تعصب بـولي او دغـه راز هغـه کسـان بـه هم چې پښـتانه پـه بنـي اسراييلـو او يـا عربـو ورګـډوي، زمـوږ خواتـه د نيوکـو ډبـرې راغورځوي.خو هغه څه چې موږ.. .وړاندې کړل ...څېړنه او پلټنه ده چې لـه لوسـتلو تر لاسه شوې ده.هر ولس د خپل ملي تعصب او پـه مـلي بـرم کـې حـرص ځلـولی او اوڅار کړی دی.نو که موږ زيار ايستلی وي چې د خپل ولس د نيکه تـوب درنښـت او پرتم ثابت کړو، ولې پرې ځوک خواشينی شي". (۵)

په رسمیاتو کې د پښتو تصادفي ګډېدو لومړی څرک هم د شلمې پېړۍ په همدغو کلونو پورې چې سراج الاخبار په کې چاپېده، اړه مومي.

دغه مهال د افغان دولت لومړنی او ښایي تر اوږدو کلونو یواځینی فرمان په پښتو راووت او دا هم د اړتیا له مخې و.اړتیا دا وه چې په خوست او پکتیا کې منګل او احمدزي ټبرونه د حکومت خلاف راپورته شوي او کابل یې له کلکې ننګونې سره مخامخ کړی و.

پاچا د هغوی په نامه یو فرمان (د دې لپاره چې باغیان پرې پوه شي) په پښتو وکېښ او ور وایې ستاوه.د دغه فرمان خپل پښتو متن ما ونه مونده، خو د سراج الاخبار د لومړي کال په ۱۴ ګڼه (د ۱۹۱۲د اپرېل پر ۱۹) یې دري بڼه خپره شوې چې که بېرته پښتو ته واوړي، یوه برخه یې داسې راځي:

.."ستاسې ټول ملکان او د ولس وکیلان دې د حضور له عرض بیګې ملا محمد خان سره حضور ته راشي چې ستاسې پلټنې په سم ډول تر سره شي چې که رښتیا هم له تاسې سره ظلم شوی وي چې پوښتنه یې وشي او په راتلونکې کې ددې ډول تېریو مخه ډب شي؛ خو هغه څلور پوځیان چې وژل شوي دي، د هر یوه پر سر اووه زره کابلۍ روپۍ دیت او جریمه د نور هېواد د قاعدې له مخې چې ټولې اته ویشت زره کابلۍ روپۍ کېږي، له تاسې څخه اخیستل کېدونکې دي چې د دیت پیسې به د وژل شویو پاتې کسانو ته ورکړ شي، هغه تاڼه مو چې ویجاړه کړې ده، ستاسې پر غاړه ده او پرتاسې بېرته رغول کېږي ". (٦)

تر دې هاخوا نور، هم په اداري او هم مطبوعاتي ډګر کې د پښتو څرک نه لګېږي.درباري، حکومتي او نوې پیل شوې ښوونیزې چارې ټولې له پښتو پرته ترسره کېدې.

سراج الاخبار هم د خپل ښنتن او چلوونکي له ښکاره "پښتونمل دریځ" سره سره د خپل درېیم کال تر نږدې وروستیو ګڼو پورې ونه شوای کړی هېڅ ډول معنا وال پښتو متن چمتو او خپور کړي؛ دا حالت د درېیم کال له ۲۰ مې ګڼې وروسته ددې زېري په خپرېدو اوړي:

"څرنګه چې زموږ د پوهنپال پلار (پاچا) هڅې په افغانستان کې پر بېلابېلو دود ژبو، د پوهې او پوهنې د خپرېدو لپاره دي، ځکه نو "سراج الاخبار افغانیه"

وغوښتل چې خپله دا ګڼه او راتلونکې ګڼې په خپله ملي پښتو ژبه هم سینګار کړي...له دې وروسته به ان شاءالله تعالی هېوادوال وروڼه په "سراج الاخبار افغانیه " کې د خپلې ملي ژبې له لوستلو هم خوند واخلي او خوښ به شي".

او بیا د همدغې ګڼې پر ۱۱ مخ بې له ځنډه د مولوي صالح محمد یوه منظومه راځي چې څو بیته یې دادي:

"ښه شیرینه پښتو واوره
چې مضمون یې ډېر آسان دی
قلم خپل ژبه مې خپله
شعر ګران او که آسان دی
زه شاعر نه یم دلبره
خاص مطلب زما بیان دی" (۷)

مولوي صالح محمد.دا نوم په یاد وساتئ، ځکه چې وروسته پرې لږې نورې خبرې هم لرو.د هغه په دې لومړنۍ او ښايي ګران ګام پسې، د نورو شاعرانو لار هم پرانېستل شوه او د منظومو بېلګې یې وخت ناوخته پر ورځپاڼه رابرسېره شوې.

خو داسې برېښي، چې د پښتو د دودېدو پلویان، نور په دې کوچنیو ګامونو نه قانع کېدل.

"بویه چې په ملکي ښوونځیو کې ټول علوم په پښتو ژبه تدریس شي او فارسي او عربي او تُرکي د دوهمو ژبو په توګه ولوستل شي". (۸)

د "م.الف" په مستعار نامه لیکل شوې دا مقاله (۵ کال، ۱۷ ګڼه) په حقه د پښتو د دودولو لومړنۍ کوټلې او د ځینو له نظره افراطي پروګرام و.

لیکوال د پښتو د دفتري کولو، د ښوونځي د ټولو مضمونو د پښتو کولو او پښتو ته له بهرنیو ژبو د ژباړو پر ډېرولو ټینګار کاوه.

په هغه چاپېریال کې چې پښتو په کې خپل چاپي توري، د زده کوونکو لپاره لیکلار او د اداري چارو د سمبالښت لپاره اړوند اصطلاحات نه درلودل او واکمن یې له خپل ولس سره د غږېدو لپاره ژباړونکو ته اړ وو، په لومړي ځل د ټولو د فتري او ښوونیزو چارو د پښتو کولو غږ پورته کول تش سراب برېښېده.

خو دې سراب په ورته وخت کې د ذهنیت د اوښتو او په پښتنه ټولنه کې د زده کړو لور ته د مینې د ډېرېدو خبر هم ورکاوه.داسې برېښېده چې یو بدلون پېښېدونکی دی.

سراج الاخبار هم هڅه وکړه، دغو زیاتېدونکو غوښتنو ته ځواب ووایي او د شپږم کال له شلمې گڼې (د ۱۹۱۷ د مې ۲۳) څخه یې د "ملي ادبیاتو" د سرلیک په را ایستلو، پښتو او فارسي، که تش په تورو کې هم وي، د دوو برابرو ژبو په توگه وښودې. (۹)




د دغه سرلیک پښتو بڼه داسې ده:

تر دې لږ وړاندې (د ۱۹۱۷ کال د اپرېل پر ۸) لومړنی پښتو لیک چې د یوه معلوماتي منثور مطلب په بڼه و، د سراج الاخبار د شپږم کال پر۱۷ مه گڼه راووت.دا لیک د دارالمعلمین ښوونکي مولوي غلام محي الدین ور استولی او "افغانستان د سروزرو مرغی دی" نوم ورکړ شوی و. (۱۰)



ادبیات

مکتوب افغانی

افغانستان دمروزرو مرغی دی

داملك دهندستان بلوچستان دایران اودچین پەمیاز کښی روت دی
دی ملك نه که باغ ارم هرڅوك ووائی نوپښك سښائی . ولی چه پاك رب
داملك بلاتشبیه پەمثال دخلد برین پیدا کړی دی . اوپەدی ملك کښی
سرسبز غرونه ، زرغونه چمنونه خوژی او په شیرنی میوی رنګارنګ
کلونه سنبانسته خاق ، او باغیرت سری زښته (۱) دیردی . ددی ملك
سندونه اورودونه دتماشواودننداره دی . اوپه هرځائی اوپه هرکلی کښی
لوئی لوئی ولی . او په هرکور کښی لښتی (۲) بهیژی . دیاغو نواو
دکښتو نوئی خوحساب نشته دهرملك دعجائباتو کوردی اودهرملك
دنسلو (۳) خلقوځای (٤) دنیکاودی . زکه دیورب (۵) رښلی اودا
هریك قابل سری دلته شاوخوا کرزی . ددی ملك په اب وهوا ایسی دکشمیر ،
هندستان ، سمرقندا ودچین ماچین خلق سرونه وهی او لاسونه ښکوی .

خو هغه څه چې موږ يې په افغانستان کې د پښتو مقالې د چـاپ پيـل بولـو، د شپږم کال د ۲۰ گڼې پر ۷-۸ مخونو (د ۱۹۱۷ کال د مې ۲۳) راوتلي دي چې سـږ يې تېک يوه پېړۍ پوره شوه.

دې ته هم د "ليک" نوم ورکړ شوی، خو د مخکني ليک په توپير دلته پښـتو تـه د "افغاني ژبې" پر ځای په خپله "پشتو" ټکی کاربدلی دی.د منځپانگې له پلوه هـم دا تر هغه مخکني متن خورا ژور دی چې د پښتو د دودولو پر عملي لارو چارو خبرې کوي. ليکوال يې مولوي صالح محمد دی چې وړاندې مو يې يادونه وکړه.



پښتو مکتوب

ای لوی فاضله . اوښه غوښتو نکی دوطن ! نه چه دوطن ژبه بی
خدادی مه کړه ..!. دا . اول پښتو مکتوب دی چه په خدمت د
« سراج الاخبار » می دړ ولیږه .
« دیرافسوس کوم چه پښتو حرفونه نسته ! آیا پښتانه به بی ځنګه وائی . »
داخبروتولو پښتنوته معلومه ده . چه ترننه په افغانستان کی نه اخبار و .
اونه څوك په اخبار پوهیده !
کاهی کاهی به په کابل کی « به سنګی چاپ » یوه یوه لوورقه چاپ
( اشتهار ) به یه یاله ، هغه به هم بعض سرکاری مطلبونه وو . یا بعض حکمونه .
نه اخبارو ، نه مدیر . نه احوال سیاسی و نه مقاله مخصوصه . نه اخلاقیات
نه کلدسته حکمت .
مګر اوس له دیری مهربانی اوښه مرحمت د « اعلیحضرت والا »
چه همیشه زموږ پښتنو غم ورسره دی . اوپه یوقسم دقسمو غواری چه موږ
پښتانه دمدنیت په لار وبو هوی ، اوله عالمه موخبرکی ، دغه دی چه

لیکوال په دې مقاله کې تر هر څه لومړی د پښتو د چاپ تخنیکي ستونزې یادوي:

"دیر افسوس کوم چه پشتو حرفونه نسته! آیا پشتانه به یی څنگه وائی".

وروسته د پښتو ژبې خوارۍ او بېوسۍ ته گوته نیسي:

"افسوس چه زموږ پشتنو د لاسه؛ پشتو خواره، داسی متروکه او بی اعتباره لویدلی ده، چه گویا (یوه مره ژبه ده!)...اوس په هیڅ مکتب کی پشتو نه ویله کیږی، د هیچا په لاس کی پشتو کتاب نه لیدل کیږی! او نه داسی کتاب په پشتو کی سته چی سری یه وگوری !..مگر یو څو (د شعر دیوانونه دی) هغه هم د معشوق ستاینه او بس !

آه پشتنو ! خپله ژبه مو څنگه بیکاره کره! درست جهان د خپلی ژبی و ترقی ته متوجه دی اِلا تاسی "!

او بیا ددې حالت د اړولو لار ښیي:

"که موږ پشتانه د خپلی ژبی و ترقی ته متوجه سو؛ او په مکتبو کی یه جاری کو، او عالمان مو دین، اخلاقی، کتابونه او رسالی، په پشتو ترجمه او تالیف کی، او یو څو اخباره په پشتو جاری سی، آیا په لږ مده به مو خپله ژبه ترقی ونه کی؟" (۱۱)

مولوي صالح محمد چې په حبیبیې لېسه کې د پښتو ژبې ښوونکی و، د ډېرو له نظره د پښتو د رسمي کېدو او دودېدو غورځنگ سرلاری دی؛ خو دی چې څومره ژبور و، هماغوره نوم ورکی پاته دی.

هغه د روحانیت تر څنگ، ډېر کار د پښتو عامولو ته کړی دی.ده په یوه رسمي غونډه کې چې د پاچا د مشر زوی شهزاده عنایت الله خان په شته والي کې جوړه شوې وه، ددې بیت په وړاندې کولو (چې یوه شاگرد یې ولوست (د سراج الاخبار په لیکنه (۷ کال، ۷ گڼه د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر ۳) "یو ملي زوړ" را وخوځاوه:

ژبه بنده کړه افغانه، ته له ټکو ایراني

ته ستایه دې خپل پاچا، په نظم و نثرِ افغاني (۱۲)

دغه غونډه د حبیبیې لېسې د ممتازو زده کوونکو د نمانځنې په موخه جوړه شوې وه او ښایي لومړنې مراسم وي چې د فارسي یا دري تر څنگ په کې په پښتو او دغه راز تُرکي (اوزبیکي)، انگرېزي او عربي ژبو هم ویناوې اورول شوې دي.

حبیبیه په افغانستان کې یواځینۍ لېسه وه چې تر پنځم ټولګي پورته په کې لوستونه کېدل.د مضمون په توګه، د پښتو لوستل هم له پنځم ټولګي پیلېدل او زده کړې یې د یاد شوي مولوي صالح محمد پر غاړه وې.

په نصاب کې دا بدلون له هغه وروسته چې شهزاده عنایت الله خان د خپل اکا سردار نصرالله خان پرځای د پوهنې یا معارف وزارت چارې پر غاړه واخیستې، پېښ شو.په دې ډول نوموړي هم د پښتو په دودېدو کې خپله ونډه درلودلې ده.

## پایله:

د پایلې په توګه ویلای شو چې که څه هم سراج الاخبار د "ملي ادبیاتو" د سرلیک تر را ایستلو وروسته څه باندې یو کال نور دوام وکړی شو، خو پیل کړې لار یې وروسته د امان الله خان د سلطنت پر مهال په لا جدیت تعقیب شوه.

د ورځپاڼې څښتن او سرمحرر محمود طرزي د یوه هېوادپال په توګه، اما تل د پښتو او دري په سمون او پیوستون باور درلود.دا نصیحت یې ښایي د تکلونو تر ټولو روڼ انځور وي:

"خپله ملي ژبه پښتو سپېڅلې وګڼئ، مینه ورسره وکړئ او په زده کړه کې یې ډېر زیار وکړئ.له خپلې رسمي او سیاسي ژبې فارسي سره هم ډېره مینه کوئ او ښه یې زده کړئ ". (۱۳)

## مأخذونه:

۱- سراج الاخبار، لومړی کال، ۹ مه ګڼه، ۱۹۱۲ زېږدیز کال، د فبروری ۴ مه.

۲- سراج الاخبار، څلورم کال، لومړۍ ګڼه، ۱۹۱۴ زېږدیز کال، د سپټمبر ٦ مه ګڼه.

۳- سراج الاخبار، دوهم کال، ۲۱ مه ګڼه.

۴- سراج الاخبار، پنځم کال، ۲ مه ګڼه.

۵- همدغه اثر، ۲ مه ګڼه.

٦- سراج الاخبار، لومړی کال، ۱۴ مه ګڼه.

۷- سراج الاخبار، دریم کال، ۲۰ مه گڼه.
۸- سراج الاخبار، پنځم کال، ۱۷ مه گڼه.
۹- سراج الاخبار، شپږم کال، ۲۰ مه گڼه.
۱۰- سراج الاخبار، شپږم کال، ۱۷ مه گڼه.
۱۱- سراج الاخبار، شپږم کال، ۲۰ مه گڼه.
۱۲- سراج الاخبار، اوم کال، ۷ مه گڼه.
۱۳- سراج الاخبار، پنځم کال، ۲ مه گڼه.

**ليکوال: استاد کريم زماني**
**ژباړن: احمد سليم ړنګ**

# د مثنوي معنوي تحليل او تجزيه

## د شمس راتګ (يا د مولانا ح په ژوند کې د لمر راختل)

مولانا ح د ژوند څلوېښتو کلونو کې په ټوله معنا يو عارف او پوه او د هغه مهال د بېلابېلو علومو او فنونو ځلانده ستوری و، پېروان يا مريدان او عام خلک لکه د شمعې پتنګان ورڅخه چورلېدل او له هغه يې ګټې پورته کولې. تر هغه چې يو ناپېژانده قلندر د **شمس تبريزي**ح په نوم قونيې ته راغی او له مولانا ح سره مخامخ شو، د هغه د لېدلو لمر يې زړه او روح لمبه کړ او ټول د هغه شيدا او سودايي شو. مولانا ح هغه دروند پوه او ستر مفتي د شمس په کلي او کوڅو کې پروت آواره او سوی مين شو، لکه څنګه چې خپل حال خپله بيانوي:

زاهد بودم، ترانه گويم کردی سر حلقهء بزم و باده جويم کردی
سجاده نشين با وقاری بودم بازيچهء کــــودکان کويم کردی

ژباړه « زاهد وم، په سندرو ويلو دې راوستم، د خوښيو او عشرت د ناستو مشر او شراب غوښتونکی دې کړم، د مصلي پر سر له ناستو درنو وم، خو تا د ماشومانو د لوبو کړم.»

يادښت: باده يا شراب په عرفان او تصوف کې د سترګښتن مرسته او مينې ته ويل کېږي.

مولانا ح له شمس حسره په ٦۴٢ سپوږميز کال کې وليدل او سره يوځای شول، شمس ح هغه داسې ستي او شيدا کړ چې زده کړې، بحث او وعظ يې يوې خواته کړ، شعر، سندرو، تمبل او سماع (د صوفيانو په اصطلاح د وجد په حالت کې

سندرې ویل، پښتې او لاسونه وهل) ته یې مخه کړه. له همدې وخت راهیسې یې په شعر کې نازک مزاج او سلیم ذوق رازرغون شو، په عرفاني او له شور ډکو شعر ویلو یې پیل وکړ:

خَضِرش بود شـــمس تبریزي
آنکه با او اگر درآمیـــــــزی
هیچکس را به یک جوی نخری
پرده های کلام را بدری[۱]

ژباړه « شمس د خَضِر (د یو پیغمبر نوم) په څېر و، هر هغه چې له هغه سره یوځای شي، بل به هیڅ څوک د وربشو په بیه هم ونه پېري او د ګرېدا ټولې پردې به وشلوي»

شمس ؒ، مولانا ؒ ته څه وویل، څه یې ورزده کړل او څه کیسې د دوی ترمنځ وشوې چې مولانا ؒ یې ټول، له سر تر پښو بدل کړ، دا هغه معما ده چې چا په حکمت او پوهې سپړلې نه ده او سپړلی به یې هم ونه شي.

**د شمس لنډ مهاله ورکېدل:**

د وخت په تېرېدو سره د اومه یا خامو پیروانو او مریدانو د حسادت لمبې د سکرو له لاندې راپورته او ښرګندې شوې، هغوی لیدل چې مولانا ؒ هغه بشپړ عارف او ستر مفتي د یو ناپېژندل شوي ملنګ پیرو او مرید شوی وو او د هغه په ځان کې داسې ډوب شوی وو چې خپلو مریدانو ته یې هېڅ پاملرنه نه کوله. دې کار د هغوی د حسادت لمبې پورته کړې او په شر یا فتنو یې پیل وکړ، داسې چې ښکاره او پټ به یې شمس ؒ ته بد رد ویل او هغه به یې کوډګر بللو د ځانښودنې ناړې به یې وهلې او ځانونه به یې له هغه غوره ګڼل، شمس ؒ ته د مولانا ؒ له پاملرنې او هغوی ته له پام نه کولو ګیله مند ول:

در شَناعت در آمدند همـــــه آن مریدانِ بی خبـــر چو رمه
گفته باهم که شیخِ ما ز چه رو پشت بر ما کنـــد ز بهر چه او
ما همه نامدار ز اصل و نسباو صِغر در صلاح و طالب رب[۲]

ژباړه« د رمو په څېر بې خبرو مریدانو په بدو کارونو یې پیل وکړ، له ځانونو سره به یې ویل چې له څه امله زموږ شیخ او ستانه موږ ته شا کړې، سره له دې چې موږ

له آر او نصب مخور او  نامتو یو او هغه په ښېگڼه او خدای پالنه کې هم له مـوړ غوره نه دی»

شپه او ورځ به د «ځېرو پیریو یا مریـدانو» ناسـتې پـه همـدې خـبرو اتـرو تـودې وې، ټول د **شمس الدین** د وینو تږي ول[۳].

**شمس** ^رح^ د قشري (هغه چې د دیـن د احکـامو ظـاهر تـه پـام کـوي، د احکامو باطن ته پام نه کوي او د دین احکامو ته قیـاس او سـپړنه سـمه نـه گڼـي) او ځانښودنه پیریو له ځورونکو خبرو او کړنو او د قـونیې مېشـتو خلکـو لـه سـور او ړونـد تنگ نظری یا تعصب وځورېد او د زغم لوښی یې نسکور شو، د تگ او کډې پرته یـې بله لار نه لیده، نو لـه دې املـه د زیـارت پـه ورځ د ٦۴۲ سـپوږمیز کـال د شـوال پـه ۲۱مه نېټه قونیه او قونیه وال پرېښودل. په دې توگه دا د حقیقت او معرفت ځلانـده لمر، خپلې زرینې وړانگې له دې ښار وسپمولې او پر دمشق وځلېدو.

دوستی را از آن نفر ببرید    مرغ مهرش ز لانه شان بپرید[٤]

ژباړه « له هغه یې ملگری لـرې کـړ، پـه دې توگـه د مینـې مرغـه یـې لـه ځـالې والوت»

**شمس** ^رح^ولاړ او د غیبت په حجابونو کې پـټ شـو او **مولانـا**^رح^ هـم د بېلتـون پـه لمبو کې ناقراره او نارامه شو. له دې وروسته یې هیڅ چا ته پاملرنـه نـه کولـه او پرلـه پسې د ځان په ویر راگیر وو. کله چې د اومه پیریو یـا مریـدانو دې ټکـي تـه پـام شـو چې د شمس^رح^ تگ هم د مولانا ^رح^ پام هغوی تـه راوانـړاوه او د هغـه یواځېتـوت او لـه دوی لرېتوت یې لا ډېر کړ لـه دې املـه مولانـا ^رح^ تـه پـه ننواتـو شـول او لـه هغـه یـې بخښنې وغوښتې، له خپلو بدو کړنو او خبرو یې توبې وایستې.

پیش شیخ آمدند لابه کنان     که ببخشا مکن دیگر هجران

توبه ما بکن ز لطف قبول    گرچه کردیم جرم ها ز فضول

ژباړه « د خپل شیخ ننواتو او عذر تـه راغلـل، بخښـنه یـې وغوښـته او ویـل یـې؛ چې له دې بېلتون نور لاس په سر شه، په خپلې لورېینې او زړه سواندتوب زموږ توبـه ومنه که څه هم موږ ناحقه ډېر تیری کړی دی.»

مولانا ^رح^ خپل زوی، **سلطان ولد**، د خپلو ملگرو له ډلې سره  یوځای دمشق تـه ولېږل چې خپل زړه وړونکی جانان او هغه تښتېدلې مینه قونیې راولي، هغه تـه یـې

زړه سـواندي او لـه ولولـو ډک پیغامونـه هـم واسـتل، لـه هغـې ډلـې «ای پـه نـړۍ ځلېدونکیـه لمـره! د لـوړېنې پلوشـې دې لـه بېلتـون پـه سـیلۍ وهـل شـوو، مـه سـپموه او پـه خپلـو وړانگـو دا د ځوریـدلو او سـتړي شـوو زړونـو کلـی بیـا وځلوه.»

**سـلطان ولـد**، پـه بیـړه د پـلار لـه وینـا سره سـم د رښـتینو ملگـرو لـه ډلـې سره یـو ځـای خپـل سـفر پیـل کـړ، ورځـې او شـپې یـې پـه وچـو او سـوځونکو دښـتو او مېـرو، کلیـو او ښـارونو تېـرې کـړې، خـو هغـوی د شـمس د لیـدلو داسـې تـږي وو چـې د سـفر تنـده، تـوس او سـتومانۍ یـې نـه حـس کولـه او ورتـه د خـوږو شاتو په څېر خوږه وه.

بی تعب می دوید در صـحرا

کم ز کَه می شمر هر کُـــه را

حار آن ره بر او چو گلشن بود

بود از هر زیان هزاران ســود

نار گرما و سختی یی ســرما

می نمودش چو قند و چو خرما

ژبـاړه « پرتـه لـه کـومې سختۍ پـه مېـرو کـې پـه منـډو وو، هـر غـر ورتـه لـه بوسـو هـم کـوچنی او تـودې سـیمې ورتـه لکـه بـڼ ښـکارېدې. هـره ناخوالـه ورتـه گټه شوې وه، تودوښه او سړښت ورته له قند او کجورې خواږه شوي وو.

پــه پــای کــې د **مولانــا**رح لېــږل شــوي اســتازو خپــل مطلــب ومونــد او د **مولانـا**رح ځانسـونکی او لـه ولولـو ډک پیغـام یـې پـه خـورا درنښـت **شـمس**رح تـه وړانـدې کـړ، **شـمس**رحهغـه رسـېدلی ولي او د حقیقـت او ارشـاد ځلېـدونکي لمـر د مینــې او زړه سـواندتوب او خواخـوږۍ لـه املـه قـونیې تـه د بېرتـه تـگ هـوډ وکړ.

**سلطانولد** د دې ستر نعمت د شکرانې په ډول یوه میاشت پلې یا په پښو مـزل وکړ تر هغې چې **قونیې** تـه راورسېدل او د دې ځلانـده لمـر پلوشـې پـه قونیـه والـو وځلېدې، د هغوی سوړ ژمی یې په خپلې تودوښې تود کړ او **مولانا**رح یې د غم او ویر

له تالاو او د بېلتون له اسوېلو خلاص شو او د زړه بڼ یې د دې ژوند بخښونکي وړمې په وړمو بیا په زرغونېدو پیل وکړ او گستاخو مریدانو بخښنې وغوښتې.

**د شمس د لمر تلپاتې پرېوتل:**

څه موده چارې همداسې پرمخ تللې تر هغې چې بیا د اومه او وچ سرو مریدانو د حسادت لمبې تودې شوې او د هغوی د زړونو او دین پر کور یې اور بل کړ. خپلې توبې او لوظونه یې مات کړل همدا راز خپلې پخوانۍ بخښنې یې د گناه پر اوړو کېښودې، د دښمنۍ لار یې خپله کړه، د **شمس**رح ځورول یې بیا پیل کړل او دا سپکه لار یې ووهله.

**شمس**رح د ځانښودو پیریوانو له پر ناپوهۍ ولاړو خبرو او کړنو وځورېد او خواشینی شو، تر دې چې **سلطان ولد** ته یې له هغوی گېله وکړه او ویل یې: ودې لیدل چې دوی بیا خپل عقل د نفس پر زنځیر وتړو او شور یې پیل کړ، تر دې چې د دوی د تېراېستلو او ځانښوونې له امله مومنانو هم له ایمان لاس پرې اینځلی او په یو گوټ کې ناست دي. دوی غواړي چې زما او **مولانا**رح تر منځ بېلتون راولاړ کړي او بیا پر خوښیو پیل وکړي، خو دا ځل به داسې ولاړ شم چې هیڅ څوک پوه نه شي چې زه چیرته ولاړم او پر ما څه وشول. دا چې دا سفر په رښتیا هم اوږد شو نو ټولو ویل چې هغه ومړ او یا وژل شوی دی.

خواهم این بار آنچنان رفتن
که ندانـد کسی کجایم من
همه گردند در طلب عاجز
ندهد کس نشان ز من هرگز
چون بمانم دراز گویند این
که ورا دشمنی بکشت یقین[٥]

ژباړه « غواړم دا ځل داسې ولاړ شم چې څوک پوه نه شي چې زه چیرته یم، زما له لټون ستړي شي او زما نښه هیڅ چا ته معلومه نه وي، تر دې چې زما دا نه شتون اوږد شي او دوی داسې وگڼي چې گوندې د دښمنۍ له امله وژل شوی»

هغه دا خبرې په څو څو ځله وکړې او په پای کې له قونیې بېخبره ولاړ او ورک شو او دا هم څرگنده نه شوه چې پر هغه څه وشول.

هیچ از وی کس نداد خبر

نی به کس بو رسید از او نه خبر[٦]

ژباړه« د هغه خبر هېڅ چا رانه وړ، همداراز نه د هغه بوی او نه نښه چا ومونده»

له همدې امله د هغه د رحلت یا مړینې نېټه چاته جوته نشوه[٧].

★★★

**د مولانا رح شیداتوب (شپه او ورځ په سماع و، نخېدو):**

مولانا رح د شمس په بېلتون کې ناقراره او نارامه شو او یو ځل یې زړه له لاسه ورکړ او په لېونتوب او شیداتوب یې پیل وکړ، شپه او ورځ په سماع، نڅا او سندرو بللو شو.

روز و شب در سماع رقصان شد

بر زمین همچو چرخ گردان شد[٨]

ژباړه « شپه او ورځ په سماع کې په نخېدا شو، په ځمکه د آسمان په څېر په چورلېدا شو»

د مولانا رح خواشینی او خوار حال په ښار کې د خلکو په ژبو شو، ټولو خلکو به په خورا هېښتیا او حیرت له ځانونو پوښتل چې؛ د هېښتیاوړ ده چې داسې ستر مفتي او قطبي چې خپله د خلکو د پوښتنو او اړتیاوو مرجع دی او د هغوی چارې په خپلو فتواګانو ځانګړې کوي، څنګه د هغه ښنومي کندپوښ مین او شیدا کېږي؟!

غلغله افتاد انـــــدر شهر

شهر چه بلکه در زمان و دهـــر

کاین چنین قطب و مُفتی اسلام

کوست اندر دو کون، شیخ و امام[٩]

ژباړه «په ښار کې انګازې خپرې شوې، ښار څه چې په زمان او ټوله نړۍ کې ګونګوسې شوې چې داسې قطب او د اسلام مُفتي چې په دنیا او آخرت کې ستانه او بومیا دی...»

ارمان چې زموږ ستانه او شیخ د داسې یو ښنومه درویش په لومه کې نښتی!

**د تګ هوډ (هوډ یې وکړ او د شام پر لور روان شو):**

د شیداتوب او خوارۍ خبره تر هغه ځایه ورسېده چې د مولانا ؒ له زړه یې زغم او قرار یوړو او په قونیه کې یې د پاتې کېدنې توان له لاسه ورکړ. ناڅاپه یې د تګ او سفر هوډ وکړ او له قونیې د شام او دمشق پر لور ولاړ، له هغه سره غټه ډله د عامو او خاصو خلکو او اومه او رسېدلو مریدانو هم لاړه.

کرد آهنگ و رفت جانب شام در

پی اش شد روانه پخته و خام[۱۰]

ژباړه «هوډ یې وکړ او د شام پر لور روان شو، هغه سره ولاړل د هغه اومه او پاخه مریدان...»

کله چې د ارشاد دا ستر او ځلانده لمر له **دمشق** سر راپورته کړ او وځلېده، د هغه معنوي تودوښې د هغې ښار ساړه او پرېشانه زړونه تاوده کړل او پر ځان یې شیدا کړل، تر هغې چې د هغه په پلوشو کې ډوب شول.

همه را کرد شیفته و مفتون

همه رفتند از خودی بیرون[۱۱]

ژباړه « ټول یې پر ځان ځېوږ یا شیدا او مین کړل، ټول له خپل ځان ورک شول.

خو د هغه ښار وګړو هم په هېښتیا او حیرت ویل: هغه څوک دی او څومره ستر دی چې د عرفان او معنا دا ستر لمر د هغه د پلوشو پر وړاندې د یوه بخري په څېر چورلېږي؟! له بلې خوا د قونیې خلک هم د **مولانا**ؒ له بېلتون پلټندي اوبېتابه شوي وو، تر دې چې د روم سلطان ته یې غوښتنلیکونه ولیکل او ورڅخه یې وغوښتل چې **مولانا**ؒ بېرته راستون کړي[۱۲].

**بشپړ کمال (د زرک په څېر ولاړ او د شاهین په څېر راستون شو):**

مولانا ؒ چې څومره په دمشق کې وګرځېد او شمسؒ یې ولټاوه، بریالی نه شو. له بېوسۍ او لاچارۍ بېرته قونیې ته راغی. په دې روحاني او معنوي سفر کې که څه هم شمس ؒ یې جسماً ونه موند، خو د شمس حقیقت یې په ځان کې په راختو شو او پر دې وپوهېد چې د کوم څه په لټه کې دی په ځان کې یې پېښ شوي متحقق دي او د شمس ؒ همهغه حال په هغه کې هم ښکاره دی. دې

روحاني سفر په هغه کې مطلوب کمال څرګند کړ. د طریقت زرک او د حقیقت اوچت الوتونکی باز شو. څاځکی و سیند شو. بڅری و لمر شو او ټول شمس شو.

شمس تبریـــز را به شام ندید
در خودش دید همچو ماه پدید
گفت اگر چه به تن ازو دوریم
بی تن و روح هر دو یک نوریم

***

کرد رجعت به روم بــــاز آمد
رفت چون کبک و همچو باز آمد
قطره اش چون فزود و دریا شد
بود عالي ز عشـــــق اعلی شد
چون چنین شد مگو نیافت ورا
کانچه می جُست شد بر او پیدا[۱۳]

ژباړه «په شام کې یې تبریزي شمس ونه لید، په ځان کې یې د هغه په څېر سپوږمۍ ومونده، ویل یې؛ که څه هم ځانونه مو له یو بل لرې دي، له ځان او اروا پرته دواړه یوه پلوشه یو...

روم ته بېرته راستون شو، د زرکې په څېر لاړ او باز په څېر راغی، څاځکی و په سیند بدل شو، غوره و ترټولو غوره شو، د هغه نه موندل داسې مه ګڼه چې ګوندې بریالی نه شو، ځکه د څه په لټه کې چې و هغه یې په ځان کې وموندل»

افلاکي لیکي: «که څه هم حضرت مولانا ح په دمشق کې شمس الدین ح جسماً ونه موند، خو په معنا او معنویت کې یې هغه او بل څه په ځان کې وموندل[۱۴].»

مولانا ح قونیې ته راستون شو نڅا، سماع او سندرې یې بیاځلې پیل کړې. قوالان او سندرغاړي یې ځان ته رابلل چې سندرې ووایي او د موسیقۍ توکي وغږوي او بیا هغه به په سماع کې ډوب کېده او ځوان او زوړ، خاص او عام، اومه او پوښ به د بڅرو په څېر د هغه له پلوشو ډک لمر په شا او خوا چورلېدل.

پیر و برنا چو ذره ها رقصان
پیش آن آفتاب عشق از جان

ژباړه « زاړه او ځوانان د بڅرو په څېر د هغه مينې د لمر پر وړانديې د زړه له کومې نځېدل...( که څه هم له جان دلته د روح او اروا مستی ته ويل کېږي خو ژباړه کې مو ظاهري معنا راخيستې»

**بيا د تگ هوډ (له گڼشمېر وگړو سره د دمشق په لور لاړ):**

په دې توگه کلونه واوښتل او بيا يې د حقيقت د هغه لمر د مينې تلوسه په زړه شوه او د تگ هوډ يې وکړ او گڼ شمېر ملگري يې هم تر شاه روان شول.

چند سال نشست و باز ز عشق
رفت با جمع سوی دمشق[۱۵]

ژباړه « څو کلونه تم شو، خو با مينې اړ کړ او د گڼ شمېر وگړو سره د دمشق په لور ولاړ»

په دمشق کې په مياشتو ستون شو. په بېقراری او پلټندی يا بېتابی د شمس په لټون شو، خو له ډېر زيار او لټون وروسته هم د هغه لمر «شمس» راونه ختو. په دې موده کې چې په دمشق کې اوسېدو د شام او نورو سيمو پوهان او نور عام او خاص وگړي په ټول رښتينولی يا صدق او مينه د هغه پيريو، مريدان او شيدا شول[۱٦]. خو هغه دې چارو ته پاملرنه نه کوله، کله چې بېوسی شو نو خپل ښار ته له راستنېدو پرته يې بله لار ونه ليده.

## صلاح الدين زرکوب (صلاح الدين په شَه «پاچا» پېژندل کېدو)

د عرفان او صوفيانو د باورونو او عقايدو پر بنسټ مولانا ؒ په دې باور و چې نړی د حق له مظهر « راڅرگندېدلو ځای، د راښکاره کېدلو ځای » نه کله هم نه تشېږي او حق په ټولو مظاهرو «د مظهر جمع» کې ښکاره او پيدا دی؛ خو د مظاهرو تر منځ يوازې مظهرِ اتَمّ «اتَمّ يعنې له نورو ډېر تمام يا په فارسی کې تمام تر» دی چې د مظهر اعلی «تر ټولو غوره مظهر» کېدلو بشپړه يا تامة وړتيا ولري. اوس نو بايد ولېدل شي چې هغه ځلانده لمر چې د **شمس تبريز** په ځان کې راختلی و او ظاهراً ببرته لوېدلی و، له کومې څنډې بهر او له کوم ختيځ راپورته کېږي او د چا په ځان کې رابرسېره او ښکاره کېږي؟

**شیخ صلاح الدین زرکوب**، په دې وتوانېدو چې دا وړتیا تر لاسه کړي او د **شمس** تش ځای تر یوې کچې ډک کړي.

**صلاح الدین**، یو عام نالوستی قونیه وال و او د زروبولو دنده یې درلوده او له پوهې او لوست لرې و، تر دې چې ویې یې سم ویلی نه شول. د فارسۍ ژبې ویی «قُفل» به یې «قُلف» او «مبتلا» به یې «مُفتَلا» وایه یا تلفظ کاوه.

افلاکي په دې هکله لیکي: «همداسې ویل کېږي چې یوه ورځ حضرت **مولانا** ح وویل هغه قُلف راوړئ او بل ځای یې وویل چې پلانی کس مُفتلا شوی. یو بوالفضولي «یا هغه چې د نورو په کارونو کې په ناحقه مداخله کوي» **مولانا** ح ته وویل چې باید قُفل وویل شي او همداسې سمه دا ده چې مُبتلا وویل شي. حضرت مولانا ح ځواب ورکړ، هو خبره همداسې ده چې تاسې وویله خو د خوړو ملگرو د زړه او خاطر د ساتلو له امله مې داسې وویل، ځکه یوه ورځ **شیخ صلاح الدین**مُفتلا او قُلف ویلي ول او هغه چې څه وایي هغه رښتیا دي، که هغه نومونه او ویې هم وي. په هره زمانه کې د خلکو چارې د هغوی د فطرت له مبدا رنگ اخلي[۱۷]»

مولانا ح د اووه کلونو لپاره په همدې حال و، چې د شیداتوب، خپگان او ناقرارۍ په ستونزو او اوج کې یې یو عارف چې د **شمس** محضر- یې هم درک کړی و خپل همسکالو او مصاحب «د خلوت او یوازېتوب ملگری» په توگه وټاکه او ورته ښکاره شوه چې **شمس**له دې ختیځه راپورته شوی او ځلېږي او تر یوې کچې یې د باطن سوکالي او د خاطر تسلا پرې ترلاسه کېږي، همداسې چې یې خپله وویل هغه **شمس** چې مې یاداوه او لټاوه مې د **صلاح الدین** په څېره کې بیا راغی او ما ته یې سوکالي او آرامي راوبخښله، رښتیا دا چې هغه تللی نه دی یواځې یې کالي یا جامې بدلې کړي او د **صلاح الدین** په څېره کې راڅرگند شوی.

گفت آن شمس دین که می گفتم
باز آمد به ما چـــــرا خفتم
او بَدَل کـــــرد جامه را و آمد
تا نمایـــــد جمال و بخرامد

ژباړه «ویې ویل هغه شمس الدین چې مې یاداوه، بیا موږ ته راستون شو، ولې سترګې پټې کړم هغه په نوو کالیو کې راغلی چې په مکیزونو خپل ښایست راښکاره کړي»

مولانا ؒ **زرکوب** خپل خلیفه یا ځایناستی وټاکو او خپلو پیریو او مریدانو ته یې هم وویل: زه د ستانه کېدلو یا شیخ توب هوډ نه لرم هر هغه څوک چې د حق لار موندل غواړي د شیخ **صلاح الدین** لاس دې ونیسي او حتی **سلطان ولد** ته یې له ټول پوهنیز او باطني مقام درلودلو سره د زرکوب د ارادت په حلقه کې د ګډون سپارښتنه وکړه او ورته یې وویل ربښتینی پاچا او متین مرشد همدا دی.

گفت بنگر رخ صلاح الدین

که چه ذات است آن شه حق بین

مقتدای جهانِ جان است او

مالـــک ملک لامکان است او[۱۸]

ژباړه «ویې ویل، وګوره د صلاح الدین څېره، د هغه حق پېژندونکی آر او جوهر وپېژنه، د روح د نړۍ بومیا او لارښود دی او د لامکان ملک مالک او پاچا دی...»

که څه هم سلطان ولد، د خپل پلار (مولاناؒ) سپارښتنه ومنله، خو خپل دریغ او مقام یې په ځانګړې توګه په پوهه او معارف کې له زرکوب غوره او پورته ګڼلو. خو په پای کې یې په خپل کاغتوب او هوښیارتوب بیامونده چې معلومات، ظاهري معارف او ظاهري پوهه د دې وړتیا نه لري چې د روحي او معنوي ستونزو درملنه وکړي. د لید او بصیرت یو نظر د انسان ټولې معنوي زېرمې تالا کوي او هغه بشپړ بېوزله او فقیروي. هغه د دې فکر پر بنسټ د ځانښود له تالاب لاس پر سر شو، ورو ورو په ربښتیاوالي او سپېڅلتیا د زرکوب پیریو شو.

**د اومه پریوو حسادت (د غم او خپګان له امله شپې نه وېده کېدل)**

لږ لږ د ځانښودو او اومه مزاجه پیریوانو د حسادت لمبې په پورته کېدو شوې، په دښنه او دښمنۍ شول، غونډې او ناستې یې سره وکړې او زرکوب ته په بد رد ویلو او پېغور ورکولو شول.

که چنان ترهات می گفتند

از غم و غصّه شب نمی خفتند[۱۹]

ژباړه «هومره سپکې سپورې يې ويل چې لـه ويـر او خپگـان بـه شـپې نـه ويـده کېدل»

سپکو سپورو او بد رد ويلو هم د هغوی د حسادت لمبې سړې نه کـړې، تـر دې شول چې د هغه د وژلـو هـوډ يـې وکـړ چـې د تـل لپـاره لـه هغـه بـې غمـه شي او د مولاناᴿ پام ځان ته واوړي.

سر ببازيم و زنده اش نهليم    چون از آن جان فکار و خسته دليم

ژباړه « سر به له لاسه ورکړو او ژوندی به يې پرې نه ږدو، ځکه زړونه مو لـه هغـه ځورېدلي او ستړي دي»

دا خبر لږ لږ صلاح الدين ته ورسېد، خو ونه وېرېدو او ډار ته يې زړه کـې ځـای ورنه کړ، تر دې چې په ډېره آرامۍ او وقار مسکی شـو او ويـې ويـل: دا د ړنـدو زړونـو خاوندان نه پوهېږي چې په دې نړۍ کې يوه پاڼه هم نه خوځېږي چې د سترخښتن اراده نه وي شوي. که الله (ج) مې ژغورونکی وي او ومې ژغوري، داسې څـوک نشـته چې زما وينه وبهوي او ساه مې وباسي.

خوش بخنديد و گفت آن کوران
کـــه ز گمراهي اند بې ايمان
نيستنـــــد اينقدر زحق آگاه
که به جز ز امر او نجنبد کاه؟
چون تواند کسی مرا کشـــتن
يا به خاک و بخونـــم آغشتن
چون خدا مرا نگهبـــان است
حارس و حافظ تن و جان است[۲۰]

ژبـاړه «مسـکی شـو او ويـې ويـل هغـه د ړنـدو زړونـو خاونـدان د سـمې لارې د پرېښودنې له امله بې ايمانه شوي. هغوی هومره هم نه پوهېږي چـې د سـتر څښـتن له امر او هوډ پرته يو خځلی او بوس هم نه خوځېږي. څنگه به مې ووژني او پـه وينـو به مې لاهو کړي چې الله ج زما د ځان او روح ساتونکی دی»

**جامی** ᴿ د هغه د رښتينوالي او اخلاص په هکله چې حضرت مولانـا ᴿ تـه يـې درلود داسې وايي: «لومړی خو هغه د **سيد برهـان الـدين محقـق ترمـذی** پيريـو او

مريد و. يوه ورځ حضرت مولانا ؒ د زركوبانو يا زروبولو له سيمې تېرېده، د هغوی د ټکولو له ضرب او غږ په هغه کې باطني حال راڅرگند شو او په چورلېدا شو. شيخ صلاح الدين ؒ په الهام له خپل پلورنځي رابهر شو، خپل سر يې د مولانا ؒ په پښو کې کېښود، مولاناؒ هغه په غېږ کې ټينگ کړ او ويې نازوو. مولانا ؒ د ماسپښين له لمانځه د مازديگر تر لمانځه په سماع و او دا غزل يې ووايه:

یکی گنجی پدید آمد در این دکان زرکوبی

زهی صورت، زهی معنی، زهی خوبی، زهی خوبی

ژباړه «د زروبولو په دې پلورنځي کې يو گنج او زېرمه رابرسېره شوې، څه ښکلې څېره، څه د لوړې معنا خاوند، څومره ښېگڼه، څومره ښېگڼه»

شيخ **صلاح الدين** ؒ وويل چې دا پلورنځی تالا کړئ، ځکه له دواړو نړۍ آزاده شوې، بيا د مولاناؒ همسکاله توب ته روان شو. مولانا ؒ لکه څنگه چې له شيخ شمس الدين سره مينه کوله له هغه سره يې هم همداراز مينه کوله او د لسو کلونو لپاره له هغه سره همسکالو و[۲۱].»

**د شيخ صلاح الدين مړينه (ډول او تنبل غږوونکی راولئ)**

مولانا ؒ د لسو کلونو لپاره له زرکوب سره همسکالو و او د شمس ؒ تش ځای يې پرې ډک کړی و. تر دې چې زرکوب رنځور او ناروغه شو او په پای کې ومړ. هغه وصيت کړی و چې کله مړ شي په جنازه کې يې د وير او ماتم دود ترسره نه کړي، ځکه د رښتينې مينې او له مطلوب سره يوځای کېدل او د ناورين ځای او کور خوشې کول د سوکالۍ او خوشالۍ ځای دی، نه د وير او ماتم. له دې امله خلکو په تنبل غږولو او په سماع کولو هغه خښ کړ.

شیخ فرمود در جنازه من

دهل آرید و کوس با دف زن[۲۲]

ژباړه «شيخ وويل چې زما جنازې ته ډول او تنبل غږوونکی راولئ»

شيخ **صلاح الدين** زرکوب په قونيه کې د مولانا بهاء الدين تر څنگ خښ دی [۲۳].

**حُسام الدین چَلَبي** (شه «**پاچا**» **حسام الحق د ستوري په څېر دی**)

حسام الدین چلبي ؒ چې په **اخي ترک** پېژندل کېده د عرفان له مشرانو، سترو صوفیه وو او د مولانا ؒ رښتینی پیریو و. مولانا ؒ له هغه سره هم لس کاله همسکالو او ناسته درلوده او تر دې چې د مثنوي شریف نظم هم د هغه په غوښتنه ترسره شوی.

خوش به هم بوده مدت ده سال
پاک و صافی مثال آب زلال[۲۴]

ژباړه « له یو بل سره د لسو کلونو لپاره یو همسکالو وو، پاک د خوړو اوبو په څېر»

**حسام الدین،** مولانا ؒ ته ستر او زړه ته رانږدې دریځ او مقام درلود او سخت په هغه مین و، تر هغې کچې چې ویل شوي: «یوه ورځ **مولانا** ؒ له خپلو ملګرو سره د **حسام الدین چلبي** پوښتنې ته ورتلو،چې په لار کې د **حسام الدین** د کور تر څنګ د یوه سپي سره مخامخ شول، یو تن غوښتل چې هغه وشړي، **مولانا** ؒوویل د ملګري او دوست د کوڅې سپی باید ونه وهل شي.

ای که شیران مر سگانش را غلام
گفت امکان نیست خامش والسلام
آن سگی را که بــود در کوی او
من به شیران کی دهم یک موی او[۲۵]

ژباړه «د چا چې زمري د سپیو مریومي ول، ویل یې؛ وهل یې شوني نه دي، غلی شه، د هغه د کوڅې سپي یو وېښته زه په زمرو نه بدلوم»

## پایله:

همداسې ویل شوي چې« له حضرت **مولانا** ؒ یې وپوښتل چې ستا له دې دربوارو خلیفو یا ځایناستو له ډلې کوم مو منلی دی؟ ویې ویل؛ **مولانا شمس الدین** د لمر په څېر دی او **شیخ صلاح الدین** د سپوږمۍ په څېر دی او **چلبي حسام الدّین** د هغوی تر منځ د ځلانده او لاربنود ستوري په څېر دی. هغوی چې په وچو او اوبو کې مزل کوي ډېري یې له ستورو خپله لار موندي او له هغوی ګټه پورته کوي[۲٦].»

همداسې د **حسام الدّين** لپاره د **مولانا** ﺡ د معنوي مينې په هکله راغلي، کله چې د **حسام** ښځې له دې نړۍ سترگې پټې کړې هغه خورا ډېر خپه او غمجن شو، د حسام الدين دې خپگان مولانا ﺡ هم تر خپل اغيز لاندې راوستو تر دې چې د مثنوي شريف ليکل د دوه کلنو لپاره وځنډېدل او په ٦٦٢ سپوږميز کال کې بيا پيل شول. خو د دې خبرې د کره توب په هکله نيوکه شتون لري چې د بحث وړ موضوع ده.

**<u>مأخذونه:</u>**

[۱]. افلاکي، مناقب العارفين، انتشارات امير کبير، تهران، **۱۳۸۹** لمريز کال، **۴۲** مخ.

[۲]. مناقب العارفين،۴۳ مخ.

[۳]. مقدمه استاد جلال الدين، ولد نامه، دوهم چاپ، انتشارات امير کبير، تهران، ١٣٨٦ لمريز کال، ۵۲ مخ.

[٤]. **ولدنامه**، ۴٦ مخ.

[۵]. **ولدنامه**، ۵۲ مخ.

[٦]. همدغه اثر، ۵۳ مخ.

[۷]. تبرېزي شمس «چې په شمس تبرېز پېژندل کېږي» پوه او پر ټوله معنا رسېدلی عارف و. ځينې تېروتلي او داسې گڼي چې گوندې شمس ﺡ د پوهې او فن له اړخه خوار و. د هغه ليکنې يا مقالې پر ادبياتو، وييو، قرآن او عرفان د هغه په سترې پوهې ليدونې يا شاهد دي. افلاکي په **مناقب العارفين** کې د عارفانه ويناوالی يا خطابو او خبرو لس ځپرکي د شمس گڼي.

[۸]. **ولدنامه**، ۵۷ مخ.

[۹]. همدغه اثر، ۵۷ مخ.

[۱۰]. پورته اثر، ۵۷ مخ.

[۱۱]. **همدغه اثر، ۵۷ مخ.**

[۱۲].**مناقب العارفين**، ٦۹۹ مخ.

۱۳]. **ولدنامه**، ٦۰ – ٦۱ مخونه.

[۱۴]. **مناقب العارفين**، ۲ ټ، ٦۹۹ مخ.

[۱۵]. همدغه اثر، ٦۹۹ مخ..

[۱٦]. مناقب العارفین، ۲ ټ، ٦۹۸ مخ.

[۱۷] همدغه اثر، ۷۱۸-۷۱۹ مخ.

[۱۸] . **پورته اثر** ، ٦۵ مخ.

[۱۹] . ولدنامه، ۷۴ مخ.

[۲۰] . **مناقب العارفین** ، ۷۵ مخ.

[۲۱] . **نفحات الانس**، ۴٦۹ مخ.

[۲۲] . **ولدنامه**، ۱۱۲ مخ.

[۲۳] . **نفحات الانس**، ۴۷۰ مخ.

[۲۴] . **ولدنامه**، ۱۲۱ مخ.

[۲۵]. **مناقب العارفین**، ۳۳۵ مخ.

[۲٦] . مخکېنی، ۲ ټ، ۱۰۳۱ مخ.

**پوهنیار فهیم بهیر**

# د نثر د پوخوالي لارې چارې

**لنډیز:**

اوسني نثرونه د شکل له مخې په عمومي توګه په دوو برخو ویشل کېږي چې دواړه نثرونه روانی ته اړتیا لري، که چېرې په دوی کې معنا څرګنده نه وي او رواني ونه لري، نو نثر نیمګړی بلل کېږي. د ښه نثر په عمومي ځانګړنو کې روانوالی، ساده والی او د معنا څرګندوالی مهم دی. په یو نثر کې د دې برخې د پوخوالي لپاره بېلابېلې لارې شته، چې د تمرین له لارې تر لاسه کېدای شي.

په اوسنیو ساده یا معلوماتي نثرونو کې د معلوماتو څرګندتیا ډېره مهمه ده، ځکه چې په دې نثرونو کې لیکوال غواړي یواځې معلومات لوستونکو ته وړاندې کړي. نو ځوانو لیکوالو او نورو څېړونکو ته په کار ده چې لومړی خپل نثر ښه کړي، پوخ یې کړي تر څو لوستونکو ته پیغام په سمه توګه وړاندې شي. همدا ډول که چېرې د یو لیکوال نثر ښه نه وي، نو خپل خیال او فکر په سم ډول نورو ته څرګندولی نه شي. د ښه نثر لیکلو لپاره په متن کې د سمو کلمو ټاکنه، د جملو منظم جوړښت او نورې لارې چارې مهمې دي چې په دې مقاله کې همدې برخو ته اشاره شوې او هره لاره د نمونې سره د لا وضاحت په هدف وړاندې شوې ده.

**سریزه:**

هر نثر د خپل فورم او محتوا له مخې بېلابېل جوړښتونه لري او د هر فورم ژبه هم جلا ځانګړنې لري، چې لیکوال یې باید د لیکنې پر مهال ورته پامرنه وکړي. په لیکوالۍ کې ډېر نوي ځوانان دې باریکیو ته پاملرنه نه کوي، دوی فکر کوي چې

لیکل اسانه دي، خو لیکل سخت دي، په کلمو کې د خیال او فکر ځای پر ځای کول یو ډول ترتیب او تنظیم غواړي.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو په تیوریکي اثارو کې یواځې د ساده او روان نثر یادونه شوې ده او دا یې د ښه نثر یوه مهمه ځانګړنه بللې ده، خو هغه لارې چارې یې نه دې روښانه شوي چې د هغې پر اساس ځوان لیکوالان او د پوهنځیو محصلین وکولای شي یو ښه نثر ولیکي. په دې مقاله (د نثر د پوخوالي لارې چارې) کې هڅه شوې او ډېرې هغه لارې روښانه شوې، چې د لیکنې پر مهال نثر ته ښېګنې وربښي. د دې مقالې ډېرې ځانګړنې مثالونه هم لري چې په تدریسي- او عملي برخه کې د نوو لیکوالو او محصلینو لپاره ګټورتوب لري.

په لنډه توګه ویلای شو چې د نثر د ښه کېدو لپاره باید یو لړ تمرین وکړو او په تمرین سره زموږ نثر سلاست او ښکلا پیدا کوي. په دې ځانګړنو سره زموږ ترتیب شوی متن د لوستونکو لپاره هم اسانه وي او ژر ترې معنا اخیستی شي. پوخ نثر رواني لري، معنا په کې څرګنده وي او د لوستلو پر مهال یې لوستونکي له ستونزو سره نه مخامخ کېږي، چې نثر دا ښه والی د دې مقالې د برخو په پلي کیدو سره تر لاسه کېدای شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

په دې څېړنې سره د ښه نثر لیکلو لارې چارې را معلومېږي او د لیکوالۍ د مهارت په لوړوالو کې اساسي رول لري.

**د څېړنې موخه:**

د ځوانو لیکوالو، د ادبیاتو محصلینو او د ادب مینوالو لپاره د ښه نثر لیکلو لارې چارې ورزده کوي، تر څو د خپل نثر نیمګړتیاوې په لیکوالۍ کې له منځه یوسي.

**د څېړنې فرضیه:**

د نثر پوخوالی په لیکوالۍ کې مهم دی چې د لیکوال مطلب په اسانه ډول لوستونکي ته وړاندې کوي.

**د څېړنې اصلي پوښتنه:**

ایا پوخ نثر سلاست لري او په اسانه ترې لوستونکی معنا اخیستی شي؟

**فرعي پوښتنې:**

الف ـ ايا پوخ نثر يواځې ساده او روان لوستل کېږي؟

ب ـ ايا په دې نثر کې مطلب ښه وړاندې کېږي؟

ج ـ د ليکوالۍ لپاره څومره مهم دی؟

**د څېړنې شالید:**

د ژبو او ادبياتو پوهنځيو په يو شمېر تدريسي اثارو کې د ساده او هنري نثر په اړه بېلابېل معلومات وړاندې شوي دي، په دې اثارو کې د نثرونو بېلابېل فورمونه هم معرفي شوي دي د دوی ځانګړنې په کې هم ښودل شوي دي، خو د نثر د ښه والي لپاره په کې لارښوونې او پاملرنې سمې نه دې معرفي شوي. دا مقاله نوې ده او په دې کې کوښښ شوی او هغه لارې چارې راسپړل شوي دي، چې له امله يې نثر ښېګڼه پيدا کوي او د پخوالي تر درشله رسيږي.

**د څېړنې مېتود:**

هره ليکنه د خپلې موضوع په تړاو ځانګړی ميتود لري، خو د دې مقالې په ليکلو کې زياتره له کتابتوني، تشريحي او تحليلي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی، د مقالې برخې تشريح او تحليل شوي دي او مثالونه يې وړاندې شوي دي، له ځينو اثارو څخه اخيستنې هم په متن کې شوي دي او ځينې برخې د ضرورت له مخې لا سپړل شوې او تشريح شوي دي.

**اصلي متن:**

هغه مهال چې د ژبو او ادبياتو پوهنځي محصل وم، له يو شمېر استادانو څخه به مې اوريدل چې د پلانکی ليکوال نثر پوخ دی. اوسمهال په يو شمېر علمي او فرهنګي مرکزونو کې هم ځينې ليکوال وايي د پلانکی نثر اوس پوخ شوی دی.

په تدريسي بهير کې د نوو محصلانو لپاره دا خبره سمه نه ده سپړل شوې او د دوی لپاره يواځې د پوخ نثر کلمې کارول بسنه نه کوي، بلکې دوی ته بايد هغه لارې چارې په ګوته شي چې له امله يې نثر ښه او پوخ ګڼل

کېږي. ځوان لیکوال دې برخې ته ستره اړتیا لري چې لومړی باید خپل نثر ښه کړي.

د پوهنتوني زده کړو پر مهال مې لیکنې کړې دي او یو شمېر چاپ شوې هم دي. څو کاله وړاندې مې د د منځنۍ دورې نثر کتاب چاپ شو اوسمهال چې کله د خپلو چاپ شو اثارو لیکنې گورم، په نثر کې یې ستونزې وینم. دا ستونزې د یو شمېر نورو ځوانو لیکوالو او حتی د یو شمېر تکړه استادانو په لیکنو کې هم لیدل کېږي. همدا ډول مې په یوه اداره کې د یو همکار لیکنه ولیده، چې ساده نثر یې لیکه خو ډېرې ستونزې په کې وې.

د نثر پوخوالی د لیکوالۍ لپاره مهم دی، ځکه که د نثر جوړښت سم نه وي، نو خپل پیغام په سمه توگه لوستونکي ته نه شي لېږدولی. که نوي لیکوال غواړي خپل اثار چاپ کړي یا لیکوالي کوي نو لومړی دې خپل نثر پوخ کړي. زما په اند د نثر د پوخوالي لپاره لاندې ټکي مهم دي چې پاملرنه باید ورته وشي:

**د جملو پیل:**

کله کله په یو شمېر لیکنو کې د جملو پیل په مفرده بڼه وي خو پای د جمعې په ډول وړاندې شوی وی، چې دا کار هم گرامري نیمگړتیا بلل کېږي او بل د لوستلو پر مهال اوله او دوهمه برخه په سم ډول نه لوستل کېږي. دا نیمگړتیا د هغو ځوانانو په لیکنو کې ډېره لیدل کېږي چې نوې یې لیکوالۍ ته مخه کړې وي. دا هم یوه نمونه د ښاغلي اصغر له اثر څخه را اخلو چې داسې ستونزې په کې ډېرې لید ل کېږي: «دا چې راتلونکی نا معلومه دی، نو په دې اړه فکر کول، په هوا کې مرغان نیول دي او خوب لیدل دي»(۱۰: ۲۷).

پورتنی متن د لوستلو پر مهال ستونزې لري، چې پیل یې یو ډول دی او پای یې بیله بڼه نیسي، نو پوخ او ښه نثر له داسې ستونزو خالي وي او لوستل یې روان او معنا یې ښکاره وي.

**ناسمې جملې او تکراري جزونه:**

جملې له ترکيبونو څخه جوړېږي، کله کله د جملو د اجزاو ترمنځ ګرامري رابطه سمه نه وي. دا ستونزه په هغه نثرونو کې زياته ليدل کېږي چې نثر يې خام وي او په دې ډول متنونو کې بېلابېل شکلونه لکه، مفرد، جمع، مذکر، مونث همدا ډول صفت د جملې مبتدا او خبر له خپلو اړوندو برخو سره سم سمون نه خوري، نو نثر يې په سختۍ لوستل کېږي او پيغام هم په سم ډول نه شي وړاندې کولای چې پورته ځانګړنه کې مو هم ورته يو څه اشاره وکړه، خو په دې ځانګړنې کې د جملو په منځ کې ځينې اجزاوې په سم ډول نه کارول کېږي چې بايد ورته پاملرنه وشي. د نمونې په توګه د خپل اثر(منځنۍ دورې نثر) څو کرښې راوړم: « ده هم د خپل اثر د ښکلا لپاره له نيمه وزن څخه هم کار اخيستی دی، چې په لوستونکو يو اغېز وشيندي» (۱: ۷۷ ).

يا دا نمونه: «دا نثر د قافيو او نيمه وزن لرونکی دی، چې د همدې ظاهري کلماتو د جوړښت له مخې يې ادبپوهان د خير البيان سره نژدې ګڼي او د مطلب له مخې د اخوند درويزه د اثر مخزن الاسلام سره نژدې ګڼي» (۱: ۷۸).

په لومړۍ نمونه کې وينو چې د (هم) دوه ځلې راغلي لوستل يې هم بې خونده کړي دي او په دوهمه نمونه کې د پيل اوله برخه او بيا (سره نژدې ګڼي) دا برخه هم دوه ځلې تکراري راغلې ده.

**اوږدې جملې:**

د يو شمېر ليکوالو په متن کې اوږدې جملې ډېرې کارول کېږي. له اوږدو جملو څخه زما هدف هغه جملې دي چې په خپل جوړښت کې ډېر توکي لري او له دې توکو پرته هم د جملې معنا پوره وي. په متن کې د اوږدو او کړکيچنو جملو لوستل ستونزمن وي او معنا اخيستنه هم. دا ستونزه هم په هغه نثرونو کې زياته ليدل کېږي چې نثر يې خام وي. ډېر نوي کسان چې ليکوالي کوي يا يو متن ليکي د دې لپاره چې موضوع يې اوږده يا پراخه

ښکاره شي، نو بې ځایه خپلې جملې اوږدوي او لوستونکي ته د ګټې پر ځای زیان رسوي، نو باید د معنا د لېږد د اړتیا په اندازه جملې اوږدې او لنډې ګړو.

دا هم یوه وړه نمونه چې جمله بې ځایه اوږده شوې ده: «دا جدول د لیک د زر زده کولو په هیله کښل شوی دی. تاسو زده کوی».

**د کلمو دقیقه ټاکنه:**

په یو شمېر نثرونو کې ځینې کلمې کارول شوي دي، چې د نثر له پیغام سره سم اړخ نه لګوي. ځینې لیکوال پرته له دې چې د کلمو په ټاکنه کې له احتیاط څخه کار واخلي، نو د خپل ځان د سهولت په هدف هره کلمه چې په ذهن کې تېره شي کاروي یې. البته دا کار په مترادفو کلمو کې ډېر لیدل کېږي.

که چېرې په نثر کې د هغې کلمې پر ځای چې د معنا په وړاندې کولو کې ښه نقش لري او کومه بله نږدې معنا لرونکې کلمه وکارو دا هم د نثر په کمزورۍ دلالت کوي. د کلمو د غوراوي په اړه استاد غضنفر په خپل اثر«د نثر لیکلو هنر» کې یوه اوږده مقاله لیکلې ده، چې د موضوع د وضاحت په هدف تري څو کرښې راوړو: «هره کلمه په لومړۍ معنا سربېره څو ضمني معناوې هم لري. کلمې په عاطفی لحاظ مثبت یا منفي اړخ لرلای شي. دا لاندې جملې د خپلو بېلو ضمني معناوو او عاطفي اړخونو په وجه د یو بل ځای ناستې نه دي:

مړ شو، وفات شو، په حق ورسید. پور یې پرې کړ. ساه یې وخته. سترګې یې پټې شوې. نیمه خوا شو. روح یې والوت. د ګور بندي شو. پښې یې وغځولې.

وروستۍ جمله د یو چا په مړینه د خوشحاله کېدو ښودنه کوي او طنزي انداز لري. د درېیمې جملې دیني اړخ قوي دي. که څه هم د وفات په کلمه کې دیني معنا نشته، خو د افغانستان خلک بهتره ګڼي چې د غیرې مسلمان

لپاره يې را نه وړي. «سترګې يې پټې کړې»جمله ممکن د «سترګې يې پټې شوې» تر جملې محترمانه وي، ځکه لومړۍ جمله د متوفي په باره کې داسې تصور راکوي چې په خپله خوښه او اراده يې يو کار کړی دی. «روح يې والوت» هم ځکه محترمانه ښکاري چې د متوفي روح په کې فاعل دی. دغه راز«الوت»مخ په بره حالت تداعي کوي، يعنې په ضمني ډول راته وايي چې روح يې اسمان ته لاړ او له خدای سره وصل شو. نيمه خوا کېدل په دې دنيا کې د متوفي د ارمانونو نه پوره کيدلو او ځوانيمرګي ته اشاره کوي، خو د ګوربندي کيدل مو له ژونده وروسته دنيا ته پام اړوي او د نيمه خوا کيدلو په څېر خوا خوږي په کې نغښتې ده» (۷: ۸ ).

**د مخاطب پېژندل:**

هر نثر د يو ځانګړي هدف لپاره ليکل کېږي، خو په يو شمېر نثرونو کې پيغام په سم ډول نه څرګندېږي ځکه چې داسې نثرونه خام وي.

ځو ورځې وړاندې زموږ په سيمه کې ځينو کسانو په يو چا د غلا ادعا کړې وه او په دې اړه يې عريضه د پوليسو حوزې ته کړې وه او پر عريضه باندې نږدې شل تنو لاسليک کړی و. کله چې جنايي د عريضې متن ولوست، نو دوی په حقيقت کې په خپل ځان عريضه کړې وه او نږدې و چې پېښه سرچپه شي، همدا خلک بنديان شي او هم بايد هغه بل کس(د غلا متهم) ته نقدي جريمه ورکړي. کله چې د عريضې متن ما ولوست، نو اصلي ستونزه د عريضې په ليکونکي کې وه. هغه خپل مخاطب نه پېژنده او په دې نه پوهيده چې خپله غوښتنه يادې ادارې ته څه ډول وليکي؟ نو د پوخ نثر ليکوال خپل مخاطب پېژني د هغه سويې برابر متن ليکي او بيا همغسې ژبه ورته ټاکي.

د مخاطب پېژندلو لپاره ځوان ليکوال ګل رحمن رحماني ليکي: «دا هم د ليکوالۍ دربيمه او تر ټولو مهمه پوښتنه ده، چې د ليکنې د مخاطب په اړه مطرح کېږي. په پيل کې يې ځوابول ليکوال ته خپل مخاطبين ور پېژني

او په دې اړه معلومات تر لاسه کوي چې دا لیکنه د چا لپاره  کوي او په بله اصلاح پېرووونکي(مشتریان) یې څوک دي؟ د پېرونکي کلمه مې ځکه وکاروله چې د لیکوال او د هغه د مخاطب یعنې هغه کس ترمنځ چې د ده لیکنه لولي یا یې اوري، یوه اړیکه شته او دا اړیکه د پلورونکي او پېردونکي ترمنځ اړیکې ته ورته ده، چې د نه پېژندنې په صورت کې تاوان کوي. پلورونکي چې  څو خپل پېرودونکي ونه پېژني  او د هغوی اړتیا درک نه کړي، نو سوداګریې بې ګټې ده او تل به له تاوان سره مخامخ وي. همداسې لیکوال ته ډېره اړینه ده چې خپل مخاطب وپېژني، د هغه اړتیا او د پوهنې کچه درک کړي او بیا ورته یو څه وړاندې کړي.

لیکوال باید د دې پوښتنې په ځواب کې سوچ وکړي چې دی  خپله مقاله چا ته لیکي، محصل دی، یواځې لوستي دی، ښوونکی دی، د کومې علمي کچې خاوند دی او که غواړي چې لیکنه یې د دې برخې  د څېړنیزې برخې په ماخذونو کې وکارول شي. حتی کله کله  د مخاطبینو د جنسیت موضوع په کې هم مطرح وي» (۴: ۴).

**د نثر روانوالی**:

د نثر رواني د ښه نثر تر ټولو مهمه ځانګړنه ده، چې لوستونکي یې په اسانۍ سره لولي او په اساني ترې پیغام اخیستی شي، نو کله چې نثر پوخ شي رواني هم پیدا کوي.

د ځینو نثرونو لوستل ستونزمن وي یا یې کلمې سمې نه وي کارول شوي یا د جملو په جوړښت کې مشکل لري،  د همدې ستونزو له امله لوستونکي په سم ډول لوستلای نه شي او د لوستونکي د خستګي او د زړه د تور والي سبب کېږي. که چېرې دا ستونزې د ښوونځیو په  کتابونو کې وي، نو د تنکیو زده کوونکو علاقه له مطالعې څخه لري کېږي. د کلمو د سلاست په اړه «د نثر لیکلو په هنر» کې لیکل شوي: «موږ (شپه او ورځ) وایو خو (ورځ شپه) نه وایو، ځکه چې ویل یې سخت دی. همدا د اسانه ویلو وجه ده چې په

ولس کې ادم درخانۍ او ليلاو مجنون اورو، نه درخانۍ او ادم يا مجنون او ليلا.

هغـه کـلام چـې روان ويـل کېـږي، د بلاغـت عالمـانو سـليس کـلام بللـی دی. سلاسـت د ليکنـې د ښـکلا يـو شرط دی. يـو وخـت خوشـحال خـان تـه د تـورې او قلـم خاونـد وويـل شـو. دا خـبره مشـهوره شـوه او هغـوی چـې لـه کليشـه شـوي فکـر او سـولېدلي ژبـې سره ډېـر حساسـيت نـه لـري، د خوشـحال لپـاره پـه خپلـو ليکنـو کـې تـر ننـه پـورې همـدا عبـارت راوړي. د دې عبـارت د شـهرت او پـاتې کيـدو يـوه وجـه دا ده چـې اسـانه ويـل کېـږي. کـه دلتـه قلـم اول او تـوره ورپسـې راشي، د عبـارت پـه سلاسـت کې کمی راځـي خـو معنـا يـې پيـاوړې کېږي، ځکـه د خوشـحال د قلـم رڼا د هغه د تورې تر ځلا هم زياته ده.

کـه د معنـا د دقـت او د کـلام د روانـۍ تـرمنځ ټکـر راځـي او ليکـوال مجبـوريږي چـې يـو انتخـاب کـړي، نـو پـه هغـه ليکنـو کـې چـې د معلومـاتو رسـول يـې اصـلي مقصـد وي، د معنـا دقـت تـه تـرجيح ورکـول ضروري دي» (۷: ۱۸۰).

**د نثر ژبه:**

نثرونـه د معنـا او شـکل لـه مخـې بېلابېـل جوړښـتونه لـري او دې اړخونـو لـه مخـې ورتـه همغسـې ژبـه ټاکـل کېږي. ډېـر نـوی ليکـوال بايـد د خپلـې ليکنـې مفهـوم درک کـړي چـې کومـه موضـوع وړانـدې کـوي؟ د مـتن د موضـوع پـه لحـاظ د ليکنـې ژبـه ځينـې ځـانګړې کلـمات او اصطلاحات لري چې بايد وپېژندل شي.

د ادبي ليکنـو لپـاره ادبي ژبـه پـه کـار ده چـې ليکـوال بايـد د ليکلـو پـر مهـال ورتـه پاملرنـه وکـړي او ادبي ژبـه وکـاروي. د سـاده يـا معلومـاتي نـثر لپـاره بايـد سـاده ژبـه وکـارول شي، د سـياسي مـتن لپـاره بايـد هغـه کلـمات او اصـطلاحات وکـارول شي چـې د سـياسي مـتن د معنـا پـه

وړانـدې کولـو کــې مرسـته کـوي او د تـاریخي مـتن لیـاره بایـد هغـه ژبـه وکـارول شي چـې د تـاریخ لیکنــې لـه میتـود سره برابـره وي، نـو کلـه چې یـوه لیکنـه د خپـل فـورم او معنـا لـه مخـې متناسـبه ژبـه ولـري هغـه نـثر پوخ ګڼل کېږي.

دا هم د یو ادبي لیکنې نمونه: «چې د غنمو وږی تور شي، چـې د بهـي، مڼو او شوتالانو ګلان د واده د اولې شپې د لمنې په شـان دلـۍ، د ونـې د ډډ چارچاپیره راپریوتې وي چې توت خورې مرغۍ د ونـې لـه پـاس نـه در بانـدې خپل او پردي شیان را غورځوي، چې هر ځای او بېځایه لاس ټنـدي تـه ځـي، چې د مالګینو خولو ورک د سترګو نه واوړي، په دغه مهال نو د هقـان پـاس د للمې اسمان ثاري، د ښو او بد مورینـه همـدا د للمـې آسـمان دی او زمـوږ د کلیوالو سترګې لکه د بـوت پرسـتو پـه شـان للمـې تـه ورکـړې کـړې وي» (۵: ۱۴۲۹).

په دې بیلګه کې وینو چې متن ادبي دی او د لیکنــې ژبـه هـم انځـوریزه ده، د همدې ژبې په ټاکلو سره متن ښایسته شـوی دی او د همـدې ښایسـته کلمو او انځوریزې ژبې له امله هنریت لري.

دا هم د یوې علمي یا معلومـاتي لیکنـې نمونـه: «پـه هـره لیکنـه کـې د منځپانګې، پیغام او پوره مفهوم تر څنګ د هغې لیکنې ژبنی اړخ هم ډېر مهم او د پام وړ دی. ډېـر لیکـوالان د لیکنـې موضـوع پـه زړه پـورې او د وخـت لـه غوښتنې او د چاپیریال له اړتیا سره سمه ټاکي، خو لیکنی او ژبنی اړخ یې بیا ډېر کمزوری او نیمګړی وي، چې آن زیاتره وخت د موضوع مفهوم پـه کـې لـه لاسه ورکوي چې لامل یې د نامعیاري ژبې کارونه ده» (۲: ۱۲۸).

**څو ځلې د متن لوستل:**

کله چې د ښوونځي زده کونکی وم او نوي تعلیمي کال به پیل شو، نـو د نوو راکړل شوو کتابونو د متن لوستل به زموږ لپاره سخت وو. د وخت په تېرېدو سره به د همدې مشکلو متنونو لوستل زموږ لپاره اسانه و.

د ښه نثر ليکلو لپاره بايد ليکوال خپل متن څو ځلې له ځان سره ولولئ او دا له ځانه وپوښتئ چې ايا لوستل يې سخت دې که اسانه؟

کله چې متن څو ځلې د ليکوال له خوا ولوستل شي، د ليکنې په بېلابېلو برخو کې د نثر نيمګړتياوې ورته معلومېږي بيا هلته خپلې کلمې او جملې سره تبديلوي، دا کار او د ده تجربه له لوستونکو سره مرسته کوي او د هغوی لپاره يو اسانه او روان نثر رامنځته کېږي. دا تمرين د موضوع د ليکنې پر وخت له ليکوال سره مرسته کوي چې يو اسانه او ښه نثر رامنځته کړي او کوم متنونه چې سخت دي که څېرې يې لوستونکي څو ځلې هم ولولي ورته اسانېږي او معنا ترې اخيستی شي.

**د ورځينيو يادښتونو ليکل:**

د اريانا تلويزيون د ويبپاڼې او له ګنج اونيزې سره مې پنځه کاله پخوا کار کاوه او ډېر وخت به مې د نثر په تړاو پوښتنې جوړولې او بيا به ازادی راډيو ته تلم له استاد غضنفر سره به مې مرکې کولې. استاد به هميشه راته ويل هره شپه مخکې له ويده کېدو څخه د ورځې د مهمو ليدنو او خاطرو ليکل کوه او دا تمرين کولای شي د ښه نثر ليکلو په برخه کې در سره مرسته وکړي.

کله چې د استاد غضنفر د نثر ليکلو اثر چاپ شو په همدې اړه يې يوه مقاله ليکلې وه او د استاد بختاني د همدې تمرين يادونه يې په کې کړې وه، نوموړي د همدې تمرين له امله ډېر اثار ليکلي هم دي. د ورځنيو خاطرو، پېښو يا د ژوند د نورو اړخونو ليکل مونږ ته د ښه نثر ليکلو لارې چارې را زده کوي او په دې تمرين سره د وخت په تېرېدو د ليکوال تجربې په څو برخو کې پخېږي:

لـومړی: لیکـوال د لیکنــې موضـوع درک پېــژني او پــه دې یــې هــم پوهوي چې له کوم اړخ نه خپله لیکنه پیل کړي؟

دویم:  لیکوال په اصلي خبرو خپله لیکنـه پیلـوي. بـې ځایـه جملـې نـه اوږدوي او یو ساده او روان نثر رامنځ ته کوي چې لوستونکي هـم تـرې اسـانه معنا اخیستي شي.  په دې تمرین سره لیکوال له کلیشه شـو کلمـو، عبـارتونو او بې ځایه اوږدو جملو څخه ډډه کوي.

درېیم: د ورځنیو یادښتونو لیکلو تمرین د ساده یا معلوماتي نثر  په لیکنه کې لا ښه  مرسته کوي، ځکه نیغ په نیغـه پـه کـې معنـا وړانـدې کېـږي هـیڅ تخیل او تصویر ته په کې ځای نه ورکول کېږي.

**د تحلیل وړتیا:**

په علمي اثارو کې  یوه موضوع د لیکوال له خوا هم تحلیـل کېـږي، دی په خپله لیکنه کې د نورو خبرې هم را اخلي. دا را اخیستنه کله نیـغ پـه نیغـه وي او دا برخه په غبرگو قوسونو کې لیکي او بیا ماخذ د وروستي قوس په پای کې  لیکل کېـږي. کلـه  پـه مـتن کـې د نـورو خـبرې هـم پـه مسـتقیم ډول را اخیستل کېږي او  په پای کې ماخذ ور سره ذکر کېږي.

پورتني هغه لاره وه چې موږ د متن په لیکلو کې د  نورو خبرې را اخلو خو باید لیکوال د تحلیل وړتیا هم ولري، ځکه چې یوه موضوع مطالعه کـوي یـا د نورو نظر لـولي او بیـا یـې تحلیلـوي او هغـه وړانـدې کـوي پـه دې وخـت کـې لیکوال له خپل تحلیل سره خپله ژبه لري، کلمې او جملې یې خپلې وي کلـه چې د یو لیکوال په لیکنه کې دا ځانگړنه ځرگنـده شي، نـو نـثر یـې پخېـږي. وروسته له دې لیکوال دا وړتیـا پیـدا کـوي چـې د نـورو او خپلـې خـبرې د یـو منظم جوړښت په اساس سره وتړي چې روان او اسانه ولوستل شي او معنا پـه کې هم ځرگنده وي.

زما د خپل اثر (منځنی دورې نـثر) پـه لومړیـو پـاڼو کـې ځـای ـ ځـای دا ستونزه لیدل کېږي او اوسمهال مې حس کړه، نو هغه کسـان کـه غـواړي ښـه

نثر ولیکي بیا په علمـي اثـارو کـې د تحلیـل وړتیـا ولـر ي او د دې لپـاره لیکوال خپله ژبه کاروي.

د اهم یوه نمونه چې لیکوال وروسته له مطالعې او معلومـاتو څخـه خپـل تحلیل وړاندې کړی: «پښتو څېړونکیـو او سـبکپوهانو د عبدالحمیـد مومنـد د سبک ښکلا، رنګیني او هنري لوړتیا د هندې ادبي ښـوونځي لـه اغېـزه بللـې ده، خو مخکې له دې چې د دې ارزونې او تقییم په بـاب څـه ووایـو پـه کـارده چې پر ادبي سبک او ادبي ښوونځي یو څه رڼا واچوو، که څه هم له بده مرغـه د د واړو ترمنځ د برید او پولې نړېدو او نا ځانخبري نـه بېلتـون، د ارزښـتونو او څرنګتیـا وو پوهېـدا لـږ ګرانـه کـړې ده، خـو د دواړو نومونـو او اصـطلاحاتو د پوهېدنې لپاره دواړه سره په لنډه توګه جلا جلا څېرو»(٦: ١١).

**لیک نښې**:

په هره لیکنه کې لیک نښې استعمالیږي او پرتـه د لیـک نښـو څخـه پـه متن کې ستونزې رامنځته کېږي. په دې معنا چې لوسـتونکي لـه مـتن څخـه سم مطلب نه شي اخیستې او د متن لوستل ورته هم مشکل وي. د لیک نښو په مراعت کولو سره نه یوازې متن سم لوستل کېږي بلکې لوستونکي تـرې پـه اسانه معنا هم اخیستی شي.

د لیکوالی په هنر کې د لیـک نښـو د اهمیـت پـه اړه لیکـل شـوي دي:« لیک نښې یو شمېر علامې دي، چې په لیکنه کې استعمالیږي، لکه ادات پـه ځانګړې توګه معنا نـه لـري، خـو کـه پـه لیکنـه کـې هـره یـوه پـه خپـل ځـای استعمال نشي هغومره خوندوره او معنا داره نه وي او کـه پخپـل خـآی راوړلـی شي لیکنه پوره معنا لرونکې، مطلب ترې ژر اخیستل کېږي او په لوستنه کـې د اشتباهاتو مخه نېول کېږي په وینا کـې د دې نښـو افـاده د ډول ډول وقفـو، اواز د تغیر، د اهنګ د ټیټولـو او هسـکولو او نـورو لفظـي سـلوکونو پـه وسـیله کېږي. د دې نښـو د اسـتعمال مهـم او اسـاسي هـدف د جملـو او عبـارتونو د مفهوم وضاحت او صراحت دی. دا نښې موږ په دې پوهوي چې د یوې جملې

کلمې څه راز ښنګ په ښنګ کېږدو، چې په اسانۍ سره معنا ترې واخیستل شي او د لیکنې د بېلابېلو برخو تمیز وشي» (۸: ۲٦).

د لیک نښو له ډلې څخه دوه بیلګې را اخلو:

ته نه یې خبر چې ملالې یوسفزۍ د نوبل جایزه واخیسته!؟

په پورتني متن کې د لیکوال هدف د لوستونکي پاملرنه ده او له بلې خوا یې پوښتنه هم وړاندې کړې ده. نو اوس که ځوان لیکوال د دې لیکنښې د استعمال ځایونه ونه پېژني نو داسې متن په ښنګه ترتیب کړي؟ او لوستونکی به ښنګه ترې معنا واخلي؟

غبرګ قوسونه: په دې قوسونو کې مستقیم نقل قولونه را اخیستل کېږي. په متن کې د بل ماخذ اخیستل شوې برخه ګټ مټ په همدې قوس کې لیکل کېږي یا د چا بیان وي. بیا لوستونکی پوهېږي چې د قوسونو برخه د ماخذ په توګه نیغ په نیغه را اخیستل شوې ده او د متن د لیکوال خبرو سره توپیر لري. کله کله ځینو لیکنو کې دې برخې ته ځوک پاملرنه نه کوي د نورو خبرې ګټ مټ په خپل اثر کې وړاندې کوي.

دا هم یوه نمونه: «د پښتو د ادبي اثارو مطالعه راښیي، چې له یوولسمې هجري پېړۍ څخه تر اوسه پورې د خوشحال خان په کورنۍ کې د پښتو شعر او شاعرۍ او لیکوالۍ هنګامه ښه ګرمه ده، په سلګونو شاعران او لیکوالان په دې کورنۍ کې پیدا شوي او لوی شوي، په لسګونه منظوم او منثور اثار یې خپل ولس ته وړاندې کړي او د پښتني فرهنګ په بډایتوب کې یې خورا زیاته ونډه اخیستې ده. په دې موضوع کې موږ د خوشحال خان د کورنۍ په ټولو لکیوالانو او شاعرانو خبرې نه کوو، بلکې یواځې هغه شاعران در ښیو، چې په نظم لیکولو کې یې د خپل پلار پیروي کړې ده.»(۳: ۱۰۸).

پورتنۍ متن د استاد هېواد مل له اثر(پښتو ادبیاتو تاریخ) څخه ګټ مټ اخیستل شوی دی او دا زباتوي چې پوخ نثر باید ښنګه وي او ښنګه یې باید ترې زده کړو؛ نو که خبره را ټوله کړو پوخ نثر دا او دې ته ورته ځانګړنې لري

چې د ادبپوهانو په وینا ډېر ځله د نورو هنرونو ترڅنګ په بیا ځلي لیکلو یا تکرار په وسیله هم د پختابه مرحلې ته رسېږي.

**مناقشه:**

ډېر ادب څېړونکي په دې اند دي ښه نثر هغه دی، چې ساده وي او روان ولوستل شي. ځینې بیا په دې باوري دي، چې ښه نثر باید هنري وي یعنې انځوریزه ژبه ولري یا هنري کلمې په خپل متن کې ولري. د هنري او ساده نثرونو په لیکوالۍ کې تر هر څه مهم د نثر پوخوالی دی، ځکه که نثر خام وي، نو لوستل یې هم سخت وي او مطلب په کې هم ورک وي.

نثرونه د خپل شکل او محتوا له مخې بیلې ژبې لري او د همدې له امله هر نثر جلا ځانګړنې لري، خو سلاست د ښه نثر مهمه ځانګړنه ده، چې هم روان لوستل کېږي او هم په کې مطلب په روښانه توګه پروت وي دا او داسې نورې ځانګړنې د پوخ نثر بلل کېږي.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلینو او نوو لیکوالو لپاره په دې اړه تمرین مهم دی، تر څو د خپلو لیکنو او اثارو له چاپ کېدو نه مخکې خپل نثر ښه پوخ کړي. ښه نثر په لیکوالۍ کې مهم دی چې د لیکوال پیغام په اسانه توګه لوستونکو ته لېږدوي. د نثر پوخوالی د اوږدو جملو کارونه نه ده، یواځې د هنري کلمو کارول نه دي، بلکې هره کلمه باید په خپل متن کې په خپل ځای ورکارول شي، د جملو په جوړښت کې یې هیڅ ستونزه نه وي او لوستونکی ترې مطلب په اسانه واخلي.

**مأخذونه**

١ ـ بهیر، فهیم، پښتو نثر منځنۍ دوره، د مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ١٣٩٢ لمریز کال.

٢ ـ بشارت، محمد حیکم، سید شمس الدین مجروح ادبي مقالې او تحلیلونه، د ملي تحریک ګوند فرهنګي کمیټه، کابل،١٣٩۴ لمریز کال.

٣ـ د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره، د دربېیم ټولګي محصلان (کونړ پوهنتون)، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ١٣٩٢لمریز کال.

۴ ـ رحماني، گل رحمن، زر لټون، مومند خپرندویه تولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵لمریز کال.

۵ - ښکلي، اجمل، سبکپوهه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۰ لمریز کال.

٦ - صمیم، محمد آصف، د عبدالحمید مومند کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور،۱۳۸٦لمریز کال.

۷ - غضنفر، اسدالله، د نثر لیکلو هنر، د مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۲لمریز کال.

۸ - هاشمي، سید محی الدین، د لیکوالۍ هنر، میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۹ - هېوادمل، زلمی، پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳لمریز کال.

۱۰ - هاشمي، سید اصغر، فکربیان، گودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد،۱۳۹۳ لمریز کال.

پوهنيار شفيق الله رحماني

# د ادب او ژورناليزم ترمنځ اړيکې

## لنډيز:

که څه هم ادب او ژورناليزم په خپلو کې سره بېل، خو يو لړ داسې کوټلي او نه بېلېدونکي بنسټيز تړاوونه لري چې يو بل ته اړوندوي،يعنې ادب د ژورناليزم او ژورناليزم د ادب لپاره لازم او ملزوم دي.

ادب او ژورناليزم په يواځېتوب سره ځکه نيمګړي دي چې د بنسټيزو اړيکو سرچينه يې يوه ده، د بېلګې په ډول: ژبه، متن،ليکل اولوستل،اخلاق،ګرامر، څېړنه او ويناوالي هغه ارزښتونه دي چې ادب او ژورناليزم دواړه پرې د کمال پوړۍ ته رسيږي.

## سريزه:

په انسان کې په فطري او رواني ډول د ادب او ژورناليزم حسي- تومنه او ماده شته چې د پلټلو، څېړلو او رسولو له لارې تل په دې هڅه کې دی چې له څېړنيز او رسنيز ميتود څخه په کار اخيستو سره د يو شي په اړه وپوهېږي او په همدې اړه بيا لږ يا ډېر معلومات تر لاسه کړي او دغه تر لاسه شوي معلومات نورو ته هم ورسوي، تر څو يې په اړه نور هم په بشپړ ډول وپوهوي.

د پلټلو او رسولو د جذبې له مخې انساني لېوالتيا همدا وي چې تل تر پوهېدلو وروسته نورو ته د پوهېدلو او رسېدلو زمينه برابره کړي. د پلټنې او رسونې ارزښت د انساني ژوند له پيله تر اوسه پورې دوام لري او دغه ارزښت د انسان د پايښتي توکو لکه: خوړو، څښاک، اوسېدو ځای او نورو اړتياوو په څېر بنسټيزه اړتيا ده.

نو ښکاره ده چې انسان د خپلې پوهې د ترلاسه کولو لپاره لـه څېړنیـز میتـود چې د ادب غوښنه برخه ده کار اخلي او د ټاکلې موضوع ژورو ته ځان رسـوي او تـر بریالۍ موندنې وروسته یې د رسنیز رسالت په موخه د ژورنـالیزم پـر مـټ د پوهـاوي په غرض تر نورو رسوي، نو په څرګنده توګه ویلی شو چې ادب او ژورنالیزم د یو هدف لپاره له دوو بېلا بېلو لارو څخه کار اخلي.

په مقاله کې مې هڅه کړې چـې لـومړی ادب او بیـا ژورنـالیزم پـه سـمه توګـه وپېژنو او د دواړو تر منځ په ځینو تړاوي ارزښتونو هر اړخیزه رڼا واچـوو او همدارنګـه پـه ژبـه، متن،لیکـل اولوسـتل، اخلاق،ګرامـر څېړنـه، ویـنـاوالي او نـورو هـم اړینـې څرګندونې شوي، ترڅو هر څوک وکولی شي په اسانۍ سره د ادب او ژورنـالیزم پـه اړیکو ځان پوه کړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

ما په پیل کې د موضوع د بشپړاوي لپاره د اړوندو پوهانو نظرونـه او وړاندیزونـه په سم او دقیق ډول ولوستل او د همدې نظریاتو پربنسـټ مـې خپلـه موضـوع لکـه څنګه چې په کار وه روښانه او پراخه کړه، ترڅو خپلې موخې ته ځان ورسـوم. د دې مقالې په لیکلو کې له دودیز علمي، څېړنیزو، تحلیلي، کتابتوني، مرکې او دپوښتونو له میتودونو څخه کار اخیستل شوی، چې اړوند موضوعات په تشریحي ډول وړانـدې شوي دي.

د دې لپاره چې ادب او ژورنالیزم سره دوه بېل مسلکونه دي، نو د هر یو پـه اړه وضاحت ته پوره اړتیا شته، نو په کار ده چې هر یو یې په خپل ځای کې پـه سـم او بشپړ ډول وڅېړل شي، تر څـو د دواړو تـرمنځ اړیکـې پـه ښـه او څرګنـد ډول روښـانه شي.

## د څېړنې موخې:

زماموخه دا ده چې د ادب او ژورنالیزم په شته تعریفونو هر اړخیزه رڼا واچوم تـر څو په اړونده برخه کې هرڅه روښانه شي او د تېروتنو مخنیوی پرې وشي.

د ادب او ژورنالیزم تر منځ ګډې اړیکې وڅېړم او د تړاوونو مثبتې پـایلې یـې څرګندې کړم، ترڅو ورڅخه د ادب او ژورنـالیزم مینـه وال او مسـلکیان وړ ګټـه پورتـه کړي.

**د څېړنې پوښتنې:**

ایا ادب او ژورنالیزم یو مسلک دی ؟

ایا د ادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې شته ؟

**د څېړنې روش یا میتود:**

په دې څېړنه کې له تشریحي، تحلیلي او کره کتنیز میتود څخه استفاده شوې ده.

**تېرو ماخذونو ته کتنه:**

د ادب او ژورنالیزم په اړه که تېرو او اوسنیو(۱۱) مأخذونو ته په دقیق ډول ځیر شو نو وبه وینو چې ددواړ په برخه کې په جلا جلا ډول خورا ډېر او د پام وړ کار شوی، خو هغه څه چې ډېر اړین برېښي ددواړو تر منځ اړیکې دي چې هېڅا ورته پام نه دی کړی او دغې تشې ته یې ځواب نه دی پیدا کړی.

حال داچې د ادب او ژورنالیزم د پرمختګ یو ستر لامل د دواړو ترمنځ هغه جوختې اړیکې دي چې د دواړو مسلکونو د پیاوړتیا سبب ګرځي.

ادب د چارو د سمونې او ژورنالیزم یې د رسونې دنده پر غاړه لري، چې پرته یو له بله نابشپړ او له کاره لوېدلي اونیمګړي برېښي.

## کلیدي کلمې:

ددې مقالې کلیدي کلمې د ادب او ژورنالیزم تعریفونه، د ادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې، ژبه،متن، لیکل اولوستل،اخلاق،ګرامر څېړنه، ویناوالي او نور چې د مقالې په متن کې په بشپړ ډول روښانه شوي دي، دي.

مخکې له دې چې دادب او ژورنالیزم په اړیکو څه ووایو ښه به دا وي، چې لومړی ادب او بیا ژورنالیزم وپېژنو:

**۱- ادب:**

دا چې د نورو علومو په څېر دادب لپاره هم کوم داسې ځانګړی تعریف نشته، چې هر چېرې او دهرچا لپاره یوشان د منلو وړ وي، خو بېلابېلو پوهانو او څېړونکو دادب په کلمه کې دشته معناوو له مخې بېلابېل تعریفونه کړي دي. په فرهنګ عمید کې دادب کلمه په لغوي ډول د (پوهې، فرهنګ، معرفت، ښه خوی او نیکې رویې په معناو راغلې او په اصطلاح کې: هغه علم ته ویل شوې چې دهغه په واسطه

یوځوک کولای شي، ښه شعر ووایي او سم یې ولیکي او یا هم ښکلې او بدرنګې خبرې وپېژني.(۹۲:۹ )

سرمحقق دوست شینواري په خپل اثر ((دادب د تیوری اساسونه)) کې د ادب دکلمې په اړه لیکلي چې: (( ادب عربي کلمه ده، چې هم د روزنې، ښه معاشرت، ښو کړو وړو، حرمت او نمانځنې معنا لري او هم په عنعنوي توګه هغې ژبنۍ پوهنې او ژبنې هنر ته ویل کېږي، چې پخوانیو پوهانو په کې ژبنې علوم یعنې ژبپوهنه، صرف، نحوه، معاني، بیان، بدیع، عروض، قافیه حتا دلیک او لوست قوانین، انشاء او تاریخ شامل کړي وو، چې اوس مجموعاً دادبیاتو په نامه یادېږي ( ۸: ۱ - ۲)

یا د ادب لغوي معنا عربي قاموسونو ((دکړو وړو ښه والي او ځیرکي )) را اخیستې.

دادب په صفت کې انسان هغه وخت ستایل کېږي، چې مهذب شي او ادیب ورته ویل کېږي یعنې په معنوي لحاظ یې کړه وړه دمنلو وړ شي.

خو یوشمېر نور څېړونکي بیا دادب لغوي او اصطلاحي توضیح او پېژندنه داسې کوي:

ادب یوه عربي کلمه ده چې لغوي معنایې: روزنه، ښه معاشرت، ښه کړه وړه، اخلاق او نمانځنه ښودل شوې. همدارنګه ځینو د پوهې، هنر او ځیرکي په معنا راوړې ده.

پخوا به د ادب کلمه اصطلاحاً دلغاتو، صرف، نحوه، معاني، بیان، بدیع، عروض، قافیه او د خط اصول، دقرائت اصول، انشاء او تاریخ په علومو اطلاق کېده.

دادب په یوه تعریف کې داسې هم ویل شوي: ((هرهغه ممتازه ویناچې شفاهي وي او که تحریري، نثر وي او که نظم؛ خو چې هنري ارزښت ولري ادب بلل کېږي.)) ( ۱:۱٤ -۲)

**۲- ژورنالیزم پېژندنه:**

دادب او نورو علومو په څېر ژورنالیزم ته هم یو داسې تعریف نه دی غوره شوی، چې ټولو ته یو ډول دمنلو وړ وي؛ خو دلغوي او اصطلاحي ارزښت له مخې پر بېلابېلو ډولونو تعریف شوی.

**د ژورنالیزم لغوي معنا:**

د دغه ویي (لغت) په اړه یو شمېر بېلابېل نظرونه شته، لکه ځینې وایي: دغه لغت اصلاً له لاتیني ژبې څخه اخیستل شوی، خو یو شمېر نور بیا په دې اند دي، چې دغه لغت فرانسوي دی، ځکه چې دفرانسوي ژبې په الفبایي سیستم کې د ((ژ)) توری شته، نو ځکه ژورنال یا ژورنالیزم هم دفرانسوي ژبې کلمه ده. څرنګه چې داکلمه دانګلیسي ژبې د (جرنلیزم یا جرنلېست) هم معانیز لغت دی. په انګلیسي-ژبه کې په خپله غږیزه برخه (الفباء) کې د (ژ) توری نه لري، نو ځکه خو په (J) یعنې (Journalism) لیکل کېږي او په جرنلیزم یا جرنلېست تلفظ کېږي.

نو دژورنال (Journal) کلمې معنا ((دورځنې یادښت یا ورځنې حساب او روزنامچې)) په معناوو راغلې او ییزم (Ism) یو روستاړی دی، چې دلارې، طریقې، روېش، مکتب او پوهې معنا لري.

په پایله کې و یلای شو، چې ژورنالیزم (Journalism) دانګریزي ژبې یو لغت دی، چې له دوو کلمو څخه جوړ شوی او بېلابېل تعریفونه لري.

**د ژورنالیزم تعریف:**

ټول هغه خپرېدونکي فعالیتونه چې د پوهېدو او خبرېدو وړ وي، ژورنالیزم بلل کېږي.

یا: دعامه ارتباطي وسایلو لکه : راډیو، تلویزیون، اخبار، جریدو، انټرنېټ، مجلو، رپوټونو، لیکنو.... او داسې نورو کار او فعالیت ته ژورنالیزم وایي او کارکوونکي یې ژورنالېستان بلل کېږي.(۷:۱۳)

یاداچې: ټول هغه ښوونیز، روزنیز، خبري، مذهبي، کلتوري، سیاسي، ادبي او ټولنیز ارزښتونه چې د یو پیغام، پوهونې او رسونې په موخه په ټولیزه توګه خپرول کېږي، ژورنالیزم یې بولي. دادب او ژورنالیزم له پېژندنې او تعریف وروسته اړینه برېښي چې د دواړو ترمنځ داړیکو په برخه کې یو څه ووایو:

لومړی: د ادب دلغوي معنا په برخه کې راغلي چې: ادب پوهې ته وایي یعنې پوهه دانساني ژوندانه دپرمختیا، هوساینې او پرمختګ لپاره ترهرڅه ډېره اړینه او لازمي ده، ځکه همدا پوهه ده چې انساني ژوند یې د نورو حیواناتو له ژوندانه څخه

جلا کړی دی؛ نو پوهه یـواځنی ارزښـت دی چـې انسـاني ژوند تـه یـې ښـکلا وربخښلې ده.

**اخلاق:**

اخلاق دخُلق جمـع ده او خُلـق دانسـان بـاطني شـکل دی. دانسـان بـاطني، صفاتو، عاداتو او غریزو ته اخلاق وایي. اخلاق ښو کړو وړو او نېکو رویيو ته وایي.

اخلاق دلغت او اصطلاح له مخې په بېلابېلو ښو تعریف شوی دی، خو په عامـه او ټولنیزه اصطلاح اخـلاق یـو لـړ هغـه نفسـاني، دروني او بهـرني صـفات، عـادات او خویونـه دي، چـې لـه سـپېڅلو او ښـو کړنـو سره نېـغ پـه نېغـه اړیکـه لـري. هغـه ژورنالېستان چې د اخلاقوپه ګاڼـه سـنبال وي، نـه یـواځې داچې دده د شخصـیت درناوی کېږي، بلکې دمسلک صفت او درنښت یې هم په ټولنه کې ځانګړی ځـای او نوم لري.(۱۸:٦ - ۸)

ژورنالیزم هم دادب په څېر داخلاقي معیار په لوړتیا کې رغنده رول لرلای شي.

دا د ادب او ژورنـالیزم تـرمنځ ګـډې اړیکـې یـا ارتبـاطي برخـې وې. همدارنګـه دادب او ژورنالیزم ترمنځ ځینې نور جوخت، غوښن، ستر او پیاوړي تړاوونه هـم شـته دبېلګې په ډول په لاندې توګه وړاندې کېږي:

**ژبه:**

ژبه دیولړ اختیاري وییزو او اوریزو سېمبولونو ټولګه ده، چـې هـر سـېمبول یـې زموږ دیوه ذهني انځور ښکارندویي کوي. ژبه دانسـانانو تـرمنځ دپوهولـو او راپوهولـو وسیله ده. (٥ : ٦)

ځینې یې داسې تعریفوي: ژبه دغږیزو یا صوتي سېمبولونو داسې یو اکتسـابي او قراردادي سېستم دی، چې دیوې ټولنې وګړي یې په خپل مـنځ کـې دپوهولـو او راپوهولو لپاره کاروي.

داچې ژبه د ادب خام مواد دي؛ خو په ژورنالیزم او رسنیز چوکاټ کـې پرتـه لـه ژبې ټول فعالیتونه نیمګړي او یا هم دنشت برابر وي.(۱۵: ۱ - ۲)

دژبو او اصطلاحاتو کارپوه ډاکټرعطش درانی وایـي چـې: اندونـه، احساسـات، پوهه او شعور دژبې په وسیله څرګندېږي. دا د رسونې څرګنده وسیله ده. دژورنـالیزم

او رسنیو سروکار له همدې وسیلې سره دی.دښې رسونې لپاره اړینه ده، چې ژبه په ښه ډول وکارول شي.(۱۲:۳٤٤)

دسم مفهوم لپاره سمه کلمه او دسمو جملو استعمال د ژورنالېستي لیکنو دبنسټ ستنه ده.

ژورنالېستي ژبه بېل او ځانګړی انداز لري.ژورنالېستي ژبه باید روښانه، ساده، عام فهمه او له هرډول پېچلتیا اوګونګوالي څخه پاکه وي.(۱۰: ۲٦)

دکره لیکنې، ادبي مطالعې، پرادبیاتو باندې دپوهېدو او دیوې ژبې دعلمي څېړنې، جوړښت او سمون لپاره ترهرڅه لومړی اړینه ده، چې د هغې ژبې په ګرامر وپوهېږو.

## ګرامر:

دګرامر اصطلاح دلاتیني او یوناني ګراماتیکي له ریښې څخه اخیستل شوې ده، چې دژبپوهنې معنا لري، ګرامر دیوې ژبې علمي او منظمه مطالعه ده.

یا په بله وینا دیوې ژبې دعلمي جوړښت او نظام شرحې ته ګرامر وایي.

یا په بله وینا: ګرامر دهغو قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی، چې دیوې ژبې سم ویلو او سم لیکلو لپاره په کارېږي، که مونږ غواړو دیوې ژبې په اړه په سم ډول وپوهېږو، نو په کار ده، چې دهغې ژبې په ګرامري قواعدو هم پوه شو.(۱۵: ۳ - ٤)

دا چې ګرامر یوه با ارزښته ژبنۍ موضوع ده، نو د ژورنالیزم یا رسنیو په هره برخه کې ترې هم دپام وړ ګټه اخیستل کېږي، یعنې په رسنیو کې هره خبره، خبر او موضوع چې خپرېږي په ګرامري تله باید تلل شوې وي، مطلب داچې رسنۍ باید خلکو ته سمه ژبه وښیي،ځکه چې له رسنیو څخه خلک دژبې سمه بڼه، لغات، جملې او خبرې اترې زده کوي.

## لیکل او لوستل:

دادب په لغوي برخه کې یوه معنا چې دپام وړ ده، هغه املاء انشاء او دخط لیکلو خبره ده او دادب دغه برخه تر ټولو مهمه ځکه ده، چې له لیکلو پرته لیکنۍ پنځونه منځته نه شي راتلای، نو همدا لامل دی، چې دلیک او انشاء ارزښت په ادبي چوکاټ کې ډېر لوړ دی.

ددې لپاره چې لیکل سم وي نو اړینه برېښي چې دلیکوالۍ په اصولو، نورمونو او قواعدو ځان پوه کړو.لیکوالي په عام مفهوم هغه لیکنی هنر دی، چې داملا، انشاء لیک نښې، گرامر او دلیکنې دمنل شوو اصولو او قواعدو مراعات په کې شوی وي.

لیکنه باید ساده، عامه فهمه وي او له نامانوسو، سختو او مترادفو کلمو څخه په کې ډډه وشي. داسې کلمات او لغتونه باید وکارول شي چې هر چا ته د پوهیدو وړ و ي.

دلیکلو پروخت باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسو:

۱. هرڅه چې لیکو باید دسم تلفظ له مخې یې ولیکو.

۲. دکلمو په لیکنه کې دگرامر مراعات ډېر اړین دی.

۳. دلیکلو پروخت دامکان ترحده داشتباه مخه ونیسو. (۲: ٤٤)

داچې رسنیزې رسونې په لیکلي بڼه وړاندې کېږي، نو دلیک نښو کارول په کې ډېر ضروري وي او هغه خپرونې چې پرته له لیکنې خپرېږي هم دویناوالۍ انداز یې باید سم، کره او له اصولو سره برابر وي. دنرمۍ پرمهال اواز نرم او دمتانت پر وخت کې باید اواز ټینگ ولوستل شي.(١٦: ١١)

نو په لنډ ډول به ووایو، چې ادب او ژورنالیزم د لیکنې او لوستنې په برخه کې هم سره گډ او غبرگ تړاو لري او له دغې اړیکې پرته یو بل نیمگړي دي.

## ویناوالي:

دادب او ژورنالیزم ترمنځ یو بل پیاوړی تړاو او نه شلېدونکې اړیکه ویناوالي ده، دغه ویناوالي ډېرکله دلیکل شوي متن او یا هم دیوخپرنیز سکرېپټ له مخې وي، هغه څه چې تاسې یې لولئ باید پرې سم وپوهېږئ چې دڅه په اړه دي؟

یعنې: دلیکنې متن په منځپانگه لومړی په خپله وپوهېږئ او بیا یې نورو ته دپوهېدو په موخه خپاره کړئ. د وینا پرمهال باید پوره ځیر واوسو چې اړونده لیکنه په سم ډول دیو خپرنیز چوکاټ په بڼه اورېدونکو ته وړاندې کړو.له ویناڅخه مخکې باید دلیکلي متن هره برخه له نظره تېره کړئ ترڅو په لیکنه کې غلطي او گونگ ځایونه پاتې نه شي چې بیا د وینا پر وخت له لفظي ستونزو سره مخامخ نه

شـئ.دادب او ژورنـالیزم تـرمنځ بـل سـتر ارتبـاطي  ارزښـت پـه خپلـه دادب او ژورنالیزم موخې دي، د بېلګې په ډول:

### ۱- دادبیاتو موخه او هدف:

لـه ډېـرې پخـوا زمـانې څخـه را پـه دې خـوا  دادب پـه اړه  دوې نظریـې ډېـر عمومیت لري:

(الف): ادب د ادب لپاره          (ب): ادب دژوند لپاره

د لومړۍ نظریې پلویان ادب له خپل ټولنیز هدف او ارزښت څخه بېلـوي او پـه دې اند دي چې ادب یوائې او یوائې انسـان تـه روحـي تسـکین، خوښـي، لـذت او ذوقـي ډاډ ورکـوي او نـور هـېڅ هـم نـه شي کـولای. دغـه ډلـه دادب پـه منځپانګـه، مضمون او په ادب کې دنغښـتي ټـولنیز  اخلاقـي، روزنیـز، هڅـوونکي او ویښـوونکي ځواک له اغېزو او اهمیت څخه سترګې پټوي.

د دوهمـې نظریـې (ادب دژونـد لپـاره) پلویـان بیـا پـه دې انـد دي، چـې ادب دښکلاییز او روحي تسکین او لـذت ترڅنـګ، دټـولنیزې او اخلاقـي روزنـې، اصـلاح، لارښوونې، دذهنونو دروښانولو او پوهولو دنده پر غاړه لري. که دهـر ویښ قـام، ملـت او ژبې ادبي بهیر ته ځیرشو؛ نو راته به جوته  شي چې دردمنـو او بااحساسـه ادیبـانو په یوه او بلـه بڼـه دخپلـې ګروهـې، ژبـې او کلتـور، دپیاوړتیـا پـه موخـه او همدارنګـه دخپل ملت او قام دفکري ویښتیا، دذهني او علمي لوړتیا او اصلاح په غرض له ادب څخه دیوې اغېزمنې وسیلې په توګه کار اخیستی او په دې ډول یې پـه خپلـو خلکـو کې دکار، اصلاح، عمل، سمون او مثبت بدلون راوستی دی.(۱٤: ۳ - ٤)

### د ژورنالیزم موخه او هدف:

دا چې دژورنالیزم اغېزې دژوندانه په ټولو برخو کې په مستقیم یا غـیر مسـتقیم ډول لیدل کېږي، نو موخه یېزې تګلارې یې هم ډېرې ژورې او باثباته دي.ژورنـالیزم دیوهېواد، قام او ملت په سیاسي او ټولنیز نظام کې دیومهم عنصر په بڼه ځای لري، تل هڅه کوي، چې دخپل رسنیز رسالت او مسـئولیت لـه مخـې خلکـو تـه لارښـوونه وکړي او په دې یې وپوهوي، چې دهېواد ملي ګټې په څه کې نغښتي دي.

په دې کې شک نشته چې ژورنالیزم دیو هېواد لپاره لویه قوه ده، که دژورنالیزم قلم بې باکي او بې پروایي وکړي، نو ملي ګټې زیانمنولای شي، هغه دوخـت دمـانۍ

ستنې لړزولای او راپرځولای شي،خو دژورنالیزم سمه او پرځای کارونه بیا خلکو ته اصلاح، روزنه، دښه ژوند، سیاست، مذهب او دفکري ویښتیا لپاره علمي لارې چارې وربښودلای شي، چې داد ادب معنوي بنسټونه هم ګڼل کیږي.ژورنالیزم خلک له حالاتو خبروي او هغوی د ټولنیز ژوندپه مهارتونو پوهوي؛تل هڅه کوي په هره ښه چې وي خلک دپوهې، سولې، ښې روزنې او اصلاح خواته راوبولي او هغوی ته ټولنیز معیارونه ورپه ګوته کړي.(۱۲: ۸۸)

دادب او ژورنالیزم دموخو له مطالعې څخه په ډاګه شوه، چې دواړه ارزښتونه یوې کره، پیاوړې او غښتلې موخې ته د رسېدو لپاره دوه بېلابېل مسلکونه دي، چې معنوي هدف یې یو دی، نو ددې ټولو په پایله کې ویلای شو، چې دادب او ژورنالیزم اړیکې د موخې او جوړښت له پلوه سر یو شان دي.

**پایله:**

نو ددې مقالې په پایلې کې ویلای شو، چې دادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې یو له بله سره داسې جوختې، نه شلېدونکې اوځنځیري ریښې لري چې بېلېدا یې ناشونې ده.

دا چې دادب او ژورنالیزم ترمنځ تړاوونه ډېر جوت دي، نو پوهان هم دا مني، چې دادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې ډېرې زیاتې نږدې دي؛ خو دا بیا ددې معنا نه لري، چې دادب او ژورنالیزم مطالعه دې سره ګډه شي، بلکې ادب او ژورنالیزم باید په خپل خپل ځای کې ولوستل شي.

نو ویلای شو چې لیکنې چوکاټ یا تخلیقي برخه ادب دی او دوینااوالۍ او خپرنیزه برخه په ژورنالیزم کې شمېرلای شو. ددې ټولو په پایله کې به وواېو چې ادب او ژورنالیزم یودبل لپاره لازم او ملزوم دي، دنوک او وری په څېر نه بېلېدونکې اړیکې لري، نو همدا لامل دی، چې په رسنیزو خپرونو کې ادبي پانګه پیاوړې او د ادبي خپرونو پله درنه وي.

**مناقشه:**

د ادب او ژورنالیزم په اړه تر اوسه پورې داسې کوټلې کار نه دی شوی چې په څرګند ډول د دواړو ترمنځ اړیکې وښیي او کوم څه چې په دغه برخه کې شوي هغه هم یواځې په تعریفونو بسنه شوې او د دواړ ترمنځ په شته تړاوونو نه دي غږېدلي.

ما په دې مقاله کې د ادب او ژورنالیزم پر پېژندنې سربېره د دواړو ترمنځ په شته اړیکو هم رڼا اچولې او له بېلګو سره مې را اخیستي تر څو د ادب او ژورنالیزم په تړاوي برخه هر څوک وپوهیږي.

**وړاندیزونه:**

دا چې ادب او ژورنالیزم سترې څېړنې او کره مطالعې ته اړتیا لري نو اړوند پوهان او ددې مسلک مینه وال دې پرې لا زیات کار وکړي ترڅو یې هره برخه ښه روښانه شي.

د ادب او ژورنالیزم ترمنځ په اړیکو دې د یو اثر د چاپېدو تر بریده کار وشي.

په ادب او ژورنالیزم باندې د پوهېدو لپاره دې د کنفرانسونو او سیمینارونو په بڼه کار وشي.

**مأخذونه:**


۱- تری، حبیب الله. (۱۳۸۹هـ ش). نوې ژبپوهنه او ژبنې مسایل. کابل: دولتي مطبعه.

۲- زیار، مجاوراحمد. (۱۳۸۲هـ ش). پښتو پښویه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۳- شینواری، دوست. (۱۳۸٤هـ ش). دادب دتیوری اساسونه. کابل:دولتي مطبعه.

۴- عمید، حسن. (۱۳٦۳هـ ش). فرهنگ فارسي عمید. تهران:انتشارات امیر کبیر.

۵- وردګ، شفیق. (۱۳۸۸هـ ش). ژورنالېستي ژبه. کابل: میوندخپرندویه ټولنه.

٦- وحیداحمدزی، امیرجان. (۱۳۸۵هـ ش). دژورنالیزم مطالعه. پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.

۷- وفا، محمد داود. (۱۳۸۸هـ ش). دنوي ژورنالیزم بنسټونه. کابل: دمیدیوتیک افغانستان ټولنیز مرکزونه.

۸- هاشمي، سیدمحی الدین. (۱۳۸۱هـ ش). ادبپوهنه. پېښور: احمدپرینټینګ پریس.

۹- هاشمي، سیدمحی الدین. (۱۳۸۳هـ ش). دپښتو ژبې لنډ ګرامر. پېښور: الازهرخپرندویه موسسه.

۱۰- هاشمي، سیدمحی الدین. (۱۳۸۳هـ ش). دلیکوالۍ فن. پېښور: میرویس کتاب پلورنځی.

۱۱- یعقوبي، یحیی. (۱۳۸۹هـ ش). د خبریالۍ اخلاق. پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.

څېړندویه خاطره شینوارې

# د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د راټولو اړتیا

**لنډیز:**

څرنگه چې فولکلور تـه د خلکـو د ایجـاداو شـتمنۍ نـوم ورکـړل شـوی، نـو کـه چیرې د خلکو دغه شتمني د تاریخ په هره دوره کـې راټولـه او ثبـت نـه شي، دهـرې تاریخي مرحلې په تیریدو سره به دغه ملي شتمني له منځه لاړه شي.له همدې امله دغه اړتیا لیدل کېږي چې موږ باید دغه شتمني راټوله او له ورکیدومخه یې ونیسو.

یـاده دې وي زمـوږ پـه هېـواد کـې پـه رسـمي توگـه د فولکلـور ټولـونې کـارد مطبوعاتو په رامنځ ته کیدو پیل شوی، پـه دې برخـه کـې غـلام محـی الـدین افغـان لومړنی کس و، چې په سراج الاخبـار پـه پـاڼو کـې یـې د پښـتو متلونـه خپـاره کـړل. وروسته له هغې په په نورو رسمي جرایدو، مجلو او کتابونو کې هم ډېر شفاهي توکي راټول او خوندي شول.

د فولکلور ټولونې یوه اړتیا ده، چې فولکلـور د یـوې ټـولنې ټـولنیزه، کلتـوري او حتی اقتصـادي څېـره پـه څرگنـده توگـه ښـودلی شي.د فولکلـور پـه واسـطه د یـوې ټـولنې د وگـړو د ژوندانـه د کـړو وړو او ددوی د مختلفـو رسـم او رواجونـو، خویونـو او عـاداتو پېژندنـه پـه سـمه توگـه روښـانه کېـدای شي.لـه همـدې املـه دغـه اړتیـا احساسیږي چې فولکلوري توکې راټول او ثبت شي.

د فولکلوري توکو د راټولولو او ثبتولو بله اړتیا داده، چـې د لـیکلي ادب لپـاره د یوه مأخذ یا سر چینې په توگه ترې اسـتفاده کیـدای شي.ددې تـر څنـگ د فولکلـور ټولونې بله ښیگڼه داده ، چـې راتلـونکی نسـل کـولای شي د تیـرو پرگنولـه خویونـو،

عـاداتو، کـړووړو او احساسـاتو څخـه خـبر شي لـه همـدې املـه مـوږ دغـه اړتیـا وینـو چـې بایـد خپـل فولکلـوري تـوکي د خپلـو کلیـو او بانـډو څخـه راټـول او ثبت یې کړو تر څو یې د ورکیدو او نابودۍ مخنیوی وکړو:

## سریزه:

فولکلـورد یـوې ټـولنې د وګـړو د ژونـد هېنـداره ده ، پـه فولکلـور کـې ددوی کـړه وړه ، خویونـه ، عـادات رسـم او رواجونـه پـه ښـه توګـه روښـانه کیـدای شي ، څرنګـه چـې فولکلـوري تـوکي زیـاتره پـه شـفاهي توګـه رامـنځ تـه کېـږي ، نـو کـه چیـرې دغـه تـوکي راټـول او ثبـت نـه شي ، دوخـت پـه تیریـدو بـه یـې زیـات شـمېر فولکلـوري مـواد لـه منځـه لاړ شي او راتلـونکی نسـل بـه لـه دغـې اولسيـ پـانګې څخـه بـې برخـې او بـې خـبره پـاتې شي . لـه همـدې املـه مـوږ اړ یـو چـې فولکلـور ټولـونې تـه خاصـه پاملرنـه وکـړو او مختلـف فولکلـوري تـوکې دخپـل هېـواد لـه هرګـوټ څخـه راټـول او ثبـت کـړو .نـو پـر همـدې اسـاس هـدف دا دی چـې پـه دې لیکنـه کـې دا روښـانه کـړم؛ فولکلـوري تـوکي د لـومړي ځـل لپـاره چا راټول کړي او ددې فولکلوري توکو راټولولو ته څه اړتیا او ضرورت دی ؟

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنـې ارزښـت پـه دې کـې دی چـې تـر دې دمـه کـوم فولکلـور او شـفاهي ادبیـات چـاپ شـوي یـا را ټـول شـوي څنګـه دي او څنګـه بایـد وي. یعنې اړتیـا یـې شـته او کـه نـه او کـه شـته نـو څنګـه بایـد را ټـول شي، کـوم کسـان کـولای شي فولکلـور راټـول کـړي او څنګـه یـې بایـد را ټـول کـړي، نـو دا مقالـه دا او دې ته ورته ارزښتونه جوتوي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنـې هـدف دا دی چـې پـه معـاصر ادب یـا پـه اوسـنې ادب کـې د فولکلـور ارزښـت جـوت کـړي او دا پـه ډاګـه کـړي چـې فولکلـور د وروسـته پـاتو ټـولنې مـال نـه دی، بلکـې پـه معـاصر عصرـ کـې هـم یـو ځـانګړی ځـای او موقـف لـري او د نـړۍ پـرمختللي هېوادونـه نـن سـبا د خپـل ولـس د ښـېرازۍ او د اصـالت د خوندیتابـه لپـاره خپـل فولکلـور تـه توجـه کـړې، نـو دا لیکنـه دا او دې ته ورته مثال څېړي.

### د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې پوښتل شوي چې:

✓ فولکلور یا شفاهي ادبیات څه شی دی؟

✓ څنگه باید راټول شي؟

✓ څوک باید شفاهي ادبیات را ټول کړي؟

✓ ایا په اوسني یا معاصر عصر کې د فولکلور ټولو اړتیا شته؟

✓ ایا فولکلور د وروسته پاتې ټولنو کار دی؟

او دې ته ورته نورې کوچنۍ پوښتنې هم شته، خو اصلي او کلیدي پوښتنې یې همدا دي.

### د څېړنې میتود:

دا لیکنه د تحقیقي او تحلیلي میتود پر اساس ترسره شوې ده.

### اصلي متن:

د پښتني فولکلور د بېلابېلوبرخولکه پښتو متلونو ، اصطلاحاتو ، محاورو ، روایاتو او دودونو راټولونه او خپرونه تر ټولو د مخه په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې اروپایانو شروع کړې ده ، خو دا بایدهېره نه کړو چې د اروپایانو په دغه ډول کارونو کې تر ټولو د مخه د ختیځ پوه جیمز ډارمستېټر نو م د یادونې وړ دی ، نو موړي د پښتو لنډۍ ، متلونه او نور فولکلوري مواد په خپله مجموعه (د پښتونخوا د شعر هار او بهار ) کې خوندي کړل .»( ۱: ۱۸- ۱۹مخونه )

خو ( د پښتني فولکلور ټولونې د چاپي مجموع څېړندود ) لیکوال په خپل اثر کې لیکي ، چې « په پښتو ژبه کې د فولکلور ټولونې کار د خوشحال خان او د ده له کورنۍ سره پیل شوی دی .د پښتو ټولنې ۱۳۱٦هـ ش کال په جوړیدو سره فولکلور ټولونې ته په رسمي توگه پاملرنه کېږي . ( ۵: ۴۱۲) .

کله چې په افغانستان کې مطبوعات رامنځ ته کېږي ، نو هماغه مهال د فولکلور ټولونې کار ته زیاته توجه کېږي او تر ټولو دمخه غلام محی الدین افغان د لومړي ځل لپاره د سراج الاخبار په پاڼو کې ځینې پښتو متلونه خپاره کړل . ( ۱: ۲۲)

تر هغه وروروسته زیات فولکلوري مواد په زیري جریدې ، هېواد ، ننگرهار، فولکلورمجلې اودوړمې مجلې په مختلفو گڼو کې چاپ شول چې له نیکه مرغه دا لړۍ تر دې دمه دوام لري .

شفاهي ادبیات د هر ولس او ټولنې او ملت په ادبي تاریخ کې ارزښتمنه ونډه لري . دهغو له یادونې او پاملرنې پرته د ولس ادبي تاریخ نیمگړی گڼل کېږي .

شفاهي ادبیات چې شفاهي بڼه لري په هغو ټولنو او اولسونو کې زیات پیاوړي وي چې د سواد او لیک لوست خپریدنه په کې ډېره نه وي عامه شوي او وگړي یې په عام ډول له دغه نعمت څخه بې برخې وي .

زموږ زیاتره وگړي د پېړو یو په اوږده تاریخي بهیر کې خپلې هیلې ، ارمانونه ، غوښتنې ، خوښۍ ، غمونه ، انځورونه ، مینې ، کرکې کړنې اولنډه دا چې د ټولنیز ژوند ټول کره وړه په دغه ډول ادبیاتو کې منعکس کړي او په شفاهي توگه یې له یو نسل څخه بل نسل ته سینه په سینه لیږدولي دي . دلیږدونې په دغه بهیر کې زموږ ددغو ادبیاتو زیاته برخه هېره شوې ، ورکه شوې او یا په بله وینا د راویانو په له منځه تللو سره د هغه وخت رااېجاد شوي ادبیات هم له منځه تللي دي .

له همدې امله موږ نن دغه اړتیا او ضرورت احساسو چې ددغه شفاهي ادبیاتو لرغونې او اوسینۍ بېلگې راټولې او ثبت کړو ، ځکه چې له دغو فولکلوریکو توکو ډېره برخه نن په لاس کې نه لرو ، خو بیا هم هغه لږه برخه یې چې په اولسونو او خلکو کې خوره وره پرته ده . دهغې بېلا بېلو انواعو او ډولونو ته په کتنې موږ په ډاډ سره دا ویلای شوکه څه هم زموږاولسي- وگړو په عامه توگه لیک لوست نه شو کولای او د سواد له نعمت نه بې برخې وو ، خو پیاوړی ذوق او احساس یې درلود ، چې هغه یې ددغو ادبیاتو په بېلا بېلو قالبونو کې ځای کړي او په ډېره په زړه پورې بڼه یې بیان کړي دي . ( ۴: دتقریظ لومړی مخ) .

دیوې ټولنې د فولکلور راسپړنه د هغو خلکو د ژوند دډول څرگندونه کوي او له بلې خوا دا ، چې ټولنه هره ورځ د تغییر او تحول په حال کې ده ، نو له همدې امله موږ باید یو څه نوي زده کړو او یو څه له خپلو کړو وړو څخه راتلونکي نسلونو ته په میراث پریږدو:

په دې بهیر کې که چیرې زموږ فولکلوري توکي لیک او قلم تـه ونـه سـپارل شي اود لیکلي تاریخ برخه و نـه گرځـول شي لـه منځـه ځـي او لـه خلکـو هیریـږي. دلته ده چې راتلونکو نسلونو ته بـه د تـاریخ همهغـه خـاص پـړاو تیـاره وي او واقعـي معلومات به ورسره په لاس کې نـه وي ، نـو ځکـه د ټـولنې پیژنـدنې د غـوره موادوپـه حیث ډېره اړینه ده ، چې د خلکو فولکلور او کلتوري ارزښتونه د هېواد له هر گـوټ ، درو ، کلیو ، بانډو او ټولنیزو مرکزونو څخه راټول او په امانـت داری سره ثبـت شي . ( ۲: مخکینی خبرې لومړی مخ) .

څرنگه چې پورته هم نغوته وشوه د فولکلوري مـوادو راټولونـه اوثبتونـه پـه خپـل ذات کې پوره ارزښت لـري ، ځکـه چـې فولکلـور د یـوې ټـولنې ټـولنیزه ، کلتـوري او حتی اقتصادي څېره په څرگنده توگه راښودلی شي:

که چېرې فولکلوري مواد په خپله قرینه کې تحلیل نه شي هغه لـه اومـه مـوادو څخه زیات اهمیت نه لري .

اومه مواد هغه وخت ارزښت درلودلی شي چې لـه علمـي میتـود سره سـم د یـو هدف د سرته رسولو له پاره په کار واچول شي .

همدا رنگه که یو هېواد ډېر زیات اومه مواد ولري ، تر هغې پورې چې دغه مواد په تولید کې په کار وانه چول شي ، د تولید وسیلې نه گڼل کېږي . البته دا یو ساده حقیقت اوواقعیت دی .په همدې ترتیب د یوې ټولنې فولکلـوري اومـه مـواد تـر څـو پورې چې له علمي اسلوب سره سم تنظیم ، تصـنیف ، تحلیـل او تفسـیر نـه شي ، د تحویلخانو له داغمه مالونو سره شباهت لري، چـې ښـایي پـه راتلـونکي کـې یـو څـه استفاده ترې وشي ، فولکلوري مواد باید تر هر څه د مخه د علمي اسلوب په رڼا کې راغونډ شي او د یوې تیوري تابع وگرځول شي . ( ۳: ۲۰مخ) .

فولکلور نه یواځې د لیک له رامنځ ته کېدو مخکې د لرغونو پیښنو پـه تحلیـل او تاریخي تمدنونو په پیژندنه کې راسره مرسته کوي ، بلکې د لیک له رامـنځ تـه کېـدو وروسته دډېرو تاریخي پیښنو او د یوې ټولنې د وگـړو د ژوندانـه د کـړو وړو اوددوی د مختلفو رسم او رواجونو، خویونو او عاداتو په پېژندنه کې له موږ سره مرسته کـوي لـه همدې امله موږ دغه ضرورت احساسو چې فولکلوري توکي راټول او ثبـت یـې کـړو:

د تاريخي پيښو دثبتولو کار مورخينو کړی دی ، خو امکان لري چې په ځينو برخو کې تاريخ ليکونکو د ذاتي خوښۍ او ناخوښۍ له امله په خپل ليک کې څه کمی زياتی کړی وي ، خو اولسي ادب له دغه ډول نيمگړتياووڅخه تر کافي حده خالص دی او اولسي خلکو نسبتاً خپلې ټولنې رښتوني ترجماني کړې او د وخت نادرې پيښې يې نورونسلونو ته پرېښي دي .

دهوتکو نارې اويو شمېر لنډۍ يې ښې بيلگې دي .

د اولسي ادب د راټول او ثبتولولو بل ضرورت په دې کې دی چې د ليکلي ادب لپاره د سرچينې يا مأ خذ په توگه ترې استفاده کيدای شي . ( ۱: انترنټ) .

د فولکلور ټولونې بل ضرورت او اړتيا دا ده چې په دې واسطه په ټولنيزو او کلتوري برخو کې فولکلور پوهانو او څېړونکو ته غوره او علمي موادبرابروي .دا ځکه چې د اولسونو او قومونو فرهنگ يا په بله وينا( فولکلور) د انساني ټولنې له غوره ملي شتمنيو څخه شمېرل کېږي  په دې اولسي شتمنيو کې ملي هويت ، ټولنيز جوړښت ، اجتماعي راشه درشه او نور کړه وړه شامل دي:

## پايله

له پورته ضرورتونواو ارزښتونو سره- سره د فولکلور د مختلفو ژانرونو په راټولونې او ثبتونې سره د يوې ټولنې دخلکود ژوند  مختلف اړخونه منعکس کيدای شي  او دا کار د يوې ټولنې په واقعي پېژندنې کې له موږ سره مرسته کولای شي .

په دې برخه کې په پښتني فولکلور کې مختلف ژانرونه موجود دي  چې هر يويې په خپل ځای کې د خاص ارزښت وړ دی، د بيلگې په توگه فولکلوريکو کيسو او داستانونو په راټولونې سره نه يوازې دغه فولکلوريکې کيسې له ورکيدو څخه ژغورل کېږي ، بلکې له دغو کيسو څخه د پښتنو تېر تاريخ او تاريخي پيښې په ښه توگه معلوميدای شي .

له بلې خوا په تعليمي او تحصيلي موسساتو کې د تدريس په برخه کې هم موږ اړ يو،  چې راټول شوي او ثبت شوي فولکلوري مواد د تدريس له پاره ولرو ، ځکه په نومړو موسساتو کې په تدريس سره موږ کولای شو راتلونکی نسل  د مختلفو سيمو له رسم او رواجونو، کيسو،افسانو،  انگېرنو ، متلونو او په ټوله کې د خپل هېواد له فرهنگي مواريثو سره اشنا کړو .

د فولکلوري موادود راټولونې او ثبت بله ګټه داده چې پخواني فولکلوري مواد کره او نوې څېړنې ورباندې کېږي.

همدا شان اولسي- شفاهي توکي راټول او د اوسیني نویو میتودونو او روشونو پر اساس لیکل کېږي.

په ټولیزه توګه ویلای شو که چیرې فولکلوري مواد راټول اوثبت نه شي ، دغه مواد به ډېر ژر له منځه لاړ شي، ځکه نړۍ نن ورځ دنویو کشفیاتو پر لور روانه ده او له نړۍ پرمختګونو څخه زموږ اولس هم بې برخې نه شي پاتې کیدای یعنې که موږوغواړو که ونه غواړو ددغو نویو کشفیاتو اثرات زموږ په اولسي ذهنیتونو باندې خپله اغېزه کوي .

د فولکلور ټولونې او ثبتونې یو ضرورت او ښېګڼه داهم ده ، چې په دې وسیله په عملي ژوند کې هم له دغوفولکلوري توکو څخه استفاده کیدای شي ، چې ښه بیلګه یې په پښتو متلونو،لنډیواو پښتو انګېرنو کې لیدلی شو.دمثال په ډول دانګېرنو په واسطه د یوې ټولنې د خلکو طرز تفکر، روحي خواص او ذهني پوهې معیارونه په څرګند ډول معلومیدای شي اود تیرې زمانې د تاریخ د روښانه کولو په برخه کې له انګېرنو څخه ګټه اخېستل کیدای شي دیوې ټولنې د وګړو د پوهې سطحه هم له انګېرنو څخه معلومیدای شي ، ځکه په هرې اندازې چې په یوې ټولنې کې انګېرنې زیاتې وي پر هماغې اندازې هغه ټولنه وروسته پاتې وي ، بر عکس په کومه ټولنه کې چې انګېرنې او خرافي تمایلات کم وي هغه ټولنه د ترقۍ او پرمختګ په لور روانه وي . په همدې توګه په ورځینۍ مهاوره کې پند او نصیحت لپاره له پښتو متلونو څخه کار اخېستل کیدای شي.

څرنګه چې د لیکلو ادبیاتو اصلي منبع شفاهي ادبیات دي ، که چیرې دغه شفاهي ادبیات د هېواد له هر ګوټ څخه راټول ، تحلیل تفسیر او ثبت نه شي ، زموږ دغه ملي پانګه به د وخت په تیریدود تیارو کندې ته ورولویږي او له منځه به لاړه شي . له همدې امله باید د خپل هېواد اولسي- پانګه په امانت دارۍ سره راټوله او ثبت کړو؛ تر څو د هېواد راتلونکي نسل یو څه د فرهنګي مواریث په توګه له ځانه سره ولري.

## مأخذونه:

۱- پتتنګ ،عبدالکریم . فولکلوري مرغلرې ، سریزه ، زلمی هېوادمل ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳٥٦هـ ش کال .

۲ - حقمل ، بسم الله . د خوست د خلکو فولکلور، د خوست خپلواکه فرهنګي ټولنه ، ۱۳۸۴هـ ش کال .

۳- روهي، کاندید اکاډمیسین محمد صدیق ، فولکلور باید د تیورۍ په رڼا کې وڅېړل شي ، د فولکلور ټولونې سمپوزیم ( د مقالو ټولګه ) ، ټولونه او ترتیب ز- ه ، پښتو ټولنه ،۱۳٦٦هـ ش کال .

۴ - منګل ، څېړنپوه علي محمد ، د پکتیا د اولسي- ادب مرغلرې ، میهن خپرندویه ټولنه ، ۱۳۹۳هـ ش کال .

۵- ناصر، نصرالله. د پښتني فولکلو رد چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان د علومو اکاډمي ، د ازادۍ مطبعه ، ۱۳۸۳هـ ش کال.

انترنېټي منبع:

۱- دوران ، عماد الدین . د فولکلور پېژندنې لاربنود ، ((تنقیدي مطالعه)) ،
http// zhman.net

پوهنيار سيداصغر هاشمي

# د ځيړنې او پنځونې د لوړتيا او ځوړتيا پړاوونه

## لنډيز:

په دې مقاله کې د ځيړنې او پنځونې پېژندنه، د ځيړنې د عروج مرحله کله پيلېږي او د ځيړونکي په کارونو کې ولې ځوړتيا رامنځ ته کيږي؛ پر موضوعاتو بحث شوی دی او د عروج او نزول مرحلې او لاملونه يې ښودل شوې دي، همدارنگه د پنځونې د عروج پر مرحلو باندې هم بحث شوی دی او د بېلګې په ډول د مختلفو ليکوالو د ځيړنې او پنځونې د عروج مرحلې په دلايلو سره ښودل شوي دي.
د ځيړنې او پنځونو په اړيکو خبرې شوې دي او دا واضح شوی چې يو له بل سره اړيکه لري او کنه؟ ځيړنه مهمه ده او که پنځونه؟ ولې د ځيړنې د لوړتيا پړاو معلوم او د پنځونې نامعلوم دی؟ د ځيړنې د پياوړتيا پړاو له کومو لاملونو سره اړيکې لري او پنځونه د کومو اړيکو پر اساس پياوړتيا مومي.

## سريزه:

په دې ليکنه کې ځيړونکي هڅول شوي چې خپلو علمي کارونو ته دوام ورکړي او په سيستماتيک ډول هره ورځ کار وکړي.
د مقالې نويوالی په دې کې دی؛ ځيړونکي ته لارښوونه شوې چې د علمي کارونو د بهبود او پرمختګ لپاره څه وکړي او د پنځوونکي د پنځونې د عروج پر مرحلې خبرې شوې دي او د ځيړنې او پنځونې د عروج مرحلې ښودل شوي دي او د بېلګې په ډول د پوهانو او ليکوالو ښودنه شوې ده.
هره ليکنه بايد د ځانګړي ځيړنيز ډول او مېتود په رڼا کې پيل او پای ته ورسېږي، ما هم له کتابتوني ځيړنيز ډول څخه ګټه اخيستې ده، خو کله کله مې له

لیکوالو سره د هغوی د څېړنو او پنځونو د پیاوړتیا او ځوړتیا پر پړاوونو خبرې کړې دي چې دا په ساحوي څېړنیز ډول کې راتلای شي او همدارنگه له تشریحي او کمپوزیت میتودڅخه مې گټه اخیستې ده.

د ارواپوهنې فردي تفاوتونو مفهوم دی چې د نړۍ ډېرو انسانانو ذکاوتونه، احساسات، تخیلات، تاثر، ذوق او داسې نور هغه کړه وړه چې د انسان له دننني او بهرني جوړښت سره توپیر لري. یو لیکوال به د تحقیقي کارونو ذکاوت لري او بل به د تخلیقي. یو به یو ډول ذوق لري او بل به بل ډول.

انسانان د ژوند په پړاوونو کې فزیکي او معنوي توپیرونو سره مخامخ کېږي. دا چې ټول تحقیقي او تحقیقاتي کارونه د انسانانو په واسطه تر سره کېږي نو اړینه خبره ده چې د ده تحقیقي کارونو به د لوړوالي پړاوونو ته رسېږي او همدارنگه د ده په پنځونو کې به تغییرات راځي.

دا موضوع اړینه ده چې د هر لیکوال او څېړونکې په کارونو کې مثبت او منفي تغیرات منځ ته راځي. کله به یې شاعري لوړو پوړیو ته رسېږي او کله کله به یې په ویناوو کې مخکیني تاثیرات نه وي. کله به د مبتدي لیکوال په ډول تحقیقي کارونه کوي خو د وخت او زمان په تېریدلو به ترې ښه څېړونکی جوړېږي.

**څېړنه څه ته وایي؟**

د نړۍ د پرمختگ له لاملونو څخه یو اساسي لامل د څېړنې پرمختگ دی. څېړنه هغه ریاضت دی چې په زیات زحمت گاللو سره یې انسان لوړو پوړیو ته رسېږي.

ـ علمي څېړنه او پلټنه د عبادت له هغې طریقې، لارې او روش څخه دي چې پلټونکی او څېړونکی د علمي حقایقو د پلټنو، څېړنو، کشفولو او یا د یو علمي نظر د سم یا ناسم ثابتولو په خاطر ټاکي چې دا علمي حقیقتونه، پلټنې، څېړنې، اکتشافات، سم او ناسم نظرونه د دې طریقې، روش او لارې په ذریعه څرگند او بیا یې خلکو ته وړاندې کوي. (۱)

ـ ډاکټر نجم الاسلام وایي: "تحقیق د فکر له یو خاص انداز څخه وده مومي. موږ د یو شي په حقیقت و حکمت د ځان پوه کولو خوا ته مایل کوي او د بیاناتو د

اصلیت په معلومولو مو اماده کوي، همدا د علم سرچینه ده او هم د علم د پیاوړي کولو وسیله ده." (۲)

ـ (في دلتاکپا) Phi Delta Kappaپه یو تعریف کې ویلي دي: "څېړنه د یوې ټاکلي موضوع په باب رښتینې، ژوره او عالمانه پلټنه ده، چې په هغې کې واقعیتونه، معناګانې او د تطبیق موارد هم تر ازموینې لاندې نیول کېږي."

ـ (مولي) لیکي، څېړنه دیوې نښې پېژندل شوې مسلې د حل په برخه کې سیستماتیک عیني اوسمه پلټنه ده.(۳)

ـ یو بل لیکوال وایي:(څېړنه) په مسایلو د ژورې پوهیدنې او د رښتیا (حقیقت) موندلو لپاره یو پلان شوی، هوښیارانه، منظم او د باور وړ بهیر دی. یا: څېړنه د پلټنې، بیا تر لاسه کولو، علمي ارزونې او په اصطلاح کې د نه ستړې کېدونکې هڅې نوم دی.(۴)

## پنځونه(تخلیق) څه ته وایي؟

تخلیقي یا هنري ادبیاتو ته اصلي او واقعي ادبیات وایي، ټولو بدیعي ادبیاتو ته تخلیقي ادبیات ویل کېږي چې په هغو کې شعر، لنډه کیسه، ډرامه، ناول، تکل، طنز او نور شامل دي.(۵)

## د څېړنې او تخلیق اړیکې

ټول علمي کارونه سره اړیکې لري.په ادبیاتو کې ادبپوهنه، ژبپوهنه او ادب تیوري سره رابطه لري، که چېرې یو لیکوال د ادب تاریخ لیکلو اراده ولري نو دی باید د ادب تیورۍ ښه مطالعه او پوهه ولري، ځکه چې د ادب تاریخ د لیکوال لپاره په تیورۍ پوهیدل اړین دي.

تخلیقي ادبیات له څېړنې سره اړیکه لري،که څېړنه نه وي نو هېڅکله هم تحقیقي کارونه پرمختګ کولای نه شي او که چېرې تخلیق نه وي نو څېړنه بیا کومه معنا نه لري.

د ټولو تحقیقي کارونو پرمختګ له پنځونو سره اړیکه لري او یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.

هره ټولنه تحقیقي، تخلیقي، ژباړل شوي اثار، تحلیلي اثار او په نورو ژبو لیکل شوو اثارو ته اړتیا لري.تحقیق یو ډول ارزښت لري او تخلیق بل ډول.

تحقیقي ځینې خلک تخلیق ته د تحقیق په پرتله زیات ارزښت ورکوي او وایي چې اصلي او اول لاس ادبیات تخلیقي بدیعي ادبیات دي. بدیعي ادبیات خپل ارزښتونه او کټګوري لري او د شعر د ډولونو او د هنري نثر د ډولونو اصلي ارزښت یې په هنریت او شعریت کې دی او د ادب اساسي او فرعي توکي راوړل په کې مهم دي.

تخلیقي ادبیات خپل شکلي او معنوي جوړښت لري، په یو نوم او بل نوم هرې لیکنې ته ځېړنیزه لیکنه ویلای نه شو. لکه څرنګه چې هر نثر هنري نثر کېدای نه شي او یا هر نظم شعر کېدای نه شي، دغه شان هره لیکنه د څېړنې تر نوم لاندې راتلای نه شي.که چېرې یوه علمي لیکنه په ټولوعلمي او اکاډمیکو لارښوونو برابره وي او په موضوع کې د څېړنې حق ادا شوی وي او د یوې ښې څېړنې ټولې لارې چارې په کې په خپل ځای راغلي وي نو د داسې لیکنو ارزښت زښت ډېر دی.

**د څېړنې د لوړتیا پړاو**

انسان ځواني او زړښت لري، دغه شان پر محقق باندې د تحقیق د کار په نظر کې نیولو سره هم ځواني او هم زړښت راځي. د ارواپوه ویګوتسکي په پوهه د څېړنې د لوړتیا مرحله(د عروج مرحله) له (۴۰ ـ ٦۰)کلونو پورې ده، خو زما په نظر په کورنیو او بهرنیو څېړونکو او پوهانو کې داسې کسان هم شته چې له شپېتو کلونو وروسته هم څېړنې کولای شي او د دې امکان زیات دی چې د ژوند د وروستي وخت لیکنې یې له پخوا څخه بهترې وي.

د څېړونکو ځواني هم د زړښت په څېر وي، خو په دې شرط چې د تحقیق له پیل څخه د وخت او زمان په تېریدلو یې زیاته مطالعه کړې وي، له مستحقو او پوهو لیکوالو سره یې ناسته ولاړه کړې وي او همدارنګه یې له څېړنې سره ورځنی سرو کار وي. یعنې زیاته مطالعه او د عمر تېرېدل، خو په دې شرط چې د عمر په ټولو پړاوونو کې باید ورځنۍ مطالعه او د ژوند تجربه ولري.

کله چې محقق په لومړنیو کارونو پیل وکړي اړینه خبره ده چې په علمي او تحقیقاتي کار کې به یې ځینې ستونزې وي خو د وخت په تېریدلو او له ډېر ریاضت سره یې په علمي کارونو کې بهتري راځي. په عام ډول د نړۍ ډېر څېړونکي او په ځانګړي ډول د پښتو ژبې هغه څېړونکي چې خپلو اکاډمیکو کارونو ته دوام ورکوي

او ژوند یې تحقیقاتو ته ځانګړی کړی دی، نو له لومړنیو کارونو څخه به یې ځینې وروستني کارونه بهتره وي خو په دې شرط چې له تحقیقاتي کارونو سره یې ورځنۍ سروکار وي او همدارنګه یې د نورو لیکوالو او پوهانو د اثار مطالعه وکړي او له دوی سره یې ناسته ولاړه وي او هره ورځ باید مطالعه وکړي.

د بېلګې په توګه په پښتو ژبه کې د پوهاند عبدالحي حبیبي له لومړنیو کارونو څخه ځینې وروستني کارونه بهتر دي یعنې د عمر په تېریدلو یې په کارونو کې بهتري راغلې ده.

د پښتونخوا د نامتو مورخ او څېړونکي دوست محمد کامل مومند هغه اثارچې د عمر په وروستیو مرحلو کې یې لیکلي، له لومړنیو تحقیقاتي کارونو ځینې د څېړنې د بنسټونو په نظر کې نیولو سره ښه دي.

د پښتو ژبې د اوسنۍ دورې محقق محمد اکبر کرګر له هغو محققینو څخه دی چې د کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي په وینا؛ د ده په تحقیقي لیکنو کې نوې خبرې زیاتې دي.

د کرګر پخواني تحقیقي کارونو یو رنګ درلود خو اوسنۍ څېړنې یې له بلې زاویې تر څېړنې لاندې نیول شوې دي. د کرګر غني خان په اړه یې تر (غني د شګو په محل کې) لاندې لیکلی و په ۱۳٦٥ ل کال چاپ شوی و او دا دی دوهم ټوک (ما ته یو دریاب د نور را) په ۱۳۹٥ ل کال چاپ کړ، دواړه کتابونه د غني خان په اړه دي، هر جلد خپل ارزښت لري خو د تحقیقي اصولو او لارو چارو په نظر کې نیولو سره په وروستي کار کې اکاډمیک قوت ډیر دی. پورتنۍ خبرې په دې دلالت کوي چې په تحقیقاتو او علمي کارونو کې لوړوالی د عمر په تېریدلو، زیاتې مطالعې، له پوهانوسره علمي اړیکه، له پوهانوسره راشه درشه، د پوهانو کتابونه لوستل، څېړنیز انتقادي فکر درلودل، د خپل فکر او نظر درلودل، د هرچا فکر او خبره په پټو سترګو نه منل، د تحقیقاتي لیکنو ریاضت درلودل او داسې نورې خبرې د دې لامل کېدای شي چې د لیکوال او محقق په کارونو کې ښه والی راشي.

**د څېړنې د ځوړتیا (نزول) پړاو**

په انسان چې عمر تېرېږي په شکلي لحاظ کمزوری کېږي خو که چېرې دی لیکوال وي او لیکوالي یې کاروبار وي، نو د عمر په تېریدلو یې علمي کارونه پیاوړي کېږي او په معنوي لحاظ د ځوړتیا پړاو ته رسېږي.

د څېړنې نزول او ټیټوالی د مطالعې د نه کولو، له علمي کارونو سره د مینې نه درلودلو، د څېړنې له لارو چارو سره نا بلدتیا، د څېړنې ځانګړی ذکاوت نه درلودل او داسې نور موارد کېدای شي.

که چېرې څېړونکی له څېړنې سره مینه ولري او هر وخت په دې فکر کې وي چې نوی کار وکړي نو اړینه خبره ده چې نوي فرضیې به اثبات ته رسوي.

که چېرې محقق کار پیل کړي او د لومړي ځل لپاره کوم اثر ولیکي او چاپ شي او همدارنګه د عامو او خاصو خلکو له خوا وستایل شي. که دی خپلو علمي کارونو ته په علمي ډول دوام ورکړي نو د وخت په تېریدلو به یې په کارونو کې لا بهتري راشي او لوړو پوړیو ته به ورسېږي خوکه چیرې خپلو علمي کارونو ته توقف ورکړي، مطالعه ونه کړي، علمي کتابونه ونه لولي او یا له علمي ساحې لرې پاتې شي او له څوکلونو وروسته بیا د کوم اثر لیکلو اراده ورته پیدا شي نو اړینه خبره ده چې علمي کار به یې له پخوا څخه کمزوری وي او د ځوړتیا په لور به تللی وي.

تحقیق ارادي عمل دی، محقق چې څومره زیاته مطالعه کوي په هماغه اندازه یې کارونه پیاوړي کېږي، د لیکوال قوي عزم او اراده هم ورسره اړیکه لري، خو کله کله په تحقیقاتو کې له ځینو داسې مسایلو سره مخامخ کېږو چې غیر ارادي او یا ناشعوري عمل ورته ویلای شو.(٦)

کله کله تحقیقاتي موضوع په غیر ارادي ډول د محقق ذهن ته راځي او یوه نوې فرضیه یې په ذهن کې پیدا کېږي خو د همدې فرضیې د اثبات لپاره بیا هم په ارادي ډول د اړوندې موضوع په تړاو مطالعه، له نورو پوهانو سره مشوره، په غوره شوې موضوع که نور کار شوی وي د هغو لوستل، په انتخاب شوې موضوع که په نورو ژبو کار شوی وي د هغو اثارو مطالعه او داسې نور مسایل راتلای شي.

**د تخلیق د لوړتیا(عروج) پړاو**

په ساینسي او اجتماعي علومو کې تخلیق ځانګړې ارزښت لري. د تحقیقـاتو د پرمختګ اساسي لامل تخلیقي کارونه دي. په ټولنیزو علومو کې که ادبیـات پـه نظـر کې ونیسو، ټول شعري ډولونه او د هنري نثر ډولونه د عروج مرحله لري.

پنځونې خاص استعداد او ذکاوت غواړي او د عروج او رکود وخـت یـې نـامعلوم وي.دا یـو نبـوغي عمـل دی او دا حالـت د انسـان د تـاثراتو، عواطفـو، تخیلاتـو، احساساتو، خوشحالیو، خفګانونو او ټولو هغو مواردو سره چې د انسـان لـه دننـي او بېروني جوړښت سره اړیکې لري.

په تخلیق کـې د قـوت او پیاوړتیـا وخـت ناڅرګنـد وي، د عمـر تېریـدل، ارادي مطالعه کول چې ښه تخلیق شوی عمل وکړو، اراده او تصمیم نیول چې ښـه تخلیـق منځ ته راوړي، اکثره وخت نتیجه نه ورکوي، یعنې دا یو غیر ارادي او تحت الشـعوري عمل دی چې په غیر ارادي ډول د انسان ذهن ته راځي.

په ځبرنو کې ډېرې هغه کړنې چې ځبرونکـی پـرې د لوړتیـا پـړاو تـه رسـېدلای شي بـرعکس پـه تخلیقـاتو کـې نتیجـه ورکـولای نـه شي، یعنـې هغـه اعمـال چـې د تحقیقاتو د پیاوړتیا لامل ګرځي، په تخلیقاتو کې د قوت سبب کېدای نه شي.

ټول تخلیقي اعمال د انسان له تاثراتو او دننیـو کـړو وړو سره ارتبـاط لـري، دا چې په انسان ډول ډول حالات راځـي او د دغـو ښـو او خرابـو اعمالـو د راتـګ وخـت نامعلوم وي، دا هم څرګند هم نه وي چې پنځوونکی پـه کـوم وخـت کـې ښـه لیکنـه کولای شي نو له همدې امله د تخلیق د عروج مرحلـه نامعلومـه ده او نـه شـو کـولای چې ثابته کړو چې یو انسان کله کولای شي چې په تخلیقي کـارونو کـې پیاوړتیـا تـر لاسه کړي.

دا هغه غیر ارادي او کله کله تحت الشعوري عمل دی چې پر لیکوال بانـدې د الهام په ډول راځي او لیکوال کولای شي چې له دغه وخـت نـه پـه اسـتفادې سره د شعر او یا نثر ښه نمونه ولیکي. غیـر ارادي عمـل د لیکـوال پـه واک کـې نـه وي او د تحـت الشـعور پـه بـاب ارواپوهنـه داسـې وایـي: پـه هـر انسـان د ژونـد پـه مختلفـو پړاوونوکې ډول ډول حالات راتلای شي، کله خوشحاله او کله خفـه وي.کلـه مالـداره او کله غریب وي.کله په درد اوکلـه بـې درده وي. یعنـې پـه انسـان ډول ډول حـالات

راځي او د دغو حالاتو مثبت او منفي تاثرات د انسان په وجود کې رسوب کوي، یعنې د ژوند د خوشحالیو شیبې، د خفګانونو حالات، اروایي مسایل او ټول هغه تاثیرات چې د انسان له دنننی جوړښت سره رابطه لري، د انسان په تحت الشعور کې وي، که چېرې د یو غریب او بیچاره انسان په لیدلو سره د یو لیکوال احساسات وپارېږي او د ده ذهن ته لیکنه راشي او دی یې ولیکي نو حتمي خبره ده چې د ژوند په پړاوونو کې به پر ده غریبي او بیچارګي تیره شوې وي او د هماغه وخت حالاتو په تحت الشعور کې رسوب کړی دی او د دغو حالاتو په لیدلو سره په غیر ارادي ډول هغه پخواني حالات ذهن ته راځي او پرې تاثیر کوي نو دی مجبور شي چې لیکنه وکړي. د دغو حالاتو وخت نامعلوم وي نو ځکه د تخلیقاتو د عروج پړاو د انسان په ژوند کې نا څرګند وخت وي او نشو کولای چې هغه وخت معلوم کړو.

د موضوع د ښې روښانتیا لپاره د پښتو ژبې د ځینو شاعرانو او پوهانو یاودنه کوم چې د پنځونو د لوړتیا پړاو یې د ژوند په بېلا بېلو پړاوونو کې منځ ته راغلې دي.

د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال او شاعر خوشحال خان ختک ډېره شاعري کړې ده او د محققینو په وینا، لومړنی شعر یې په شل کلنۍ کې ویلی چې له (۱۰۴۲)کال نه پیل او هغه قلمي نسخه چې د علومو اکاډمۍ کې موجوده ده او د ده د خطي نسخو له ټولو پخوانۍ نسخه ده، په دې نسخه کې یوه داسې څلوریزه ده چې په (۱۰۹۹) کال کې لیکل شوې ده، نو د دې خبرې داسې استنباط کولای شو چې د مرګ تر ورځې(۱۱۰۰) کال پورې یې شاعري کړې ده چې شاو خوا(۴۰۰۰۰ ) بیتونه یې ویلي دي.خان بابا له شل کلنۍ نه تر اته اویا کلنۍ پورې اته پنځوس کاله شاعري وکړه.(۷)

د خوشحال خان په ټوله شاعرۍ کې د لوړتیا پړاو(عروج مرحله) د بند د وخت شاعري(۱۰۷۴ ـ ۱۰۷۹) کاله پورې څلور کاله او نهه میاشتې بندې وه. فراقنامه، حبسیات او اکثره قصیدې یې په بندکې ویلې دي چې د شاعرۍ د عروج مرحله ورته ویلای شو. خوشحال خان ختک کله کله په یوه ورځ کې دوه درې قصیدې هم لیکلې چې دا خبره په دې دلالت کوي چې د تخلیقاتو وخت نامعلوم وي او که چېرې معلوم وي نو باید ترې استفاده وشي.

د رحمان بابا د شعرونو د عروج مرحله د ژوند وروستی(د زړښت) مرحله ده. د دغې دورې شاعري د فکر ژوروالی لري، تصوف او عرفان ته داخل شوی، دنیا یې د زړه او سر په سترګو مطالعه کړې، د خلکو ستونزې یې حس کړي، په دې دوره کې بابا ملنګ شو، قلندر شو او درویشي یې اختیاره کړه.

د پښتو ژبې پیاوړی شاعر غني خان بهترین شاعر دی خو بیا هم د ده په شعرکې د پیاوړتیا مرحله د زړښت د وخت شاعري ده.د دې دور شاعري عشق او محبت، فلسفې او حقیقت نه ډک اشعار دي، دغه شاعري یې د هستیو د ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شیانو د حقایقو او د هغو د وجود له علتونو څخه بحث کوي او د فکر او هستیو د اړیکو په اړه غږېږي چې د هغو د پېژندنې له اغېزې څخه د انسان لاره د عالي هدف لپاره څرګندوي.(۷)

ډېر ځله داسې پېښېږي، چې کله انسان له ورځنیو چارو وزګار یا په یوه ګوښه کې یواځې شي او خپل ځان او چاپېریال ته وګوري، اسمان، ځمکې، سپوږمۍ، ستوري، غرونو، سیندونو او بېلا بېلو ځناورو ته ځېر شي ډول ډول پوښتنې ورته پیدا کېږي، لکه:

زه څوک یم؟چېرته یم؟ له کوم ځای څخه راغلی یم؟جنت او دوزخ ولې پیدا شوی؟ژوند او مرګ ولې پیدا شوی؟او داسې نورې پوښتنې فلسفي افکار وړاندې کوي.

د غني خان فلسفیانه نظر او ډېرې نوې موضوعګانې څېړلي دي. رښتینولي د وجود بنیادي اصول، د یووالي روح، دکایناتو ضرورت، د انسان حیثیت او د مرګ او ژوند د معنا په توګه کوي.

د اکاډمیسین سلیمان لایق د شاعرۍ د پیاوړتیا او عروج مرحله د هغه وخت شاعري ده چې کله یې فعاله سیاسي مبارزه کوله او د هغه وخت دري ژبې شعرونه او ترانې یې ډېر پیاوړي وو او همدارنګه یې پخواني شعرونه د نن ورځې له شعرونو څخه قوي وو او تر اوسه پورې د عروج مرحله یې هماغه پخوانۍ مرحله ده.

له پورته مثالونو څخه داسې انګېرو چې په تحقیقاتو کې د عروج مرحله د څېړنې په پرتله نامعلومه وخت وي.

که پنځوونکي په دې پوه شي چې لیکنه یې د عروج په مرحله کې ده نو دی باید له وخته استفاده وکړي او د پیاوړتیا په وخت کې ډېرې لیکنې وکړي، ځکه چې د تخلیق د عروج پړاو پر انسان باندې کله کله راځي، نو له دې وخته باید سمه استفاده وشي.

ځینې ځوان شاعران پېژنم چې بهترینه شاعري کوي او کېدای شي چې دغه وخت یې د پیاوړتیا شاعري وي نو باید له دغه وخته ګټه واخلي.

ځینې خلک تحقیق بهتر عمل ګڼي او ځینې بیا تخلیق، خو زما په پوهه یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي. د بهترین تخلیق ځای هر ډول تحقیقي لیکنې نیولی نه شي. د بهترینې تحقیقي لیکنې ځای هر ډول تخلیقي لیکنه نیولی نه شي. ښه څېړنه یو ډول ارزښت لري او ښه تخلیق بل ډول نو له همدې امله هره برخه خپل اهمیت لري.

**پایله**

انسان د پیدایښت له ورځې تر مرګه پورې له ډول ډول فزیکي او معنوي توپیرونو سره مخامخ کېږي. دا چې دوی له ټولنې سره اړیکې لري نو د ټولنې ډول ډول حالات پرې تاثیر کوي. ټولنه د مختلفو شرایطو پر اساس تغییر او تحول کوي او دغه تحول دی چې که انسان لیکوال، عالم او شاعر وي نو د ده شاعري هر وخت پیاوړې نه وي ځکه چې د ټولنې ښه او بد تاثرات په بېلابېلو وختونو کې په انسان اغېزې کوي، د دغو تاثراتو وخت نا معلوم دی نو ځکه د تخلیقاتو د عروج او رکود مرحله مشخصه کولای نه شو.

په دې مقاله کې د څېړنې د ښه والي او بدوالي یا عروج او نزول مراحل ښودل شوي دي، په دې تاکید شوی چې څېړونکی باید کوم عملونه سرته ورسوي چې علمي او تحقیقي کارونه یې پیاوړي شي، همدارنګه پنځونې هم د پیاوړتیا او کمزورتیا لاملونه لري چې په دې لیکنه کې پرې زیات تاکید شوی دی.

**ماخذونه**


۱ . سیدمحی الدین هاشمي. د ادبي څېړنې او ادبي کره کتنې اړیکې، د ادبي څېړنې اصول او لارې، اهتمام، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۹۳ ل کال، ۴۶ مخ.

۲. خلیل الرحمن باور. د شېرنې لاربنود، بلوچستان یونورستې، کوټه، ۲۰۱۲ م کال، ۵مخ.

۳. محمد صدیق روهي. د شېرنې لاربنود (دوهم چاپ)، د افغانستات د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۵ ل کال، ۳۱ مخ.

۴. محمد نبي صلاحي. په ادبي شېرنه کې د مېتود ارزښت، د ادبي شېرنې اصول او لارې، سرمحقق سیدمحی الدین هاشمي په اهتمام، ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۹۳ ل کال، ۵۲ مخ.

۵. سیداصغر هاشمي. ادبي ترمینالوژي، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال، ۱۱۱ مخ.

٦. سیداصغر هاشمي. د مقالې لیکنې بنسټونه، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال، ب مخ.

۷. سیداصغر هاشمي. د پښتو نظم تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳ ل کال، ۱۴۷ مخ.

پوهاند دوکتور.م.ا. زیار

# سپین شعر د هنر سرلاری ځېل

## لنډیز:

ډېر ځله دا خبره کېدله چې بې قافیې شعر، شعر نه دی، ځکه د شعر ټول ارکان په کې نه تطبیقېږي، خو ځینو بیا دغه خبره په دومره افراطي بڼې کوله، چې آن د شعر له تعریفه یې هم ایست، په داسې حال کې چې ادبیات په ټوله کې تیوریکي مسایل دي او دغه مسایل ټول عمر ثابت نه وي، نن په یوې او سبا په بلې بڼې وي، خو هغه وخت هم زه له دې خبرې سره چندان جوړ نه وم او زما نظر دا و، چې بې قافیه شعر به یو مهال د نظمي ځېلونو سر ځېل وي، چې همداسې وشول او نن یې موږ او تاسې ټول شاهدان یو.

په دې لیکنه کې پر همدغو مسایلو بحث او خبرې اترې شوې دي.

## سریزه:

کله چې د لومړي ځل لپاره د استاد الفت په کور کې مې د پښتو ژبې له سترګور او نظم بول شاعر عبدالغني خان غني سره لیده کاته وشول، نو د لومړي ځل لپاره مې د هغه له خولې ازاد شعرونه واورېدل او له هماغه ورځې مې له ځان سره وپتیېله چې زه به هم دغه ځېل ته کار کوم، دا دی نن پر ما سربېره په لسګونو او که مبالغه ونه کړم سلګونو ځوانان د دغې لارې پلیوني دي او شوني ده چې د قافیه وال شعر وزرونه هم په ټوله معنا مات کړي.

ازاد شعر یا سپین شعر بې له شکه په دې ټولنه کې ځای پیدا کړې او تمه ده چې پاتې تشې هم ډکې کړای شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت او ارزښت په دې کې دی چې څنګه سپین شعر او قافیه وال شعر څخه جلا او ارزښت یې په رښتینې معنا جوت کړ، ولې یې اړتیا او تشه ډېره محسوسېږي او کوم لاملونه دي چې موږ تر قافیه وال شعر ډېر ارزښت ورکوو.

**د څېړنې موخې:**

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې سپین شعر د اوسني عصر- غوښتنې پوره کولای شي، انسان د پخوا په څېر د ډېرو قالبونو او قافیو جوړولو ته اړتیا نه لري او نه هم حاشیه رویو لپاره وخت ورسره شته، بلکې نن سبا هر څوک غواړي ابغه نېغه خبره واوري او هغه خبره همدغه ځېل کولای شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

- ✓ ولې سپین شعر یا ازاد شعر د قافیه وال شعر ځای ونیو؟
- ✓ په لومړیو کې ورته په کوم نظر کتل کېدل؟
- ✓ سرلاري یې څوک دي؟
- ✓ ایا ډېر عمر به ولري او که نه؟

**د څېړنې میتود:**

په دې څېړنه کې له تشریحي، کره کتنیز او سپړنیز میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**د څېړنې اصلي متن:**

د دې لپاره چې د پښتو د بېقافیه (اوبې ردیفه) شعرونو په لړ کې مو دغه بېقافیه ((ګډوله)) شعر ښه ترا پېژندلی وي، وار له مخه د بېقافیه پښتو شعر بېلابېل ډولونه او ځېلونه مینه والو ته لنډ لنډ ور پرګوته کوو چې له څه باندې نیمې پېړۍ راهیسې له یوه پرلپوري غورځنګ سره رامیدان ته شوي او ډلبندي شوي دي. (۱)

نیم ازاد، بشپړ از اد، سپین او په دې لړ کې، ناپېیلي (منثور) شعرو نه او بیا له څرنګیز اوڅومره ییز پلوه د هر ډول یا ځېل (ژانر) کوچني او کوچنوټي ډولو نه او

ځېلونه چې په دې لړ کې د ناپېلیو مخینه بیا د ادبي ټوټو (پارچو) او نورو هنري نثرونو په رانغښتو سره تر یوې پېړۍ هم وراوښتای شي.

هرگوره په دې ترځ کې مو دا هم پر زباد رسولې چې په پښتو کې بېقافیو او بې ردیفو، ډولونو، د پارسي، عربي یااردو پرخلاف، د انگرېزي یا بلې اروپایي هغه پرځای تر ۹۹-۹ سلنې پورې پر خپل (و) گړني او بیا لیکني ځپېز- خجېز (سېلابوتو نیک) شعري سېستم ټیکاو لرلی دی. په دې توگه په تېرو۴- ۵ لسیز وکې کې لروبر گڼ شمېر ویناوال رامنځته شوي چې د استاد پژواک له مونډي شعر (← کلمه داره روپۍ) رانیولې، داستاد ژواک تر ناپېیلي (منثور) شعره یې، د بې قافیه موزونواو نا موزونو شعري فورمونو اوکالبونو درې څلور ډولونه رادود کړي، بې له دې چې یې سره واغړي راواغړي.

## په پښتو کې د بېقافیه شعر بېلابېل آر او څېرمه ډولونه

**لومړی: نیم ازاد کالبونه او مونډي شعرونه:**

(۱) ازاد او نیم ازاد شعري کالبونه چې د دې لمریزې پېړۍ له لومړیو راهیسې یو شمېر شا عرانو د دودیزو قافیوالو ځېلونو په لړکې له ((ترکیب بند)) او ((ترجیع بند)) نه په الهام اخېستنه په خپلو خپلو سلیقو او نوښتونو سره، له بېلا بېلو لنډو او اوږدو بیتونو، مسرو او بندونو او بیا له لږو ډېرو قافیو سره رادود کړي، لکه: استاد حبیبي، استاد بېنوا، عبدالرحیم مجذوب، اجمل خټک، سلیمان لایق، پوهاند مجر وح، پوهاند زیار، ننگیال، رحمت شاه سایل، حسینه گل تنها، درویش درانی...چې هغې خوا ته یې ((نظمونه)) بولي.

**(۲) مونډي شعرونه:**

یا هغه بېقافیه (اوبې ردیفه) شعرونه له یو برابر خجنو ځپو سره، لکه د استاد د پژواک د (۲) د ټولگې ټولې فولکلوري کیسې، په لره، په نورو ټکو، په شمالي او سوېلي پښتونخوا کې بیا د بشپړ ازاد له څو گوتشمېر وینا والو، لکه اروابناد استاد ایوب صابر او څه ناڅه یې له نږدې پلیوني رومان ساغر او بل یو نیم پرته، نورو ډېرو د نیم ازاد یامونډي (بېقافیه، موزون له یو برابرو مسرو سره ) دا ازمایلي دي، لکه ایاز داودزی، مایل، رفیقي (!)....

دریگۍ د مونډي شعر یو لنډ ډول دی، چې له یو برابر درو هموزنو مسرو څخه رغول کېږي، د درېواړو مسرو اوږدوالی د دودیز غزل له۷ تر۱٦ څپیزو مسرو رسي اوله دود یز مثلث (در بیزو) سره د توپیر لپاره پرې پوهنوال یارمحمد یزال "دریگۍ (هایکو) ۱۳۹۲" دغه نوم ایښی دی او د (←سپین شعر) په څېر یو انځور او یو پیغام رانغاړي. ۷ څپیزه بېلگه یې:

چې پسرلي وخندل

ما له خوښۍ وژړل

هسې مې ژوند وزېږېد (زیار)؛

**۱۱څپیزه:**

ماوې کوژده خوکوې کار څه کوې؟

شاځوان په ځواب کې وویل په زغرده:

چې منجاور د شمشېره ولي یم (یزال) (۳)

هسې خو لسیزې وړاندې ما، پیونداو... یو لړ بېلگې ازمایلې دي، خو په وروستیو ۵-٦ کلونو کې ورته د ټپیزو ترځنگ ورته د جاپاني هایکو د یوه ادا پت کړي بلونج په توگه تر پو هنوال یزال هم کال نیم وړاندې، اروانښاد نوموتي غزلبول زړه سواند، یومخیزپام ور اړو لی وو او تر یوې خپلواکې ټولگې یې رسو لې دي، تر دې چې د لومړي پښتون- افغان په توگه د جاپان د اړوندې ټولنې له خوا (توکیو) ته وروبلل شو او د هایکو د ۲۰۱۱ ز. کال په سیالۍ کې یې د جایزې ویاړ ترلاسه کړ.

**دویم: بشپړ ازاد شعرونه:**

دې شعري ځېل (ژانر)، لکه وار له مخه چې وویل شو د پارسي، عربي یا اردو پر خلاف، د انگرېزي یا بلې اروپایي هغه پرځای، د خپل (و)گرني او بیا لیکني څپیز- خجیز شعري سېستم پر بنسټ رادود شوی دی. په دې توگه په تېرو ۴-۵ لسیزو کې کې لروبرگڼ شمېر شاعرانو د استاد پژواک له مونډي شعر(کلمه داره روپۍ) رانیو لې، داستاد ژواک تر ناپېیلي (منثور) شعره، د ناقافیوالو یا نیم قافیوالو موزونو او ناموزونو شعري فورمونو او کالبونو درې څلور ډولونه رادود کړي، بې له دې یې چې سره واغېږي راوا غږي.

هرگوره، په دغه لړکي ما تر هرڅه وړاندې د نورو څو پلیونو په ملتیا د سم صحیح ازاد بېقافیه او بې ردیفه موزون شعرغورځنګ راپیل کړ او د پنځو لسیزو په مهالپېرکې مو (بره خوا) ډېر له ځان سره را ملګري کړل، لکه: رفیع، ننګیال، پیوند،کاوون، یون، حسن ابرون، صفیه، مواج، مستان، ارمان، فردا، علم ګل سهر، همیم جلا لزی، ستانه میر زهیر، شپون، خزان، هادي، هادي ملا، لطیف بهاند، آصف بهاند، صدیق بدر، احمد تکل، حفیظ ګردش، بېکسیار، ذبیح حسن... ؛ استاد رفیع (زرینې څانګې) بیا عظیم ساپی د ازاد پښتو شعر لومړی نوښتګر بللی دی.

ما له څه مهال راهیسې د پارسي تربرورانو پر پلیونی نه، بلکې د مثبتې سیالۍ له مخې د ((ازادغزل)) یو بېلګه دوې ازمایلې دي. داسې چې هر بند له درو یا څلورو مسرو څخه رغول کېږي، لومړی یې بېقافیه (مونډی) راځي او یوه وروستنۍ هغه یې داسې قافیه لري چې د نورو بندونو له هغو سره همغږي ولري. دادی، دلته یې له درو مسره ییزو بندونو یوه بېلګه وړاندې کوم چې تېرکال (۲۰۱٦) سردارعلي ټکر له تاند ویبپاڼې اخېستې او په خپل زړه راکښونې غږ کې یې سندریزه کړې ده:

**د سر سیوری**

ما دې له ګرمۍ د سرو بارخوانو، نه
څه ښه سر پر سیوري د ښو کړ ستا
سیوری دې زما له سره کم مه شه!
لولم مینه وړي تېر یادونه دې
شپه او ورځ د سترګو په ککیو کې
ورک دې کله پل له دغه چم مه شه!
نه دې لمر سپوږمۍ دې د ښایست ساري
نه د جنت حوري د سیالۍ جوګه
سیالي ښاپېرۍ دې د ارم مه شه!

د استاد بهاؤالدین مجروح یو لړ((نااشنا سندرې))- د قافیوالو یا ازادو کالبونو هغو تر څنګ_ د ټولمنلي ازاد شعري ځېل، هغه هم له اروپوهیز سبک سره د

لومړني نوښت په توګه لوړې ارزول کېږي. هرګوره، له شاګردانو یې ((پوهندوی اروانښاد اسد اسما یې)) د ((ځانځاني ښامار)) پر پلیونی په پاریس کې د خپل څو ورځني بند یوه اوږده کیسه کښلې وه چې مایې ورسمه کړې ښه له یوې لسیزې راهیسې په کمپیوټر کې خو ندي ساتلې ده؛ همداسې په دوه کیسه لیکو الوکې یې، اکبرکرګر یوه سپین وزمه او د زرین انځور یوه ازاده پېیلې بېلګه هم همداسې درواخله. عبدالغفور لېوال بیا نن سبا د اوږدو او نیم تاریخي- اسطوره یي سرودونو، منظومو او بوللو (حماسو) له پلوه په (نیم) ازاد شعر کې تر ټولو مخ پر بره روان دی.

### درېیم: سپین (بېقافیه او بېوزنه) شعرونه:

یا چې پارسي انډول یې (شعر سپید) دی. د ازاد هغه په څېر تر ډېره له خپل پښتني فولکلوره آره اخلي، لکه د نکلونو ناري، د کوچنیانو سندرې، یو لړ متلونه، ټوکې.... دا ډول شعر پر لنډو او اوږدو ځېلونو وېشل کېږي او پلیوني یې له ګوتشمېره تېرى نه کوي، لکه زیار، ننګیال، پیوند، مستان، درویش... سپین یو انځور او یو پیغام رانغاړي او په دې توګه ترګوشتمېر لنډواوږدو ټوټو تېری نه کوي؛ که نه پر (← ناپېیلي) هغه اړه پیداکوي.

اروانښاد ننګیال په ازادکې دومره پر مخ تللی وو چې ما متې د شپېتمو لمریزو کلونو په پای کې سپین ته په ډېره هڅونه او پرله پسې ټینګار رامات کړای شو او بیا یې تر څو انمرګی نور پرېښوونکی نه وو. تر دې چې د شمېر له پلوه یې تر رېکارډه رسولی او تر اوسه یې څوک د سیالی جوګه نه شول. هرګوره، داوړدوا لي له پلوه زما ۱٦مخیزه بېلګه (۴) تر اوسه بېساري ده.

همداراز له دوه دریو کلو راهیسې فدا نظري بیا، بې له کومې پاموړې شاعرانه مخینې یوانځوریز لنډ سپین شعر ته یوو اریزه ملا تړلې، چې په دغه لنډ مهالپېر کې یې تر درو ټولګو چاپ ته سپار لې دي: لومړی ټولګه یې د شاملو او واصف باختري، نرو دا، هوګو، تواردوفسکي له څو ژباړلو شعرونو پرته نورې خپلې پنځونې رانغاړي او بله یې د دواړو نوموړو

پـارسي شـا عرانـو لـه ګنـو ژبـاړلو بېلګـو سره، او دریمـه یـې  د ١٦٥ عـربي او غربي  انقلابي  شاعرانو یو ژباړلی غورچاڼ دی.

**ځلورم: ناپېیلی یامنثور (اوږد بېقافیه او بېوزنه) شعر:**

شعر د سپین هغه غونديې  بېوزنه  دی، په همدومره توپیر چې سپین  یو خیالي انځور او یو پیغام رانغاړي او  په  پښتو کې تر ګوشتمېر لنډواوږدو ټوټو یا مسرو تېرى نه کوي، خو ناپېیلی دا له هـنري پـرداز سره سره  (لږ تـر لـږه  د یـوه تکـل یـا لنـډې کیسې هو مره) بېلګې لري.

هن! لکه وار له مخه ورته نغوته وشوه، څنګه  دا چې بېقافیه ځېل ادبي ټـوټې او بېلابېل  ادبي نثرونه  را اخلي، نو هم د  یو پېړییزې مخینـې او هـم لـه ځـومره ییـز پلوه له دغو نورو بېقافیه ډولونو ځېلونو سره پوره توپیرمومي.

همداراز یو شمېر لنډې کیسې، یا یې لږ تـر لـږه  د لنـډو او اوږدو هغـو پیلامـې هـم پـه دې ډلـه کـې را تـلای شي، د بشـپړو کیسـو بېلګې،لکـه د موسـی شـفیق (عبقریان)، د پسرلي (سره غالی)  او د کاروان یوه  نیمه هغـه؛ د اسـتاد بېنـوا او روغ لېوني ادبي لیکونه یـا د اسـتاد  عبـدالهادي داوي  د ١٣٠٠ل. کـال راپورتـاژ (۵). د کره او خوږې پښتو لیکوال استاد شهرت ننګیال  بیا هره لیکنه، یاده (خـاطره)،طنز، راپورتاژ، یونلیک... هم همداسې درواخله.

**په پښتو کې  (ازاد+ سپین ) ګډوله شعر ولې او کله  راپیداشو؟**

تر کومه چې ماته پته ده، د داسې ګډوله پښتوشعر پیلامه  له څه باندې  نیمې پېړۍ را هیسـې غنـي خـان رانښـلولې ده. د ١٣۴۴ل. د زمـري میاشـت وه  چـې  د دارالامان خواته د پاچاخان د لیدو لپاره لاړم او لومړی ځل مې پرهغه فلسفي شـاعر واوښتم چې پـه سـیور  رلنـه دېـره کـې لـه اسـتاد الفـت سره  پـه خـبرو اتـرو لګیـاوو. همداچې خبره پر شعرو شاعرۍ را غله، کتابچه یې راواخېسـته  او ویـې ویـل:  غـواړم وار له مخه درته  د ازاد نظم یودوه بېلګې ولولم چې تازه مـې ازمـایلی دی. د لـومړۍ بېلګـې لـه اورولـو سره  یـې اسـتاد الفـت  موسـکی شـو او ورزیاتـه یـې کـړه چـې دغلته   شاعر خپل اندو واند (فکروخیال)  ښه ترا پر کـار اچـولای شي او لـه دې سره شعري نوښت  مخ پر بره درومي.

نو زه هم له هماغې ورځې د دغه ازمایښت په تکل کې شوم، خو د غني خان (free verse) پرځای مې د استاد مجذوب مروت د ((پېغلې)) نیم ازاد شعر ځانته مخښلگه کړ، نو ورو ورو راته داپته ولگېده چې د غني خان هغه ازمایلی ځېل د انگرېزي هغه رندې پېښې دي. تول وتال او موسقیت نه لري او دا سردار علي ټکر وو چې د یو شمېر قافیوالو شعرونو او نظمو نو ترڅنگ یې دغه شعري ځېل هم په ډېرو کُړاوونو (مشقو نو) ور سندریز کړ او په دې ډول یې نور هم په لروبر کې د یوه ستر شاعر په توگه وځلاوه او گرانښت او منښت یې لا پسې ور زیات کړ.

**ولې مو په دې نامه نومولی دی؟**

لکه څنگه چې پر نړیوال او بیا زموږ د سیمې پر کچ دا ټولمنلی دود دی چې هنري، ادبي او بیا شعري ځېلونه (ژانرونه) تر هرڅه وړاندې د تخنیکي جولې پر بنسټ پر بېلابېلو نومونو نومول کېږي او ډلبندي کېږي او هله د-اېزمونو، مکتبونو،سبکونو، بهیرونو(جریانونو)، په نورو ټکو، د بېلابېلو ژب- ښکلاییزواو ژب- اندیزواړخونو له مخې. په دې لړ کې پښتو شعر هم وار له مخه پر قافیوالو ا و ناقافیوالو ځېلونو یا ډولو وېشنه مومي او بیا د دې یا هغه ډول د چوکاټ دننه کوم کوچني او کوچنوټي ځېلونه.

په دې توگه گورو چې نه لره خوا د انگرېزي (free verse) په سیده پلیونې د غني خان او بره خوا په ناسیده پېښو نوي رادود شوي بېقافیه شعرونه، (لږ تر لږه د پښتو او پارسي پر کچ) په آرو درو منل شوو آرو او څېرمه ځېلونو (ازاد، سپین، منثور ) کې راځي، په نورو ټکو، له هېڅ کوم آر یا څېرمه ځېل سره اړخ نه لگوي؛ خو داچې په ترڅ ترڅ کې یې ځینې ټوټې یا مسرې په ازادو (بېقافیه موزونو) او ځینې یې په سپینو (بېقا فیه بېوزنو) او یاهم بېلابېلو وزنونو اړه پیدا کوي، نو موږ ته یې د دودیزو ادبي فنو نو د نومَونو (سکته، ضعف التـألیف، ویارمن یا معیوب ) پرځای.

((گډوله شعر)) نومَو نه غوره واېسېده، هغه هم په دې لاندې دکونو دلیلونو:

۱- څنگه چې د اروپایي او بیا انگرېزي شعر په پېښو جوړېږي، نو له پښتو (و) گړني شعر سره همغږي نه لري، په نور ټکو، په ټولمنلې پاسنۍ تخنیکي ډلبندۍ کې نه را ځي.

۲- سندریز ه وړتیا نـه لـري؛ ځکـه نـه یـواځې لـه پښـتو ټـنـګ ټکـور سره لا څـه چې له لویه سره له ختیز اته- لس سُره موسیقی سره اړخ نـه شي لګـولای. دا نـو، لکه پاس ورته نغوته وشوه، ټکر تراوسه ړومبی پښتون کمپوزر و سندرغاړی دی چې د غني له خوا د انګر بزي شعر پر پلیونی ویلی ((ګډوله)) شعرونه، کټ مټ، لکه نـور مـات ګـوډ قـافیوال هغـه یـې، لـه هنـدواریاني ((سـا- رې- ګـه- مـه- پـه – ده- مـې- سا)) سازوواز سره په خپل نوښت ور برابر کړي دي.

۳- پښوییز (ګرامري) سرغړاوی، پـه دې معنـا چـې د بېقافیـه او بېوزنـه ټوټـو یـا مـسرو په ترخ ترخ کې د یوې نیمې ازادې مسرې یـا بیـت دننـه د ((شـعري اړتیـا پـه پلمه ناوډوني پېښېدای شي، لکـه واخلـې د تکـل پـه (رښا ۱۴) نـومي شـعر کـې دا وړاندې وروستوالی:

رښا پټه ده په وریځ کـې(آراوډون: رښاپـه وریـځ کـې پټـه ده) یـا (پـه وریـځ کـې رښاپټه ده)

همداراز یې په (سکوت او چغې۲۴۱) ګډوله کـې پـارسي وزمـه اضـافي تړنـګ، لکه:

سکوت مې په خوله کې
(ځای د خوب) لټوي
او چغې اوس په چغو هم
نه راوینښېږي.

۴- د مینـه والـوکړی یـې ډېـره لنـډه تنګـه پـاتې کېـږي، هسـې خـو بـې لـه هغه ۹، ۹۹ پښتانه تر هنري شعره، ساده نظم او ولسیز نیم ولسي- شـعر خوښـوي، ځکه پرې نه پوهېږي او چې لا بیا تول وتال هم و نه لري.

د هواري غوره او پتمنه لاره داده چې که ویناوال ټول شعر پر یو راز وزن او تول وتال برابر کړي ښه تر ښه، که نه، هغه ازاده نیمه ټوټه یا مسره دې هم سمه ګرامري کاندي او په دې ډول هـره ګډولـه هغـه، سـپین شـعر تـه راواړوي؛ ځکـه ازاد شـعر او سپین شـعر منـل شـوي ځېلونـه دي او لـه پښـتو (و) ګړنیـو ځېلونـو سره اړخ لګـوي.

۵- پایله يې دا چې په ټوله کې ګډوله شعر د نورو دودو بېقافیه ځېلونو هـومره پښتو شعر د قافیې له باستیل (زندان) څخه رایستای نه شي او له دې لامله يې پر دغه با ستیل باندې زغرد نه، بلکې یو ټکنی ګوزار بللای شو!

لره خوا تر غنـي خـان نیمـه پېړۍ را وروسـته پـه بـره خـوا کـې د ګډولـه شـعر ناګاهانه پېښې په لاندې توګه ځېرو:

زمـا پـه یادښـت هـادي عطـایي (مـلا) لـومړی ځـوان شـاعر وو چـې د ادبیـاتو پوهنځي په زده کړیز پېرکې يې تر لږ و ډېرې قـافیوالې شـاعرۍ را وروسـته مـا د څـه ناخـه اوږده نـیم ازاد یـا مونـډې شـعر (←) يـوه بېلګـه د ۱۳۵۱ ل. کـال د وږمـې مهالنۍ په لومړۍ ګڼه کې ور خپره کړې وه؛ خو څـو کالـه وروسـته یـې لـه لښـکرګاه څخه پرله پسې غني وزمه (←)څو بېلګې راواستولې چـې تـر يـوې هغـې پرتـه مـې نورې راسره کتنپلاوي لاسلیک نه کړې. په امریکا کې یـې لـه مېشـتیا سره لـږو ډېـر بشپړازاد ځېل ته راواوښت او دادی، نن سبا يې ورته په کوَټـه کـې د((عبـدالهادي ملا)) په نامه په ټول شور و زور ملا تړلې او څو ټو لګې يې له چاپه راکښلې دي.

پـه دې لـړ کـې ښـاغلي حسـن ابـرون ورتـه بیـا زمـا پـه لړکـۍ هڅونـه او لارښوونه ازاد ځېل راخپل کړی او لږ تر لږه يې درې ټولګې چاپ تـه سـترګې پـرلاره دي. همداسې، لطف الـر حمـن خـاموش، سـید منتظرشـاه هاشـمي، مفتـاح الـدین ساپی درواخله. په لندن مېشتو شاعرانو کې غلام محمدکامـه وال لـومړی وینـاوال دی چې تر اوږدې قافیوالې او په تېره غزلیـزې مخینـې سره یـې د ګډولـه شـعر لاره پرمخ اخېستې او پرله پسې يې دوې ټو لګې له چاپه راکښلې.

## راڅڅېدلې چوپتیا:

دا د اوږدې مخینې قافیوال او بیا غزلبول شاعر نظیـف تکـل د شـعري ټـولګې نوم دی چې زموږ د دغې کره کتنې پلمه یا انګېزه شوې ده. ده په خپله دغه تازه چـاپ کـړې څلورمـه شـعري ټولګـه چـې د قـافیوالو شـعرونو (غزلـو، څلـوریزو) تـر څنـګ یـې پـه کـې نـږدې نیمایـې بېقافیـه هغـه رانغښـتې دي، د تېرجـولای پـر پنځلسمه د لندن ادبي بنډار ته د مخکتنـې لپـا ره وړا نـدې کـړه (← کرګر: تانـد ووپانه).

که څه هم له تخنیکي- جولیز پلوه یې یو نیم ((ګډوله)) شعر تـه ګوتـه ونیـول شوه؛ خو د هنري- انځور یز نوښت له پلوه د نورو بېقافیه (ازادو او سپینو) پـه لړکـې لوړ وارزول شو. هسې خو څرګنـده ده چـې ازاد (مـوزون) فـورم یـو څـه زیـات زیـار و ازمېښت غواړي.

زما له لیده تر تېرو دربو خپرو ټولګو یې د دې نوې ټـولګې د ژب- ښـکلاییزې او ژب- اندیزې پرمختیا او لوړتیا دک و دلیل، تر هرڅه لـه مخـه دادی چـې دلتـه یـې د پښېلیزو (قافیوالو) او ناپښېلیزو (ناقافیوالو) شعرونو شـمېرانډول نـږدې یـو برابـر دی، ځکه نن سبا له دې هېڅ کره کتونکی نټه نه شي کولای چـې دویـم ډول، پـه تېـره ازاد او سـپین دا ورځ تـر ورځـې مـخ پـر بـره درومـي او پـه دې چـم پښتوشـعر د قافیې له باستیله مخ پر راوتو دی.!

زموږ هڅاند شاعر (تکل) په ((راڅڅېدلې چوپتیـا)) کـې ټولټـال ۲۸۸شـعرونه رانغښتي، له دې انډول سره: ۱۴۵ غزل او څلوریزې، دوه ټپیزې، ۴۲ازاد، سپین او د دې دوا ړو ځېلونـو یـو لړکـی شـمېر((ګډوله)) او یـو نـاپېیلی (منثـور) شـعر. داسـې برېښي چې تکل له ۲۰۱۳کال راهیسې دغو بېقافیه شعرونو ته مخـه کـړې او کـه همداسې یې پنځونه پر مخ یوسي، دابـه نـوره هـم را زبـاده کـړي چـې څـومره پاخـه منـګ تـه ور نـږدې کېـږي، دغسـې یـې شـاعري ورسره هـم اوړه پـراوړه پخېـږي او خوږېږي.

دا دی دلته یې څو بېلګې، تر هرڅه له مخه د هنري نوښت او په ترڅ تـرڅ کـې له تخنیکي اړخه تر ارزونې لاندې نیسو، لکه دالاندې:

رڼا (۱۴ مخ)

وریځ په چمن کې پرته
چمن په وریځ کې ویده
مرغۍ د راروانې رڼا په هیله
د زوړ دېوال له سوړو
یوه یوه راالوځي
زه د اسمان ډډې ته ګورم
رڼا پټه ده په وریځ کې

د دغه شعر اوګونې مسرې له څلورم خج سره راپیل شوې، خو یوائې لومړي دوې یې ازاده بڼه لري. داسې چې د همدغو دوو مسرو دوه غبرګوانځورونو (استعارې او پرسو نیفیکېشن) ټول شعر ته ښکلا او نوښت وربښلی دی.

د (ګناه ۳۰) شعر یې هم همداسې ۷ مسرې لري او لومړۍ لنډه او دویمه اوږده هغه یې هم له څلورم خج سره ازاده بڼه راخپله کړې، خو د مخینی بېلګې په توپیر یې نورې مسرې هم هماغه انځورونه رانغاړي.

بل ورته ګډوله (ځوانمرګی ۲۵) بېلګه یې تر بل هرانځوره، له یوه نګېرګډون (حس آمیزی، پرادوکسی) سره ښه ترا ښکلې او پسوللې راغلی: ( ... زه یې غږ په پټو سترګو اورم)؛ خو په دې شرط چې (په پټو سترګو) ترښت یې کړول (قید) نه، بلکې آلي (انسترو مېنتال) وي، یعنې (د غوږو پرځای یې په سترګو اورم)!

د (شرنګ ۲۰۲) په نامه یې دابله بېلګه د (نظم+ نثر) ګډوله برېښي او هغه داچې لومړۍ څلور ټوټې یې له بېلابېلو وزنو سره پښېلیزې (قافیوالې) هم دي، لکه:

یو راز مې د ژوند د زلمیتوب یې
د مستې ځوانی او لېونتوب یې
ته مې تعبیر د یو رنګین خوب یې
شرنګ د نالیدلي پېغلتوب یې....

همداسې یې بله ورته (دوه بیتونه پلارته ۲۸۷) بېلګه هم درواخله:

له اوږده ځنډ وروسته د هغه په لیدو
پیر غوندې سړي ته لاسونه دواړه ورکوم
ږیره یې ښکلوم بیا ورته غاړه ورکوم
درد یې په درد اخلم، بلا یې له ځانه لرې
غم یې ورک شه خوښې د دونیا دواړه ورکوم.

چېرې کمپېښې بېلګه یې هم د برابرۍ له مخې ازاده راځي،لکه (مینه۱- ۳۱) چې له نحوي پلوه یوه غونډله ده، خو له دود وخورمنځ سره سمه یې پر درو وړو ټوټو یا مسرو وېشلې او له یوې ښکلي استعارې او کنایې اوبیا سېمبولیک پیغام سره:
یوازې کارغه

د ونې له بربنډو
اندامونو سره مينه کوي.

په ورته نامه (مينه ۲) بېلګه يې چې له ژب – ښکلاييز او عاطفي انځورګرۍ سره يې له ډېرې مينې پر دوتنه، تر خپل شاعرانه انځور لاندې هم چاپ کړې ده، خو چې له ((ګډو له)) توره هم بچه شي، په کار ده، لومړۍ دوې ټوټې يې د لومړۍ غونډلې يا بيت او څلور نورې يې د دويمې غونډلې يا بيت په توګه، همداسې لارغه (مکث) تر منځ وويل شي:

مينې !
استاد دې کړم (غونډله)
اوس د يار د سترګو
د غصې کتاب
په پټو سترګو
لولم (غونډله).

که خبره يوائې پر تخنيکي جولو راوڅرخوو، يوه به يې داوي چې يوشمېر ګډوله بېلګې يې ديو دوه مسرو له لړکي سمون سره پر ازاد او يا سپين شعر بدلېدای شي، لومړۍ بېلګې يې، لکه (جمعه۱۴٦):

ډېرې جمعې مې
له لاسه وتې
او ډېر کارونه جمعې ته پاتې
خو اوس هم
نه پوهېږم
چې راروانه جمعه به څه وکړم؟

د دې بېلګې ړومبۍ شپږ مسرې له څلورم خج سره ازادې راغلې خو وروستۍ دوې يې ورسره له دې اوډون سره همغږې کېدای شي اوپه دې چم ځنې بشپړ ازاد شعر جوړېږي:

... چې به څه وکړم راروانه جمعه؟

همداسې يې (يوه شپه ۱۴۷) ګډوله بېلګه درواخله چې که په مخپـای مـسره کې يې له (سترګو) سره (سرو) ستاينوم راشي، بشپړ ازاد شعر ته رااوړي:

ياد دې شي
چې مامې سيوری
د وجود پردېوال
نه ليده
ساه مې ستا په ساه کې-
ساراکښله
او شپه ورو ورو- ستا د (سرو) سترګو د اينو
شاته ډوبېدله.

له ښکلو انځورونو سره يې د بشپړسپين شعر بېلګې:

- (خنډ ۱۳۴):

مرغۍ او ونې به يې
سيل ته و نه وځي
سږ به پسرلی هم
ناوخته راورسي
د وخت د مزله
بوټانو کې غنې شوې.

- (خوب۱۳۹ ):

بېګا په خوب کې راغلې
زه مې له خوبه راوتلی وم
سهار مې د کوټې
ټولې لارې بندې کړلې
ماويل بېګانی خوب مې
په کوټه کې ساتم.
(سلام ۳۷۱)

سـپين شـعر يـې لـه (پورنوپـويتري) سـېمبوليکو بېلګـو څخـه بلـل کېـږي:

زه مې سلام
د سیند
د روانو اوبو
شرنګي ته لېږم
چې د لونډو کبانو
د زنا خبرې پخپله
مینځي.

**پایله:**

کلونه ورانـدې دغـه شـعري ځـېـل د مـار چیچـل و، د لـړم زهـر او دې تـه ورتـه مسـایل ګڼـل کېـدل، د نـورو ځېلونـو سرلارو د خپلـو ځېلونـو او بـابولاو د بقـا لپـاره لـه دغـه ځـېـل سره ډزې را اخیسـتې وې، خـو حـالات او وخـت خپـل کـار کـوي او بیـا ادبیـات خـو هـنر دی او هـنر پـه هـره سـوړه کـې ځـان لـه غـار مونـدای شي، همـدا لامـل و، چـې مونـډې شـعر لـه زړونـه لار وکـړه او پـه ذهنونـو واکمـن شـو، دومره واکمن چې سرځېلي یې له ننګونو او ربړو سره مخامخ کړل.
غنـي خـان او دې تـه ورتـه مخـورو یـې سرلاري وکـړه، لـه دې سره چـې ځـان یـې لیـونی ګاڼـه خـو لـه هوښـیارو هـم هوښـیار و او دا دی تـر مـا او تـر بـدره یـې پلوښـې او وړانګـې را ورسـېدې، پـه دې وروسـتیو کـې ومـان او دې تـه ورتـه خـو آن پـرې وویـاړل هـم شـول، لکـه ومـاني شـعرونه، نـو د ومـان پـه ګـډون د ډېـرو دې د شـعر ښـاپېرۍ الـوتې وي او پـه پـای کـې د نوښـتګر شـاعر نظیـف تکـل د لاشاعرانه بریو او بریاوو په هیله.

**مأخذونه:**


۱- ډاکټر مجاور احمد زیار، پښتو بدلمېچ، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنـه، پېښور، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۳۱٦- ۳۷٦ مخونه.
۲- عبدالرحمن پژواک، کلمه داره روپۍ، د لوړو زده کړو وزارت، کابـل، ۱۳٦۲ لمریز کال، ۱۳۱۸- ۱۳۳۷ مخونه.

۳- یار محمد یزال، دریڅی، بېنوا انټرنټي پاڼه، ۱۳۹۰ لمریز کال.

۴- ډاکټر مجاور احمد زیار، نوې پېړۍ او نـوې زرۍ، دانـش خپرندویـه ټولنـه، پېښور، ۲۰۰۰ زېږدیز کال.

۵- پښتون آقا شېرزاد، ادبي ځېلونه،؟، خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۷۴ لمریز کال.

څېړنوال محمد اصف احمدزی

# «مناقب غوث الاعظم» او «التحفة القادرية» يو اثر دی

## لنډيز:

د نولسمې ميلادي پېړۍ اړوند يو تصوفي شخصيت او ليکوال د همدې پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې يوه عرفاني شعري ټولګه کښلې ده. دا چې وروسته د دې مجموعې څو نسخې پيدا شوي، نو د فرهنګ او ادب مينه والو او څېړونکو يې په دوو بېلا بېلو وختونو کې چاپ کړي او هرې يوې ته يې ځانګړی نوم ورکړی دی. دا ليکنه په همدې محور راڅرخي او په کې جوته شوې چې دا دوه نه، بلکې يو اثر دی.

## سريزه:

د رسنيو له لارې مې واورېدل او وليدل، چې په پښتو ژبه د «التحفة القادرية» په نوم پخوانۍ شعري ټولګه په دې وروستيو کې موندل شوې او تازه چاپ او خپره شوې. تردې خبر خپرېدو وروسته د دې کتاب د پيدا کولو او مطالعه کولو په هڅه کې شوم. کتاب مې وموند او ځينې مطالب مې يې هم ولوستل. په همدې فکر کې شوم چې د دې نوي چاپ شوي کتاب په اړه څېړنه وکړم. د څېړنې په اوږدو کې راته اړينه وبرېښېده چې د ليکوال په اړه يې معلومات ترلاسه کړم، په همدې هڅو کې وم، چې د نوموړي له يو بل اثر «مناقب غوث الاعظم» څخه هم خبر شوم. دا اثر مې هم ترلاسه کړ او کله مې چې يې پاڼې واړولې را واړولې، نو شک راته پيدا شو چې د

دي كتاب مطالب او اشعار خو كښې مښې، لکه د «التحفة القادرية» په ځېر دي، کله چې يې په مطالعې کې نور هم مخ ته لاړم، راته جوته شوه، چې دا دواړه کتابونه (مناقب غوث الاعظم او تحفة القادرية) د يوه ليکوال دي، خو په دوو بېلابېلو نومونو سره ضبط شوي دي.

البته د يادولو ده چې دا يوه پخوانی او ارزښتناکه شعري ټولګه ده، چې د قادريې طريقې او د دې طريقې د پير حضرت عبدالقادر ګيلاني د مناقبو او صفاتو په اړه ليکل شوې ده.

## د دې څېړنې اهميت او مبرميت:

دا چې د يوه اثر بېلابېلې نسخې په مختلفو ځايونو کې موندل کېږي او بيا د فرهنګ او ادب مينه وال هغه چاپوي. نو کله کله داسې هم کېږي چې په ناپامۍ يو اثر په دوو نومونو چاپېږي. همدغسې کار د نولسمې پېړۍ د يوه ليکوال په اثر هم شوی دی. يو ځل دا کتاب د (مناقب غوث الاعظم) او څه باندې شل کاله وروسته، همدا کتاب په يوه بل نوم (التحفة القادرية) هم چاپ شوی دی. دا څېړنه په همدې محور راڅرخي، چې دا دوه نه، بلکې يو اثر دی چې همدغه د دې څېړنې اهميت او مبرميت تشکيلوي.

## د څېړنې موخې:

د هغه ناسم پوهاوي او سوء تفاهم له منځه وړل دي چې فکر کېده، د «التحفة القادرية» په نوم يو لرغونی اثر ترکيې هېواد يو عالم او ديپلومات سينان الحان د لومړي ځل لپاره پيدا کړی دی. اصلي موضوع دا ده چې همدا اثر تردې څو لسيزې وړاندې موجود و، خو په بل نامه.

## د څېړنې پوښتنې:

ابن منير څوک و؟

مناقب غوث الاعظم او التحفة القادرية يو اثر دی که دوه؟

## د څېړنې روش:

دا مقاله د تشريحي - تحليلي او مقايسوي ميتودونو پربنسټ مخ ته تللې ده.

**د مقالې متن:**

دلته لومړی د دې کتاب د لیکوال، د کتاب د لیکلو پر نېټې، منځپانګې، د دواړو نسخو د لنډې پېژندنې او بیا پرتلنې په اړه ځینې مطالب له لوستونکو سره شریکوم.

اړینه ده ووایم، په دې مقاله کې چې د (التحفة القادریة) د نسخې له متنه له کومو بیتونو استفاده شوې، یواځې د یاګانو له مراعتولو پرته، نوره املا او لیکدود یې، ما په خپل حال پرېښې، ترڅو یې لوستونکی د اثر په لیکدود هم پوه شي.

**د کتاب لیکوال:**

د التحفة القادریة اثر د لیکوال نوم د کتاب په پښتي او لومړي مخ کې (ابن منیر) راغلی دی، خو د کتاب په متن کې، دی خپل ځان (رکن الدین ابن منیر) راپېژني، لکه چې وایي:

که دنیا ده که مې دین دی
بس څما شاه محی الدین دی
رکن الدین ابن منیر یم
زه ستا سپی حلقه پزیر یم (۱)

بیا زیاتوي:

دلبسته پلمن ستا یم
یم ستا یم تا به ستایم
پتا فخر و تقدیر دی
چور پتا ابن منیر دی
چه اباد دِ له تالاش تمام دین شه
قافیه د محی الدین رکن الدین شه (۲)

نوموړی د خپل نسب او ځای ځایګي په اړه وایي:

په نسب که دویزی یا مهمندی یم
حسباً ستا د کوځې سپی د در بندي یم
پیوسته پتا دلشاد یم
پېښوری پروت په بغداد یم (۳)

د رکن الدین پلار حافظ محمد منیر نومېده، لکه چې وایي:

پلار څما حافظ منیر دی
پهرغم څما زهیر دی (۴)

دی زیاتوي، چې پلار یې مدرسه هم درلوده او په دې بیتونو کې یې ورته اشاره کړې ده:

تر قیامت ی مدرسه شه
هر کلام ی رباني شه
چه پاک نوم ی قرآني شه
هر کلام ی رباني شه
مدرسه ی باقي ووسه
سلسله ی جاري ووسه
شاگردان ی نافع ووسه
په جهان کښ شائیع ووسه (۵)

ابن منیر خپل ځان د عبدالقادر جیلاني پیرو گڼي او وایي:

ته څما قاض القضات یې
مفتح د مغلقات ئې (٦)
په ځان شیرین مشرب یې
د احمد حنبل مذهب ئې
ته په ځان عالیجناب ئې
ته په ځان قطب الاقطاب ئې (۷)

بیا زیاتوي:

شکر دا چه نه مهمند نه دویزی شوم
له اخلاصه دل بسته د در سپی شوم
خیال مې نشته که پاصل عمرزی یم
یا زویی د فلانی د چا نویسی یم (۸)

دی آن تر دې کچې د خپل پیر او د هغه طریقې ته مخلص دی، چې ځان د خپل پیر او مرشد سپی گڼي، دی وایي:

ما ثابت د عشق پراه کړه
ستا سګان څما همراه کړه
ستا پلار کښ چه سپي توب دی
څما عین سړي توب دی
یو ځل توه راته ووایه
ما د سپو حلقي له بیایه (۹)

له دې بیتونو څخه جوتېږي، چې د "تحفة القادریة" اثر د لیکوال نوم (رکن الدین) دی او لقب یې (ابن منیر) دی، د پلار نوم یې (حافظ محمد منیر) دی، چې یوه مدرسه یې هم لرله. نوموړی خپل ځان د عبدالقادر جیلاني د قادریې طریقې پیرو بولي. د پښتونخوا د پېښور اوسېدونکی دی.

د نسب شجره یې په اته ویشتم پښت کې حضرت علي (کرم الله وجهه) ته رسېږي.

په «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» اثر کې زلمی هېوادمل لیکي: رکن الدین بن حافظ منیر د پېښور په هزارخانې کې اوسېده، د لوی احمدشاه بابا (۱۱۳۵هـ ق-۱۱۸٦هـ ق / ۱۷۲۲م-۱۷۷۲م) د زمانې له مشهورو صوفیانو او ادبي اشخاصو څخه و.(۱۰)

د «مناقب غوث الاعظم» د اثر مهتمم احسان الله خان دانش لیکي، چې د رکن الدین د ژوند دور د ۱۷۳۰م او ۱۸۰۰م په ابتدایي عشرو کې یقیني ښکاري، خو دی زیاتوي چې د ۱۷۳۰ عشره یې د زېږېدو زیات محتاط تاریخ دی او د وفات کلونه یې د نولسمې پېړۍ له ړومبۍ عشرې نه اوړي او په دوهمه کې داخلېږي. مزار یې د موسی زي په کلي کې دی. هغه چې په رکن عالم او فاضل میا صاحب هم مشهور و، موسی زی او د پېښور د هزار خوانې ضلعې اوسېدونکی و.

ده قرآن کریم حفظ کړی، د قادریې طریقې پیرو و او د دې سلسلې د دوهم سجاده نشین حضرت سید غلام قادرشاه څخه یې لاسنیوی کړی دی.

ابن منیر پر «مناقب غوث الاعظم» یا «التحفة القادریة» سربېره د (حفظ الاداب) او (قانون) په نومونو د آثار خاوند هم دی. (قانون) کتاب یې د تجوید په اړه دی. لیکوال یې په اړه وایي:

اوس غلام ولایت ابن منیرد قلم پژبه کار دارند تحریر

چې ما ښکلی په پښتو څو قواعد وو

پکښ نغښتي له قران فوائيد وو

.....

القصه زه مولانا شاه شرف جي

شوو یو ځای چرته ناکاه ملاقي

ما دا عرض د فوائد ورته وکړ

مرحبای راته ووی زړه مې ښه کړ

له اخلاصه بې بارک الله فیک

راته لوسته پهر حرف پهره لیک

چه په ترتبیت ی د خدای شکر سپاس کړ

څما زړه ی لشکونه بی وسواس کړ

تسلی څما وکړه پد باب کښ

خدایه غرق لره د مینې پدریاب کښ (۱۱)

(حفظ الاداب) بیا په خپله د ابن منیر په قول، ۳۰۰۰ بیتونه لري.

د ابن منیر له آثارو ښکاري، چې دی په فارسي او عربي ژبو هم ښه پوهېده او همدا لامل دی، چې د خپلو کتابونو لپاره يې عربي نومونه کارولي دي.

د ده د کشر ورور نوم سید برهان الدین و، چې د احمدشاه ابدالي له طرفه د پېښور حاکم و.(۱۲)

د «مناقب غوث الاعظم» یا «التحفة القادرية» د ليکلو نېټه:

ابن منیر د احمدشاه بابا د واکمنۍ پرمهال ژوند کړی او په همدې موده کې يې دا اثر هم کښلی دی، ځکه يې د هغه په نوم (احمدشاه بابا) يو فصل هم ځانگړی کړی دی. دی وايي:

چې د د کتاب پښتو و ته ارضو شوه

بادشاهي شاید روزي د پښتنو شوه

خبر نی چه بل دور دویم طور شه

بادشاهي د پښتنو د کَنِ زور شه

بادشاهي د چارجوغه احمدشاه شوله
د ده مخ د کفر شا په تېښته شوله

بیا زیاتوي:

چه احمدبادشاه د دین وي
خود تازه به رکن الدین وي (۱۳)

د تېر کال (۱۳۹۵هـ ش) د تُرکیې د اناد‌ولو خبري اژانس د راپور له مخې، التحفة القادریه د ۱۷۲۲ او ۱۷۲۳ کلونو ترمنځ د افغان لیکوال ابن مُنیر له لوري په پښتو ژبه لیکل شوې او تُرک دیپلومات سینان ومونده.(۱۴)

د دې اثر د لیکلو پورتنی نېټه (۱۷۲۲ - ۱۷۲۳م) د تأمل وړ ښکاري، ځکه احمدشاه بابا په ۱۷۲۲م کال کې زېږېدلی او کله چې د تحفة القادریة اثر لولو، نو هلته د احمدشاه بابا د پاچاهي او د ده د سوبو او فتوحاتو په باب خبرې راغلې دي او په یوځای کې یې آن د دکن د جګړې یادونه هم کړې ده.

د څېړنوال حبیب الله رفیع په وینا، دا کتاب په ۱۱۷۳هـ ق (۱۷۵۹م) کال کښل شوی دی (۱۵). دا چې احمدشاه بابا واکمني له ۱۱٦۰هـ ش/ ۱۷۴۷م کال پیل او د ژوند تر وروستیو (۱۱۸٦هـ ق/ ۱۷۷۲م) پورې غځېدلې، نو رکن الدین ابن منیر هم په همدې وختونو کې خپل دا اثر بشپړ کړی دی.

دا خبره ځکه دقیقه ده، چې د مناقب غوث الاعظم اثر په لومړي مخ کې هم د دې اثر د لیکلو نېټه داسې ښودل شوې ده: (۱۱۷۳هـ ق یا ۱۷۵۹-٦۰م کال)

**د اثر منځپانګه:**

دا کتاب له یوې خوا د پښتو ادب په پراخه ورشو کې یوه بله زیاتونه ده او له بلې خوا، د پښتو عرفاني او تصوفي ادبیاتو په برخه کې ستره لاسته راوړنه ده. دا چې د دې کتاب منځپانګه څه ده، په لاندې کرښو کې ورته ځغلنده کتنه کوو.

د کتاب زیاتره او یا کابو ټوله محتوا د قادرېې طریقې او سید عبدالقادر جیلاني د مناقبو بیانولو ته ځانګړې شوې ده، خو د کتاب په لومړیو کې د الله تعالی، رسول الله (ص)، خلفاء راشدینو، څلورو امامانو... په اړه څرګندونې هم راغلې دي.

عبدالقادر جیلاني د قادریې تصوفي لړۍ بنسټګر دی، چې په ۴۷۱- ۵۶۱هـ ق / ۱۰۷۷ – ۱۱۶۶م کال د عراق په جیلاني (د طبرستان شاته) سیمه کې زېږېدلی او بیا وروسته په ځوانۍ کې بغداد ته تللی او هلته له علماوو او صوفیانو سره یوځای شوی او زده کړې یې کړې دي. نوموړی همدلته په بغداد کې مړ او خښ شوی دی. د ده لقب (محی الدین) دی چې په همدې کتاب کې ترې په همدې نوم ډېره یادونه راغلې او کنیه یې ابومحمد دی. دی ځینې لیکلي آثار هم لري. قادریه طریقه چې د (عبدالقادر) په نوم پورې منسوب ده، په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د هند په نیمه وچه کې ځای پر ځای شوې او ګڼ شمېر پښتانه قبایل یې د خپل مقبولیت له مخې ځان ته جذب کړل. په افغانستان کې د قادریې طریقې یوه مهمه کورنۍ چې تراوسه د دې طریقې مشري کوي، د ارواښاد پیر سید احمد ګیلاني کورنۍ ده، چې پلار یې ارواښاد نقیب صاحب د مشرۍ پر مسند تکیه لګولې وه او تر نن ورځې پورې هماغه لړۍ روانه ده. په (التحفة القادریة) اثر کې د عبدالقادر جیلاني نوم ډېر ځله راغلی او د هغه د شخصیت او طریقې ستاینه په کې ډېره شوې ده.

د التحفة القادریة اثر له سریزې وروسته د (یا فتاح) په کلمې پیل شوی او ورپسې د (بسم الله الرحمن الرحیم) له راوړو وروسته، شل بیتیز عربي شعر راغلی دی. د دې بیتونو پیل او پای داسې دی:

یا من کل في نعت ذاتک الالسن
یا من حر بنور وجهک الاعین
اجذبني بجذباتک جازبته صفات الحدثان
و شاهدني مشاهدات انوارک الحارة لسمات الامکان

........

سیما شیخي شیخ مشائخ العالمین
سید عبدالقادر الامین لي حبل المتین
سلطان العارفین المکملین في العرفان
بحر مواج للمریدین السارین منه الفیضان
غناء للطالبین السالکین المفتقرین الیه

لي عروة الوثقی بعد الوفا ارجو الیه
بحرمت النبي و آله و خلفاء الراشدین

په دې بیتونو کې لومړی د حمد په بڼه د الله تعالی لویي بیان شوې او لـه هغـه څخه د دعا غوښتنه شوې ده، ورپسې د رسول الله (ص) سـتاینه شـوې او درود پـرې ویل شوی او په وروستیو بیتونو کې د شیخ عبـدالقادر مناقـب او صـفات بیـان شـوي دي.

پــه دې بیتونــو کــې، ځینــې املایــې تېروتنــې شــوې دي، لکــه: (جازبتــه، المتسغرقین)، چې اصلي بڼه به یې (جاذبته، المستغرقین) وي.

په دې عربي شعر پسې متصل، په دري ژبه یو شعر راغلی چې عنـوان یـې دی: (زدنا ارادة سلطاننا غوث محی الدین) او معنا یـې ده: (زمـوږ د سـلطان غـوث محـی الدین اراده زیاته کړې)، خو د یادولو ده، چـې دلتـه غلطـي شـوې او دا عبـارت بایـد عنوان نه وای، ځکه دا له دې مخکې د عربي شعر اخري نیم بیت دی. پـه دې (۵۴) بیتیز دري شعر کې اته بیتونه په عربي ژبه هم راغلي دي.

په دې بیتونو کې د (گ) په ځای تول (ک) لیکل شوی، لکـه: (کـدای، کـویم، کنج، کایم، ناکه، اکر، سک، کفته، کرچه، بنکر) چې پـه اصـل کـې (گـدای، گـویم، گنج، گایم، ناگه، اگر، سگ، گفته، گرچه، بنگر) دي.

دغه راز د (تو) اشاروي ضمیر له مخکینۍ کلمې سره نښتی لیکل شوی، لکه: (ابتدائیتو، ثنائیتو، برائیتو، سرائیتو، لوائیتو.....)

تردې وروسته د کتاب پښتو متن له (۱۱) مخ پیل او د کتاب تـر اخـري (۷۱٦) مخ پوري غځېدلی دی. د کتـاب پـه وروسـتیو مخونـو کـې د تحفـة القادریـة د اثـر د اصلي نسخې څو عکسونه راوړل شوي دي.

دا کتاب په ۱۲ بابونو وېشل شوی او د هر بـاب نـوم پـه عـربي ژبـه راغلـی دی، چې هر باب بیا په فصلونو وېشل شوی دی.

لومړی باب د حمد او ثنـا پـه اړه دی، چـې سرلیـک یـې دی: (البـاب الاول في الحمد و الثناء).

دوهم باب نعت دی، چې سرلیک یې دی: (الباب الثاني في نعت رسول صلى الله علیه وسلم). په دې باب کې د رسول الله په ستاینه او نمانځنه کې شعرونه راغلي دي.

دریم باب د خلفاء راشدینو د مناقبو (ستاینې) په اړه دی، چې لیکل شوي دي: (الباب الثالث في مناقب خلفاء الراشدین). بیا همدا باب په لسو فصلونو وېشل شوی دی، چې د څلورو خلفاوو، اهل بیت او د خپل پیر ستاینې په کې شوې دي.

په دې پسې د دې کتاب د لیکلو د لامل په اړه بیتونه راغلي، چې په عربي ژبه سرلیک یې دی: (فی باعث تکلیف الکتب). ورپسې یو بل عنوان په نامه (انتقال بمدح مالک رقاب خلق الله احمدشاه) کې راغلی، چې د احمدشاه بابا په ستاینه او د هغه د فتوحاتو په اړه په کې څرګندونې راغلي، لکه چې وایي:

پدکن ی لګولی شور ماشور دی
احمدشازی نیولی د دین زور دی
بل له لاسه ی د دین پفکر اور شه
پدِ اور جمعیت د کفر خور شه

بیا زیاتوي:

الغرض که څموږ قدر څه د آه وي
ننکیالي بادشاه د دین د احمدشاه وي
څمونږ آه د شین لوګي وي پاس پرې چتر
سایه بان دِ وي له هره بلا ستر (۱٦)

د کتاب له ۱۰٦- ۱۱۷ مخونو کې د (مقدمة الکتاب) په نوم په دري ژبه په نثر لیکنه راغلې، چې دیني او تصوفي مسایل په کې بیان شوي دي. خو په خپله د کتاب په اړه په کې څه نه لیدل کېږي.

څلورم باب د هغه په غاړه د نبي کریم (ص) د پښې اېښودلو په اړه دی: (الباب الرابع في وضع النبي قدمه على رقبته).

تر یادو ستاینو او منقبتونو وروسته، د خپل پیر او مرشد په اړه څرګندونې لري، لکه چې وایي:

ما مضی تراوسه تش د کتاب ساخت دی
پس لد واوره په عین مطالب مې یاخت دی
جواهر کښ ښکلي دینه
چه خود پیر ویلي دینه
چې مې جد په پورته تنه
تر سدری ورسیدنه (۱۷)

دا باب بیا په ۷ سندونو وېشل شوی دی.

په منځ کې یې ګڼ شمېر یو ځایي عربي بیتونه هم راغلي دي، بیا پـه دري ژبـه په نثر خبرې په کې راغلې دي.

پنځم باب د جیلان د پیدایښت په اړه خـبرې لـري: (البـاب الخـامس پـه تولـد شاهي کیلان). دا باب په منقبتونـو (سـتاینو) وېشـل شـوی او پـه ترتیـب لـه لـومړي منقبته تر اوم منقبته په کې د ګیلاني مناقب بیان شوي دي.

شپږم باب د هغه د شکل او صـورت پـه اړه دی: (البـاب السـادس في هیئتـه و صورته). دا باب هم مناقب لري، چې په څلورو منقبتونو وېشل شوی دی.

اووم باب د هغه د فاخرو جامو په اړه دی: (الباب السابع في البسـته الفـاخرة). دا باب هم له لومړي تر څلورم پورې منقبتونه لري.

اتم باب د هغه د ژوند په هکله دی: (الباب الثامن في معاشه). چې دا باب هم ۷ منقبتونه لري.

نهم باب د هغه (عبدالقادر جیلاني) د اخلاقـو، عـاداتو، ورکـړې او بلنـې پـه اړه دی: (البـاب التاسـع في خلقـه و عادتـه و اعطائیـه الجزیـل و د عوتـه). دا هـم ۵۱ مناقب لري.

لسم باب د هغه (شیخ جیلاني) د عبادت، سخت ریاضت، استقامت او لوړوالي په اړه دی. دا هم ۱۸ مناقب لري.

یوولسم باب د هغه د امامت په اړه دی. دا بیا په ۱۳ سندونو وېشل شوی دی.

دولسم باب د هغه ارادت او په مریدونو د شفقت په اړه دی. دا باب هـم پـه ۳۹ منقبتونو شامل دی.

رکن الدین ابن منیر د خپل کتاب د پای (خاتم الکتاب) په اړه وایي:

شکر فضل د ښه خدای شه
چه تمام عالم آرای شه
څه عجب تحفه کتاب دی
چه جامع د هر باب دی
پکښ جمع کارستان دی
دا کتاب عجب داستان دی
ښه صحي صادق اقوال دي
سر بسره د پیر احوال دي
.....
پظاهر دا حکایات دي
پمعنی کښ حدیثات دي
پظاهر د پیر صفت دی
پمعنی سنی سنت دي
ښه تحفه طرفه کتاب دی
سر بسر د پیر آداب دي (۱۸)

لیکوال د خپل کتاب د نیمګړتیاوو په اړه وایي:

که دې لفظ ته التفات وي
څه بیتونه کم و زیات وی
له الفاظو بې پروا وم
سر بسر پخیال شیدا وم (۱۹)

دا چې کتاب یې څنګه لیکلی، په اړه یې لیکوال د څـو کتـابونو د نومونـو (کنـز الحقایق، هجة الاسرار، مناقب غوث مشـهور، نفخـات د جـامي، مکتوبـات، لمعـات د شاه فاضل...) له راوړو وروسته وایي:

لدِ قسم کتابونه
اکثر ماته جمع وونه
دا مې ټول کړه سره جمع
ترې مې بله کړه دا شمع

دا کتاب ښه معنوي دی
په پښتو کښ مثنوي دی (۲۰)

د کتاب معترضینو ته وایي:

که یې په فهم نه ي باند
اعتراض مکړه راباندې
که له فهم ستا ورا وي
مکنړه چې به خطا وي (۲۱)

خو په اخر کې اعتراف کوي:

که سهوه که خطا ده
زه ناسي خاصه څما ده
قافیه چه د انسان وي
چرته چرته کښ نسیان وي
دا نه وایم چې بې باک یم
له جمله خلله پاک یم
ولې گوش که د بیان وي
له کاتب هم نسیان وي

....

که له ما چرته خطا وي
ناخطا علم دستا وي
اراسته یې پښه طور کړه
پاصلاح کښ ي ښه غور کړه (۲۲)

...

منظور ما کښ حضرت پیر کړه
درکذر څما تقصیر کړه
ما تقصیر و ته مکوره
د لوی پیر و مخ ته کوره (۲۳)

د کتاب پای په دې بیتونو کوي:

دامنگیر چې د لوی پیر یم
بې پروا ابن منیر یم
که په ما څوک شک کوینه
ځما څه شي جک وهینه
که اول که مې آخر دی
که باطن که مې ظاهر دی
پیر زما عبدالقادر دی
القادر عبدالقادر دی
د علمانُ چې اجلاس وي
دا کتاب به یې په لاس وي
دا کتاب به یې په کار وي
هر چې  بوی په کې د ناس وي
روګردان به ځنې نه وي
مګر هغه چې خناس وي (۲۴)

«مناقب غوث الاعظم»:



دا اثر په ۱۹۹۳م کې په پېښور کې د احسان الله خان دانش په پیش لفظ (اهتمام) په (۴۶۵ + ۱۸) مخونو کې د محکمه ثقافت حکومت صوبه سرحد له خوا په جدون پریس کې چاپ شوی دی. د اثر په ۳- ۱۰۰ مخونو کې د کتاب او د هغه لیکوال په اړه د یوې اردو لیکنې په شمول، څو بېلابېلې ضمیمې راغلې دي. په لومړي مخ کې د کتاب د لیکلو نېټه داسې لیکل شوې ده: (تحریر شده ۱۱۷۳هجري بمطابق ۱۷۵۹-۶۰ عیسوي). د لیکوال نوم یې داسې یاد کړی دی: (حضرت مولانا میا سید رکن الدین قادري فاضلي الملقب په رکن عالم و المشهور په فاضل میا صیب رحمة الله علیه و علی آبائه الکریم). ورپسې د کتاب مختصر- فهرست راغلی دی.

په دې کتاب کې لومړی (تعارف به زبان اردو)، بیا (پیش لفظ مع ضمیمه جات. به زبان پشتو)، ورپسې (مناقب غوث الاعظم «پشتو مثنوي» از حضرت مولانا سید رکن الدین قادري فاضلي علیه الرحمة والرضوان)، بیا (مقدمة الکتاب «به زبان فارسی نثر» از مصنف علیه الرحمة) او په اخر کې (تعارف به زبان انگریزي) راغلی دی.

**التحفة القادرية:**




دا اثر بیا ۷۲۲ مخونه لري، د هر مخ تقطیع یې (۱۸ * ۲۲،۵) سانتي متره ده او هر مخ یې ۱۱ بیتونه لري، د صفحې چوکاټ په ښکلې میناتورۍ سره په رنګه بڼه

راغلی دی. د هرې صفحې په اخر کې د ورپسې صفحې يوه يا دوه کلمې راغلې دي. په درې ژبو (پښتو، ترکي، انګليسي) تر يو- يو مخيزې سريزې وروسته د کتاب اصلي متن پيل شوی دی.

ليکوال او شاعر عبدالله پيکار په يوه مقاله ليکلي، د دې منظوم اثر ټول بيتونه (۷۸۷۰) ته رسېږي. د شکل او ژبني جوړښت په لحاظ د التحفة القادريه شعري ټولګه د هماغې زمانې (۱۷۷۲-۱۷۲۲م) ټولې ځانګړنې لري، د دې کتاب قلمي نسخه د احمدشاه ابدالي د زمانې د خطاطۍ د هنر يوه ښکلې او ژوندۍ نمونه هم ګڼل کېدلی شي.(۲۵)

د دې کتاب يوه نسخه په ايرلنډ هېواد کې موجوده وه او په کابل کې د ترکيې د سفارت مستشار ډاکټر سنان ايلخان په زيار په ايرلنډ کې موندل شوې ده. دا چې نوموړي په کابل کې د ترکيې په سفارت کې د مستشار په توګه کار کاوه، د کتاب ژبه يې پېژندلې وه. دا اثر د ۱۳۹۵هـ ش کال په نيمايي شاوخوا په کابل کې د ترکيې د پراختيايي اداري «ټيکا»(TIKA) له خوا په ۲۰۰۰ ټوکونو کې په هلپ سټيډ مارکيټينګ مطبعې کې په ښکلي صحافت او مجلده پښتۍ کې د چاپ په ګاڼه پسولل شوی دی.

دا چې دا کتاب څنګه پيدا شوی دی؟ دې پوښتنې ته ډاکټر ايلخان داسې ځواب ورکړی دی: "کله چې زه په ۲۰۱۴م کال کې د ډبلين چسټربيټي په کتابتون کې په دې لټه کې شوم، چې ايا په نوموړي کتابتون کې به د عثمانيانو د وخت د اسلام په اړه، په کردي ژبه کوم ليکل شوی اثر وي او که نه؟ په اتفاقي ډول سره مې په ځواب کې د کردي ژبې پر ځای د پښتو ژبې (التحفة القادرية) ترلاسه کړه. له سلو کالو راهيسې په نوموړي کتابتون کې د ختيځ ليکنو او تصانيفو لپاره په کتابتون کې ګومارل شويو کارپوهانو پر پښتو ژبه د ناپوهۍ له امله د تخمين په څېر دغه اثر يې په نوموړي کتابتون کې د کردي ژبې په نامه ثبت کړی و."

دی زياتوي، د پښتو ژبې په څېړنو کې د يوه نوي پړاو پرانيستونکي دغه بې سارې ليکنه، د نوموړي کتابتون په اجازې سره د ټرانسکرپټ په توګه د سپېڅلي پير د روحانيت په احترام، افغان ولس او د څېړونکو خدمت ته وړاندې کوي.

د هغه په وینا، دغه لیکنه د پښتو ژبې د کلتورد تاریخ په اوږدو کې تر ننه پورې د تصوف او عرفان په ډګر کې د یوه پله حیثیت لري، چې د عرفان او تصوف تاریخي پړاو له نن ورځې سره نښلوي او دا چې په پښتو ژبه کې عرفان او تصوف تلپاتې ریښې لري، دا کتاب په دې باب کې ځانګړی مقام لري.(۲٦)

## د دې کتاب لیکدود او ځانګړنې:

دا شعري ټولګه د پښتو په اوسني عربي لیکدود لیکل شوې ده، خو لیکوال یې د ځینو تورو او کلمو په لیکلو کې خپل ځانګړی سبک لري، چې ځو یې په لاندې ډول دي:

۱- په زیاترو ځایونو کې (ګ) په (کاف) لیکل شوی دی.

۲- (ڼ) په (نړ) لیکل شوی، لکه:

هم اعداد اضداد چه دینه
عین ی مکنړه غیر دینه (۲۷)

۳- (کې) زیاتره په (کښ) بڼه لیکل شوی دی، لکه:

پظاهر دا حکایات دي
پمعنی کښې حدیثات دي (۲۸)

یا دا چې:

دا کتاب ښه معنوي دی
په پښتو کښې مثنوي دی (۲۹)

۴- د (یې) ضمیر لپاره زیاتره (ی) راغلې ده، لکه:

تر قیامت ی مدرسه شه
هر کلام ی رباني شه
پاک نوم ی قرآني شه
هر کلام ی رباني شه (۳۰)

۵- په اثر کې (ځ) توری نه لیدل کېږي، بلکې په ځای یې (څ) راغلی دی، لکه:

هر یو نه غړوم غاړه
په خپل څای کنړم دوست واړه (۳۱)

٦- زیاتره سربلونه له ورپسې کلمې سره ډېرې وخت یوځای راغلي دي، لکه: لکیف (له کیف)، پکیف (په کیف). دا پورته ځانګړتیاوې په لاندې بیتونه کې وګورئ:

رنګارنګ ده بې رنګ
خلقه کړه رنګ پرنګ
بې له کیف په څه کیف
خلقه کړه کیف در کیف
عزوجل دی لا اله الا هو
نشته ځای د سوال پکیف پماهو (۳۲)

یا دا چې:

محکم ستا پاعتقاد یم
ناست و ستا پاعتماد یم (۳۳)
چې داغ ستا پغلا مې شه
پدیر حسن بې ثاني شه (۳۴)
زړه سوخته هم ستا پخیال یم
پملاخم لکه هلال یم (۳۵)

٧- یا دا چې (کا) له مخکینۍ کلمې سره یوځای شوی دی، لکه:

خدای بې عفوه هر عصیانکا
سود یې زیان د هر نقصان کا (۳٦)

٨- په بیتونو کې په ځینو آیتونو، حدیثونو او عربي مقولو استناد شوی دی، لکه:

کل شئ هالک الا وجهه
بې لتا بل وجود نه لري شمه
لمن الملک یوم الیوم دی
واړه ستا د وجود روم دی (۳۷)

٩- زیاتره راغلي آیتونه او عربي اصطلاحات او یا د الله تعالی نومونو ته سور رنګ ورکړل شوی، چې د کتاب په اصلي نسخه کې همداسې دي.

۱۰- نامانوسي کلمې هم لري، لکه: پارضو (۲٦مخ)، فافسوز (۲۰مخ)، سبطين (۵۰مخ).

۱۱- د کلمو ناسم ليکلو او د متنپوهنې د اصولو نه مراعت کولو له امله، د شعرونو لوستل يې لوستونکی ته‌کنی کوي او د مطالعې تسلسل ته يې زيان اړوي. بله دا چې په پښتو کې د (ياگانو) ناسم استعمال هم جملې له ستونزو سره مخامخ کوي، چې دا ستونزه په دې اثر کې موجوده ده.

۱۲- بيتونه له اصل څخه، لکه څنګه چې دي، رانقل شوي، خو کله کله يې په رانقلولو کې ډېره توجه نه ده شوې، لکه:

دی لايق که مصنف شم

که لتا خوا <u>نالف</u> شم (۳۸)

په اصل کې دا بيت داسې دی:

دی لايق که مصنف شم

که لتا خوانا <u>الف</u> شم (۳۹)

که څېرې د دې کتاب د ليکلو زمانې، ځينو نورو آثارو ته مراجعه وکړو، نو هلته هم د پورتنيو مواردو ليکدود ليدل کېږي؛ مثلاً: د حافظ مرغزي په اثر (احمدشاهي شهنامه) کې پورتنی ليکدود، خاصتاً له (۱-۴) شمېرې ليکدود مراعات شوی دی. هلته هم (گ) په (ک)، (ڼ) په (نړ)، (کښې) په (کښ) او د (يې) ضمير په (ې) ليکل شوی دی. په (احمدشاهي شهنامه) بيا (ښ) په (ش)، (ړ) په (ک)، (ځ) په (ز) کښل شوی دی.(۴۰)

په هر صورت، (التحفة القادرية) اثر د پښتو ادب او په ځانګړي ډول د پښتو عرفاني او تصوفي آثارو په برخه کې يو غنيمت اثر دی، چې په دوهم ځل چاپېدو سره يې د تصوفي ادب او خاصتاً د قادريې طريقې په اړه ډېر څه لري، خو ای کاش چې دا اثر د متنپوهنې له اصولو سره برابر چاپ شوی وای. په لومړي سر کې وربانديې د کتاب په اړه يوه هراړخيزه سريزه کښل شوې وای، چې په کې د اثر د ليکوال، د اثر په املا او همدارنګه ژبنيو خصوصياتو باندې خبرې شوې وای، بيا د کتاب متن له اصولو سره برابر تصحيح شوی وای، اصل يې په لاندې لمنليکونو او

تصحیح شوې بڼه یې په متن کې ځای په ځای شوې وای، فهرست ورکړل شوی وای او په پای کې یې لغتنامه لرلای.

استاد زلمی هېوادمل لیکي، د متن رسم الخط باید د مؤلف له کښلې نسخې سره سم راوړل شي، خو دا چې عربي رسم الخط له بېلابېلو دورو څخه تېر شوی دی او تغییرات یې منلي دي، نو بویه چې د متن د سمون او نقل پرمهال د مودجوده املا خیال وساتل شي (۴۱). نو په دې اثر کې هم باید همدا اصل مراعت شوی وای.

د یادولو ده، چې په (گنجینه باز نسخه های خطی اسلامی و ایرانی) وېبپاڼه کې راغلي، چې د (تحفة القادرية) په نوم په فارسي ژبه اثر شته، چې مؤلف یې محمد صادق الشهابي السعدي دی او موضوعات یې فلسفه، روان شناسي، دین، اسلام، تصوف او عرفان دی.(۴۲)

دغه راز د قادريې طريقې عارف ابو المعالي لاهوري (۹۶۰-۱۰۲۴ق/۱۵۵۳-۱۶۱۵م) په فارسي ژبه د "تحفة القادرية" په نوم یو اثر لري، چې د شیخ عبدالقادر جیلاني د کراماتو او مناقبو په اړه دی او د پاکستان په سیالکوټ کې په ۱۳۱۰هـ ق چاپ شوی او په اردو ژبه هم ترجمه شوی دی.(۴۳)

دا چې قادریه طریقه د تصوف او عرفان یوه ډېره پراخه او مشهوره طریقه ده، نو پیروانو یې په بېلا بېلو وختونو کې خپل پیر او مرشد ته د خلوص لرلو او همدارنگه خپلې طریقې ته د خدمت کولو او نورو ته د خپل پیغام رسولو له لارې د قادريې طریقې په اړه لیکنې کړي او آثار ترې پاتې دي. نو که په فارسي او عربي ژبو کې په دې اړه آثار شته، پښتو ژبه هم په دې کار کې له چا کمه نه ده پاتې شوې، چې ښه بېلگه یې د پښتون لیکوال رکن الدین ابن منیر له خوا یاد لیکل شوی اثر دی.

په «التحفة القادرية» کې د دې اثر د نوم په اړه څه شی نشته، خو د لیکوال یو څو بیتونه داسې هم په کې راغلي دي:

ما څه پوچه ندي ویلي  
نه مې دي له ځانه ښکلي  
پهر ځای کښ صحي نقل  
زه لرم د صحیح اصل

منقول عنه چه مشهور دي
ځای په ځای پکښ مذکور دي
پدباب کښ چه نادر دي
اکثر تحفة القادر دي (۴۴)

یا دا چې:

شکر فضل د ښه خدای شه
تمام عالم آرای شه
څه عجب تحفه کتاب دی
چه جامع د هر باب دی
.....
ښه تحفه طرفه کتاب دی
سر بسر د پیر آداب دي (۴۵)

**د یادو شوو دواړو نسخو پرتلنه:**

کله چې مې د رکن الدین ابن منیر دا دواړه نسخې سره مقایسه کړې، نو ټول هغه څه چې په یوه کې دي، په بل کې هم شته، پرته له ډېرو کمو بدلونونو، کمونو او زیاتونو او هغه هم په دې ډول:

– په لومړي اثر (مناقب غوث الاعظم) کې د کتاب د لیکلو نېټه او د لیکوال بشپړ نوم راغلی، خو په (تحفة القادرية) کې دا کار نه دی شوی.

– په لومړي اثر کې د کتاب او لیکوال په اړه په بېلابېلو راغلو ضمیمو کې کافي معلومات شته او هم ورباندې مهتمم یوه نسبتاً جامع لیکنه کړې ده، خو په دوهم کې یواځې په یوه مخ کې ښاغلي سنان ډېر کم څه لیکلي دي.

– د دواړو نسخو د منځپانګې مقایسه:

- د (تحفة القادرية) د عربي شعر بیتونو کې راغلي:

اجذبني بجذباتک جازبته صفات الحدثان
و شاهدني مشاهدات انوارک الحارة لسمات الامکان

خو په (مناقب غوث الاعظم) کې بیا دا بیت د ځینو کلمو په تبدیل او حذف سره داسې راغلی دی:

اجذبني بجذباتک الجاذبة لصفات الحدثان
و شاهدني مشاهدات اللوارک الحارة الامکان

یا دا چې، په (تحفة القادرية) کې راغلي:

یا من لي في حفظک قسط حظ الامان
احفظني عن اللغو و السهو والنسیان

خو په (مناقب غوث الاعظم) کې بیا د (قسط) کلمه (قط) راغلې ده:

یا من لي في حفظک قط حظ الامان
احفظني عن اللغو و السهو والنسیان

همدارنګه، په (تحفة القادرية) کې راغلي:

یا من بجنابک قدسک لانیق
افعل بنا ما کفت له تلیق

خو په (مناقب غوث الاعظم) کې بیا داسې راغلی دی:

یا من بجناب قدسک لایلیق
افعل بنا کنت له تلیق

- د دري ژبې د شعر پرتلنه:

په (تحفة القادرية) کې راغلي:

بنمای جمال پشانم یا رب جل شانه
بردار حجاب این دانم یا رب جل شانه
در اتشی نیستی چنانم سوزان
تا جمله تو مانی و نمانم یارب جل شانه

خو په (مناقب غوث الاعظم) کې بیا داسې راغلي دي:

بنمای جمال بی نشانم یا رب
بردار حجاب این وآنم یا رب
در اتشی نیستی جانم سوزان
با جمله تو مانی و نمانم یارب

په دې دري شعر کې په (مناقب غوث الاعظم) کې د (ګ) توري مراعات شوی، په داسې حال کې چې په (تحفة القادرية) کې یې په ځای (ک) کنبل شوی

دی.

داسې ښکاري چې په (تحفة القادرية) کې چې کومې املايـي او يـا د ليکـدود ستونزې موجودې دي، هغه پـه دې بلـه نسـخه (مناقـب غـوث الاعظـم) کـې هـوارې شوې دي، د دې لپاره وګورئ د کتاب د پښتو شعرونو پيل ته:

بسم الله الرحمن الرحيم

الباب الاول في الحمد و الثناء

په بسم الرحمن پسې رحيم کړم

پيروي خطبي د قدس د کريم کرم

پنامه د غالب خدای قادر قيوم

پکاغذ ښکوم څرګند د زړه مکتوم

پست بلند دی که نور څه دی

تمام واړه هست له ده دی

لوی بی چونه بی څکون دی

تر ظاهر چون و چکون دی

رنکارنک ده بي رنک

خلقه کړه رنک پرنک

عزوجل دی لا اله الا هو

نشته څای د سوال پکيف پماهو

خو په (مناقب) کې دا بيتونه د ليکدود (اوسني) په لږ تغيير سره داسې راغـلي دي:

په نامه د غالب خدای قادر قيوم

په کاغذ ښکوم څرګند د زړه مکتوم

پست بلند دی که نور څه دی

تمام واړه هست له ده دی

لوی بيچون بيچګون دی

تر ظاهر چون و چګون دی

رنګارنګ دی بي رنګ

خلقه کړه رنګ په رنګ
عزوجل دی لا اله الا هو
نشته ځای د سوال په کيف په ماهو

د پورتنيو بيتونو په اړه بايد ووېل شي، چې په (تحفة القادرية) کې د (باب) نوم راغلی، خو په (مناقب) کې نه تر سترګو کېږي، همدارنګه په (تحفة) کې له (بسم الله) وروسته چې کوم بيت راغلی، هغه بيت په (مناقب) کې نشته.

له دې معلومېږي، چې (تحفة) نسخه ښايي له يوې نسخې او (مناقب غوث الاعظم) له بلې نسخې را نقل شوې وي. بله دا چې په (التحفة القادرية) کې چې کوم ليکدود کارول شوی، هغه په (مناقب غوث الاعظم) کې په اوسني ليکدود اوښتی دی.

- د کتاب دوهم باب عنوان په (التحفة القادرية) کې راغلی (الباب الثاني في نعت رسول صلى الله عليه وسلم)(۴٦)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې بيا هيڅ عنوان نشته او بيتونه مستقيم پيل شوي دي.(۴۷)

- په (التحفة القادرية) کې راغلي: (الباب الثالث في مناقب خلفاء الراشدين)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې د عنوان په اخر کې د (اجمالا) کلمه زياته شوې ده.

- (التحفة القادرية) اثر له (مناقب غوث الاعظم) نه بشپړ دی، ځکه په لومړي کې زيات بيتونه راغلي، خو په دوهم کې نشته، لکه دا چې: (په التحفة القادرية) کې له دې بيت وروسته:

چه احمدبادشاه د دين وي
خود تازه به رکن الدين وي

لس نور بيتونه راغلي او ورپسې د (مقدمة الکتاب) تر سرليک لاندې ۱۲ مخه په دري ژبه نثري ليکنه راغلې ده او بيا څلورم باب پيل شوی دی، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې تر ياد شوي بيت وروسته، څلورم باب شروع شوی دی.(۴۸)

- دغه ډول ستونزه د همدې باب په وروستۍ برخه کې هم شته، مطلب دا چې په (التحفة القادرية) کې له دې بيت وروسته:

سرتر پا چه دا بيان

د لوی پیر علو شان دی

په عربي ژبه څو بیتونه راغلي او ورپسې په دري ژبه یوه لیکنه راغلې ده (۴۹)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې دا بیتونه نه لیدل کېږي.(۵۰)

- په (التحفة القادریة) کې پنځم باب داسې راغلی: (الباب الخامس په تولد شاهي کیلان)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې راغلي: (الباب الخامس في تولده رضی الله عنه).(۵۱)

په دې باب کې په (التحفة القادریة) کې څنګزن عنوانونه په (المنقبة الثالثة، الرابعة....) یاد شوي، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې په (الحکایة الثالثة، الرابعة.....)

– په (التحفة القاردیة) کې راغلي: الباب السادس في هیئته و صورته)(۵۲)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې دا باب اتم نبودل شوی: (الباب الثامن في هیئته و صورته قدس سره).(۵۳)

د دې باب د منقبتونو عنوانونه په (مناقب غوث الاعظم) کې د (تحفة القادریة) په پرتله اوږده یا تفصیلي راغلي دي.

– په (التحفة القادریة) کې راغلي: (الباب السابع في البسته الفاخرة)(۵۴)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې دا باب نه، منقبت دی: (المنقبة في لباسه الفاخرة).(۵۵)

– په (التحفة القادریة) کې راغلي: (الباب الثامن في معاشه)(٥٦)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې دا باب شمېره نه لري او لیکل شوي: (الباب في مناقب معاشه).(۵۷)

– په (التحفة القادریة) کې راغلي: (الباب التاسع في خلقه و عادته و اعطائیه الجزیل و د عوته). په (مناقب غوث الاعظم) کې هم همدغه عنوان راغلی دی.(۵۸)

– په (التحفة القادریة) کې راغلي: (الباب العاشر في عبادته و ریاضاته الشاقة و استقامة و علوي)(۵۹)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې راغلي: (الباب العاشر في عباداته و ریاضاته الشاقة و استقامته و علو استعداده قدس سره)(٦٠

د دې باب مناقب په (مناقب غوث الاعظم) کې بشپړ او تفصيلي راغلي، خو (التحفة القادرية) کې يوائځې د منقبت شمېره ده.

– په (التحفة القادرية) کې راغلي: (الباب الحادي عشر في امامته)(٦١)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې راغلي: ((الباب الحادي عشر في امامته السند الاولى بشارت النبي).(٦٢)

– په (التحفة القادرية) کې راغلي: (الباب الثاني عشر في شرف ارادته و شفقته على المريدين)(٦٣)، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې راغلي: الباب الثاني عشر في شرف ارادته و شفقته على المريدين و نصرته بهم).(٦۴)

په (التحفة القادرية) اثر کې چې کومې نثري ليکنې د کتاب په منځ کې دي، په (مناقب غوث الاعظم) کې په وروستيو مخونو کې رانقل شوې دي او د کتاب مهتمم يادونه کړې، چې دا د کتاب په منځ کې وې، خو دوی اخر کې راوستې.

– د دواړو آثارو وروستي بيتونه يو شان نه دي، کله چې دا بيت:

پير ځما عبدالقادر دی

القادر عبدالقادر دی

په دواړو آثارو کې راغلی، نو په (التحفة القادرية) کې تر دې وروسته درې بيتونه راغلي او کتاب ختم شوی، خو په (مناقب غوث الاعظم) کې تر ياد شوي بيت وروسته، له پورته درېيو بيتونو پرته يواته بيتيز د (ربنا) په قافيې سره راغلی دی.

**يادښت:**




په "شاهنامه احمدشاه ابدالی" کې چې حافظ ليکلې او د مشتاق احمد مشتاق له خوا ترتيب او تدوين شوې او بيا د پښتو اکيډمې د پېښور يونيورستې له خوا په ١٩٦٥م کال په ٢١٦ مخونو کې په پېښور کې چاپ شوې ده، په دې اثر کې د (التحفة القادرية يا مناقب غوث الاعظم) د کتاب هغه برخه چې د احمدشاه ابدالي په ستاينه کې يې ويلې، رانقل شوې ده. د دې شهنامې په وروستيو مخونو (٢١١- ٢١٦) کې همدا ستاينه

اضافه شوي ده. دا چې ولې دا کار شوی، په دې اړه د پېښور یونیورسټي د پښتو اکېډمي د وخت (۱۹۶۵م) ډایرکټر مولانا عبدالقادر لیکي:

"موږ له سمدستي یو خیال دا راغی چې راشه د احمدشاه ابدالي د مناقبو د مصنف رکن الدین ابن منیر دا نظم په طور د ضمیمې شاهنامې سره یوځای کړه، نو یو خو دا نظم د مناقبو په ځای د شاهنامې سره زیات جوړېښت ولري او بله به یې دا فایده وي چې د مناقبو د منځ نه به راوویستی شي. د مناقبو په لړ کې دا نظم هېڅ کله نه شو ځلید.... او جوړ یې هم نه خوږ، نو ځکه لوستونکو ته په دې شکل کې وړاندې کېږي. "(۶۵)

**پایله:**

په دې څېړنه کې معلومه شوه چې (مناقب غوث الاعظم) او (التحفة القادریة) د مولانا رکن الدین یو اثر دی، نه دوه آثاره، خو بېلابېلې نسخې لري، چې یوه نسخه یې په پېښور کې پیدا او په ۱۹۹۳م کال په پېښور کې د احسان الله خان دانش له خوا چاپ شوې او بله نسخه یې په ایرلنډ کې موندل شوې او د ډاکټر سنان ایلخان له خوا په ۲۰۱۶م کال چاپ شوې ده. له همدې امله، د دواړو نسخونو د بابونو او څنگزنو عنوانونو او هم د بیتونو په شکلي برخه کې لږ لږ بدلون لیدل کېږي. بله دا چې، ویل کېږي د دې اثر یوه بله نسخه د بلوچستان په کوټه ښار کې له حمدالله صحاف سره هم شته.

د دې اثر منځپانگه د پښتو عرفاني ادب لپاره بډایه زېرمه ده، چې څېړونکو او د تصوف د لارې پیروانو لپاره گټورې او د کار خبرې لري.

وړاندیزونه:

۱) دا چې د کتاب لیکوال پېژندنه او معرفي ډېره عامه نه ده، نو وړاندیز کوم، چې د هغه د ژوند او آثارو په اړه د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا یوه علمي – تحقیقي پروژه ولیکل شي.

۲) که د مولانا رکن الدین پېژندنه په آریانا دایرة المعارف کې شامله شي، د هغه حق به ادا شوی وي.

## مأخذونه:


۱- التحفة القادرية، ابن منير، د چاپ زيار: ډاکټر سنان ايلخان، کابل، هلپ سټيډ مطبعه، ۱۳۹٦هـ ش کال، ۷۱ مخ.

۲- التحفة القادرية، ۷۵ مخ.

۳- التحفة القادرية، ۷٦ مخ.

۴- التحفة القادرية، ۸۳ مخ.

۵- التحفة القادرية، ۸۴ مخ.

٦- التحفة القادرية، ٦۳ مخ.

۷- التحفة القادرية، ٦۴ مخ.

۸- التحفة القادرية، ۵٦ مخ.

۹- التحفة القادرية، ٦۵ مخ.

۱۰- زلمی هېوادمل، فرهنگ زبان و ادبیاتو پښتو، لومړی ټوک، رياست تاليف و ترجمه وزارت تعليم و تربيه، کابل، ۱۳۵٦هـ ش کال، ۱۹۷ مخ.

۱۱- التحفة القادرية، ۸۵- ۸٦ مخونه.

۱۲- احسان الله خان دانش، د حضرت مولانا رکن الدين قادري فاضلي عليه الرحمة و الغفران د تاريخهائی پيدايش او وصال په حقله بحث (ضميمه ۱۳)، مناقب غوث الاعظم، مولانا سيد رکن الدين قادري فاضلي، مهتمم: احسان الله خان دانش قادري فاضلي، خپروونکی: محکمه ثقافت حکومت صوبه سرحد پشاور، پاکستان، بېلا بېل مخونه.

۱۳- التحفة القادرية، ۱۰۵ مخ.

۱۴- تاند وېبپاڼه http://www.taand.com/archives/۸٦۷۳۷

۱۵- د څېړنوال حبيب الله رفيع په حواله.

۱٦- التحفة القادرية، ۹۳- ۹۵ مخونه.

۱۷- التحفة القادرية، ۱۱۸ مخ.

۱۸- التحفة القادرية، ۷۰۸ مخ.

۱۹- التحفة القادرية، ۷۰۹ مخ.

۲۰- التحفة القادرية، ۷۱۲ مخ.

۲۱- التحفة القادرية، ۷۱۲ مخ.

۲۲- التحفة القادرية، ۷۱٤ مخ.

۲۳- التحفة القادرية، ۷۱۵ مخ.

۲۴- التحفة القادرية، ۷۱٦ مخ.

۲۵- عبدالله پیکار، د پښتو ژبې لرغونې شعري ټولگه التحفة القادريه ومونډل شوه (مقاله)، لومړیتوب وېبپاڼه (http://lomritob.com/).

۲٦- ډاکټر سنان ایلخان، په التحفة القادرية اثر باندې سريزه، ليکوال: ابن منير، د چاپ زيار: ډاکټر سنان ايلخان، کابل، هلپ سټيډ مطبعه، ۱۳۹٦هـ ش کال.

۲۷- التحفة القادرية، ۱۲ مخ.

۲۸- التحفة القادرية، ۷۰۸ مخ.

۲۹- التحفة القادرية، ۷۱۲ مخ.

۳۰- التحفة القادرية، ۸۴ مخ.

۳۱- التحفة القادرية، ۴۱ مخ.

۳۲- التحفة القادرية، ۱۱ مخ.

۳۳- التحفة القادرية، ۱۴ مخ.

۳۴- التحفة القادرية، ۲۲ مخ.

۳۵- التحفة القادرية، ۳٦ مخ.

۳٦- التحفة القادرية، ۳۱ مخ.

۳۷- التحفة القادرية، ۱۳ مخ.

۳۸- التحفة القادرية، ۷۲ مخ.

۳۹- التحفة القادرية، ۷۱۹ مخ.

۴۰ - حافظ مرغزي، احمدشاهي شهنامه، پېژندنه او تعليقات: علامه اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد، علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷هـ ش کال، کندهار، ۲۵- ۲۷ مخونه.

۴۱- څېړنپوه زلمی هېوادمل، د متن څېړنې میتودولوژي، انتشارات اميري، کابل، ۱۳۹۰هـ ش، ۱۰۳ مخ.

۴۲- http://totfim.com/Books/Details/٦۹۲۲۷

۴۳- http://dictionary.abadis.ir/fatofa

۴۴- التحفة القادرية، ۷۱۰- ۷۱۱ مخونه.

۴۵- التحفة القادرية، ۷۰۸ مخ.

۴٦- التحفة القادرية، ۱۸ مخ.

۴۷- مولانا سید رکن الدین قادري فاضلي، مناقب غوث الاعظم، مهتمم: احسان الله خان دانش قادري فاضلي، خپروونکی: محکمه ثقافت حکومت صوبه سرحد پشاور، پاکستان، ۱۱مخ.
۴۸- مناقب غوث الاعظم، ٦٦ مخ.
۴۹- التحفة القادریة، ۱۳۹ مخ.
۵۰- مناقب غوث الاعظم، ۸۰ مخ.
۵۱- مناقب غوث الاعظم، ۸۱ مخ.
۵۲- التحفة القادریة، ۱۷۱ مخ.
۵۳- مناقب غوث الاعظم، ۹٦ مخ.
۵۴- التحفة القادریة، ۱۸٦ مخ.
۵۵- مناقب غوث الاعظم، ۱۰٦ مخ.
۵٦- التحفة القادریة، ۲۰٦ مخ.
۵۷- مناقب غوث الاعظم، ۱۱۹ مخ.
۵۸- مناقب غوث الاعظم، ۱۳٦ مخ.
۵۹- التحفة القادریة، ۴۲۲ مخ.
٦۰- مناقب غوث الاعظم، ۲٦۵ مخ.
٦۱- التحفة القادریة، ۴۹۵ مخ.
٦۲- مناقب غوث الاعظم، ۳۱۳ مخ.
٦۳- التحفة القادریة، ۵٦۱ مخ.
٦۴- مناقب غوث الاعظم، ۳٦۲ مخ.
٦۵- مولانا عبدالقادر، د حافظ (شاهنامه احمدشاه ابدالي)، ترتیب او تدوین: مشتاق احمد مشتاق، پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي، پېښور، ۱۹٦۵م کال، ۲۰۸ مخ.

# List of Contents

**No Title Author page**


1- The Current Converted Form…..M.Dawod Vafa……...186

2- Short for the lyric poetry…....…Ab.Zahir Shakib..….. 186

3- Pashton magazine the…..…...Azizullah jabarkhil..........185

4- Ashraf Khan Hijri, the great..…Marim Mihan…..…..…185

5- How was the language of...…..Dawod Jonbesh……..…184

6- Analysis and analysis of the ....T/Ah.Salim Rang…...…183

7- Search for good prose………...Fahim baheer……....…183

8- The relationship between…….Shfiqullah Rahmani…...182

9- The need of collecting……….. Khatera shenwary……..181

10- Stages of ascent and……….. S.Asghar Hashmi……....180

11- White poetry is the……….….PHD.M.A.Zyar………..180

12- (Manaqeb-e-Ghowsalazam) and....M.Asif Ahmadzai...179

# The Current Converted Form of Pashto Proverbs

**M.Dawod Wafa**

**Abstract**

Proverbs is an essential part of the folklore in Pashto literature. Most of the Pashtoons are using them while they are talking. Our seniors have discoursed a large number of Pashto proverbs, but it seems that some of these proverbs can be interpreted in contrast to their original meaning. No study has been conducted to explore this specific topic yet. This study is going to investigate the causes that why such proverbs are inferred wrongly.

# Short for the lyric poetry of Ghani Khan

**Abdul Zahir Shakib**

**Abstract**

In modern Pashto poetry Ghani Khan is the figure, who has a special style of poetry, musicians, words and thoughts. He expresses the words of heart concisely and smoothly and this feature has given him a special position in the poetry. Beside the meaningful poetry he has considered the speech music and that have made the poetry more interesting. In this article we tried to study the music of words and explore that Khan's poetry is strong regarding the music of words. We used explanatory method of research to study, explore and presented different examples of his words. We discussed the words' music in the poetry of Pushto mordent philosophical poet Ghani Khan's poetry and presented the different samples of his words. It clarifies that Ghani Khan was a great poet

who could use the words on the correct way and had full attention to the music of words. Lyric beauty is covered in the words, the art of the speech, presenting the subject and meaning in colorful words, integration of thoughts and emotions and meaning in the words and music of sounds is the combination.

---

# Pashtun magazine is heading for awakening

**PHD.Azizullah Jabarkhil**

**Abstract**

In this writing t have blushed discussed the article published in Pashto magazine from standard references where there independency national preaching religions preaching, discovering the realities pomes of the magazine , partial research and suffered and victim nation have seen researched. The gender especially women's right has been highly considered and the related topics about Afghanistan has been discussed in Pashto magazine.

---

# Ashraf Khan Hijri, the great poet of Pashto

**Marim Mihan**

**Abstracts**

In this article, Ashraf Khan Hijri is mentioned in the short life that is the son of Khushal Khan Khattak and is a beautiful dungeon in English.

Ashraf Khan had three sons, Afzal Khan Khattak (Tarikh Morasa writer), and Nadeed Khan and Shamsher Khan are

two sons. Ashraf Khan also passed prisoner like his father and has committed fraudulent acts. He is not in prison, but he has said that every knockout hit his head and grief.

Hijri expressed his love for his sons in his poetry as well as his father Khushan Khan Khattak is very thankful and considered himself his literary school student. Even though Khushk Khattak appeared to be angry, he still praised his father as a big success.

Hijri has also expressed his disappointment in his poems and has been supporting his Pashtuns. Everything of life in her poetry is beautiful.

He talked about many aspects of his father's life, but in the whole, his social and political aspects clearly reflected and when the person goes to his father's life, then his ability and ability at the same time Also look good In addition to using different artifacts in his poem, it is unfortunate that he has given his beautiful colors and colorful colors to him.

---

# How was the language of Pashtun last year?

**Dawod Jonbesh**

## Abstracts

Pashto is a language that has been directed to print publications in the second half of the 1st century and this is done by Siraj-ul-Haq.

By publishing the title "National Literature" in the sixth edition of the year (1917 AD) in the 20th edition, The Pashto graph appeared, and in this edition 7-8 pages, in the form of Mawlawi Saleh Mohammad (Pashto pseudo), is printed in Pashto, which is also considered as the print of the Pashto articles in Afghanistan.

# Analysis and analysis of the spiritual Masnavi

**T/Ahmad Salim rang**

**Abstracts**

Maulana Rah was a scholar of all life and knowledge in the years of life, and a glimpse of various sciences and artifacts at the time, his followers, followers or demons, and ordinary people, like Shamka Patangan, and benefited from him.
As an unidentified Qalandar came to the village named Shamsberiberarah and faced with Maulana Rah, his sunrise sunset and warmed his heart, and all his milk and merchandise.
Maulana Rah is a darling and great beneficiary in the village of Shams village and streets.

---

# Search for good prose paths

**Fahim Baheer**

**Abstract:**

In general, our current prose is divided into two categories in form, both types should be silicone. And its meaning is related to the pleasure; Stratification, simplicity and concept are considered (meaning) to be important features of prose, there are various ways to strengthen it in prose that can be done through practice. The clarity of information is very important in our current prose. Because the author wants to provide only information to readers.

Young writers are needed in the first step to make their prose more accurate and prominent. Because it's important to

provide a clear and Right message to the reader. Harnessing great thought and imagination requires good prose. Select of correct words and regular sentences so important in the prose text. In this article, the same points are mentioned. Each section is provided with the samples for clarity.

# The relationship between literacy and journalism

**Shafiqullah Rahmani**

## Abstract

In fact, literature and journalism are separated, but they have some strong, inseparable principles link relating one section to other. Literature and journalism are incomplete separately. Their fundamental link resource is one and bother originate from the same resource for example; language, text, reading and writing morals, grammar, research, and speech giving. These are such values by which literature and journalism both reach to the maturity level.

Since literature and journalism are strongly related to each other, scholars believe that journalism and literature must be studied separately and each one must be researched and studied in its own position and place. By this reason, we can say that writing itself or writing creation is literature and speech giving, broadcasting is journalism.

# The need of collecting folklore and oral literature

**Khatera shenwary**

**Abstracts**

As the folklore is people,s public property.if this property is of the people is not collected and recorded in every historical stage it will be erased with every passing historical phase.therefore it is imperative to collect this asset and prevent it from banishment.the folklore collection work has been commenced with the coming of mass media to our country.in this portion the name of galum mohi ud din is worth mentioning who was the first afghan to have published pashto proverbs in the pages of siraj newspaper,after that he collected and stored it in other official journals, magazines and books.folklore collection is a need for exposing cultural,social and economic aspect of society,acts habits, and various customs of the people in a society and their recognition can be illuminated by folklore that is why folklore items are needed to be collected and recorded.

It is imperative for folklore materials to be collected and recorded and it can be used as a headache or sources of a written literature. additionally, folklore collection is important for the new generation to be aware of their past tribal habits,acts,customs and emotions.we need to collect them from villages and banks and record them so that they can be prevented from destruction and vanishment.It is not banishment but vanishment in the first part and replace that with vanishment.

# Stages of ascent and descent of research and development

**Sayed Asghar Hashmi**

**Abstract**

In this article, the introduction of research, the upgrading point of research and reasons of declination in the researchers work is discussed. And the periods of improvement and declination and their reasons are discussed.

The relation between research and creation (invention) is clearly described. Do they have link to each other or not? Whether research is important or creation? Why the improvement period of research is known but the improvement point of the creation is unknown? What are the reasons of the research improvement period and what are the reasons of improvement for creation.

---

# White poetry is the prelude to the genre of art

**PHD.M.A.Zyar**

**Abstracts**

It was often said that the illiterate is not a poem, because all the linguists do not implement it, However, some of these things have been so radical, as well as appreciation of poetry

Whereas the literature is a thorough analysis of the story and this problem is not all ages Today, there are other forms in the morning, but at that time I did not create any ideas with this, and my view was that the careless lion will be one of the main characters of the imagination, as it is, and today we And you are all witnesses.

This article discusses the same issues and discussions.

# (Manaqeb-e-Ghowsalazam) and (Attohfatulaqadereya) is one book

**Mohammad Asif Ahmadzai**

## Abstract

A 19th century-based mystic personality and author had written a mystical poetry collection in the second half of the same century. But afterwards, some of the book's manuscripts were found and the culture and literature's enthusiasts and researchers published the collection in two diverse times and named it differently.

This written work has been focused upon this subject to clarify that it was not two but one collection.